# دسپوږمۍ ترکلي

## داوس مهالو افغان ښځینه شاعرانو دشعرونو ټولګه

راټولوونکې : سپوږمۍ نوري

خپرونکي : میرمن کلتوري - ټولنیز بهیر

www.samsoor.com

د کتاب چاپ ټوله حقوق د خپروونکي او دانلائن حق ئې یوا ځي د سمسور پاڼي سره محفوظ دي

# سریزه

په کابل کې د میرمن کلتوري-ټولنیز بهیر په اوونیزه غونډه کې ددغه بهیر یوې غړې اوږۍ امیل د تکړه شاعرې حمیدې پکتیانۍ دغه غزل ولوست:

خیال کې ستا د مخ له تما شې نه وتی نشمه

څرنګه دې رام کړم له اودې نه وتی نشمه
ته خو مې ظالمه کله کله حال احوال پوښتـه
زه خو یـم مجبـوره دروازې نه وتی نشمه

زه لکه معصوم ماشـوم په سرو لمبو کې ګیریمـه
خوار افغانستان یم له جګړې نه وتی نشمه....

ددغه شعر له لوستلو وروسته اجمل تورمان په یوه سپینه پاڼه راته ولیکل ، آیا دا شعر ستادی ، او تا اوږۍ ته ورکړی و ، چې په غونډه کې یې ولولي ؟
ما بیرته ورته ولیکل: یه دا د حمیدې پکتیانۍ غزل و ، اوږۍ امیل پخپله ډیر ښه شعرونه لیکی خو دا شعر ددې او ټولو خوښ شوی و ، ځکه یې دلته ولوست ، پوه شوم چې تورمان صاحب زموږ د ډیرو نورو شاعرانو غوندې په دې خبره باور ونه کړ.
د پکتیا ولایت له یوه کلي څخه یوه بله شاعره د د میرمن کلتوري-ټولنیز بهیر په اوونیزو غونډو کې خپل شعرونه د تیلیفون له لارې وایي ، د هغې د شعر یوه برخه مې ومان نیازي ته واوروله:
دا ژوند مې چې د چا په نوم لیکلی و ، ونه شو
ما هم د لاس په کرښو کې کتلی و ، ونه شو
په تمه ورته ناسته وم ، چې شین به شي لا وور،و
د زړه په مات کودي کې مې کرلی و ، ونه شو
د ومان صاحب دا شعر ډیر خوښ شو ، ویې ویل ښکلی شعر دی ، خو خدای دې وکړي چې دا شاعره په رښتیا هم موجوده وي.او د کوم نارینه شاعر نه وي ، تر ډیره وخته زموږ د یوې بلې تکړه شاعرې بلینډه بدرۍ په باب هم دا ډول نظر موجود و ، ډیرو کسانو دهغې شعرونه نورو لویو شاعرانو ته منسوبول.
ددې خاطره ډولو خبرو له یادولو څخه مې مقصد داو چې د افغان میرمنو د شعرونو په اړه د موجود ذهنیت یادونه وکړم.
د میرمنو د شعر په اړه زموږ په ادبي کړیو کې دا ذهنیت ولي موجود دی؟
د نورو لاملونو تر څنګ یې یو لامل دا هم دی چې ښځینه شاعرانو خپلو ادبي هستونو ته لکه څومره چې لازم دی انعکاس نه دی ورکړی.دوی ښکلي شعرونه ویلي ، کتابونه یې لیکلي خو زیاتره یې خپاره شوي نه دي ، له منځه تللي دي ، دوی د للمي د ګلانو غوندې ټوکیدلي ، خو بیرته ژر خزان شوې دي.

پښتنو میرمنو د نارینه وو په څیر ادبي بهیرونه او فعالې ټولنې نه لرلې ، په کومه یوه نیمه مشاعره او غونډه کې به یې ګډون سمبولیکه بڼه لرله .نه دوی او نه هم بل چا د دوی د استعدادونو د غوړیدو لپاره دایمي او منظم کار کړی دی .ددوی په نامه ډیرې ټولنې جوړې شوې دی خو د ځینو د ګټو قرباني شوې دي.ددوی ټول ویاړونه یو دوو تنو خپل کړي دي.

که نه وي لنډۍ چې زرګونه کاله مخینه لري او د یو شمیر فولکلور پیژندونکو په باور زیات شمیریې میرمنو ویلي دی او د نازو آنا کابو دری دری نیمې پیړۍ دمخه را پاته څلوریزه یې هغه بیلګې بللی شو چې د هیچا په ذهن کې دافغان میرمنو د وړتیا په باب د شک ځای نه پریږدي.

په کابل کې د یو شمیر وطنپالو او با احساسه نجونو او میرمنو هڅې یوې ساهرې شریف، لینا شریفي، دل افروز ځیرک ، طوبا ندا ، فریبا ظاهر، حمیرا کاوون ،اینجنیرې راضیې نعیمی، خاطره اسحاقزی، راحلې نوري، الینا راسي او یو شمیر نورو میرمنو په ګډو هڅو او نوښت او زموږ د زمانې دیوه خواخوږي ، وطنپال او صادق انسان تکړه لیکوال ډاکټر صاحب خوشحال روهي په صادقانه مرستو میرمن کلتوري-ټولنیز بهیر او بیا وروسته د هیواد په ولایتونو او اوله هیواده بهر د داسې بهیرونو جوړیدل هغه ستر تاریخي ګام و ، چې که خدای(ج) کول له دې وروسته به پښتنې میرمنې هم د خپلو وروڼو په څیر وکولای شی دخپلې ژبې او ادب په بډاینه کې څرګنده او زیاته ونډه ولري او دا اوسنی موجود ذهنیت به بدل کړي.

دغو خویندو دداسې بهیرونو په جوړولو سره کلک هوډ کړی دی چې بدلون راولي ، ددې بهیر له جوړیدو وروسته په لږه موده کې ستر بدلونونه هم راغلي دي. میرمن بهیر په مرکز او ولایتونو کې منظمې اوونیزې غونډې لري ، په ادبي ژانرونو کره کتنې کوي ، کتابونه لیکي او خپروي یې ، او د ښځو د وړتیا لوړولو په مهو عملي پروژو کار کوي د میرمن کلتوري-ټولنیز بهیر د اوونیزو غونډو تر اغیز لاندې یوازې په کابل کې ۳۴ نجونې د لیکوالې او شاعرۍ ډګر ته نوې را وتلې دی او د هرې ورځې په تیریدو سره یې شمیر زیاتیږی.

دغه کتاب چې ددې بهیر د یوې تکړه او هڅاندې غړې لیکوالې او شاعرې سپوږمۍ نوري په زیار چمتو شوی دی ددغو میرمنو د شعرونو یوه کوچنۍ بیلګه ده.

اوس هم لا ډیرې نجونې او میرمنې شته چې لیکنې کوی ، د تیلیفون پر کرښه د میرمن بهیر په غونډو کې شعرونه لولي خو د خپلو شعرونو او لیکنو د خپرولو تابیا او اجازه نه لري او لا خو زموږ په ولسوالیو او کلیو کې شته داسې ډیرې لیکوالې او شاعرانې چې لا تر اوسه ددغو بهیرونو وړانګې تر هغوی پورې نه دی رسیدلې او په دې کتاب کې یې د شعرونو نمونې نشته.

سپوږمۍ نوري ددغه کتاب دشعرونو دراټولولو لپاره دوه میاشتې پرله پسې کار وکړ چې دغه خدمت یې د ډیرې ستاینې وړ دی.

په دغه کتاب کې د افغان ښځینه شاعرانو په زړه پورې شعرونه را ټول شوي دي. د ښځینه شاعرانو په شعرونو تل دا نیوکه وه چې ویل کیدل د دوی شعرونه د نارینه شاعرانو د شعرونو کاپي دي ، له حسینه ګل تنها پرته دنورو ښځینه شاعرانو شعرونه د دوی دخپل احساس بیانوونکی نه دی ، که یې نوم ترې لیرې کړای شي هیڅوک نه پوهیږي چې دا د یوې ښځینه شاعرې شعر دی او ددې تر څنګ دداسې نورو نیمګړتیاوو یادونه به تل کیدله ، خو که اوس څوک ددغوشاعرانوشعرونه ولولي ، څرګنده به شي چې څومره زیات بدلون پکې راغلی دی ، زه یوازې یو څو کوچنۍ بیلګې دلته را اخلم:

کونډه

زما د مړه مېړه له مړينې

څلور مياشتې او لس ورځې تېرې

مور مې بيګاه راته ويل

تېزې جامې مه کوه

په حويلۍ کې په لوړ غږ باندې خبرې مه کړه

شونډې دې وچې ساته

وېښته ځپوله پرېږده ...

پام چېرې سترګې په رانجه چې نه کړې

هغه دې نه دي اوربدلي چا نه

کونډه، چې سترګې توروي

زړه يې مېړه غواړي....      تر پايه

د آغلې پروين ملال د غه بل شعر وګورئ :

دوهم واده

که راته وبښي ټول ستوري د لمرو په شانې

او اوبه راکړي د سپوږمۍ د چينو

جامې مې جوړې د حرير او شبنم

شونډو ته رنګ د مرجان

د سترګو تور مې وي د يو زرو شپو

لاس ته باهو د هالې

شور د کونګرو د جنتي سندرو

مخ ته رڼا د نور د غره ځينې

د غاړې هار مې د بوډۍ له تاله

د غوږ لښتۍ مې د پروين او د زهرې له ځوکو ......

..... زما د هستۍ زما د ښايست بها به څوک وټاکي

زما خاوند زما مېړه زما تفسير د حسن

بيګاه د بل چا په پالنګ ختلی

او ما ته نه راګوري

ځکه هغه

دوهم واده کړی دی.

ددغو لاندې بيلابيلو شاعرانو د شعر له څو کوچنيو نمونو څخه د ميرمنو د شعر د پختګي درک لګيدلای شي:

...خدايه ته مې داسې دجانان زړه کې راشنه کړې چې
ټول عمر له دغې ايينې نه وتی نشمه
او ځمه له ځانه له جهانه لرې لاړه شم
ګرانه ستا د خيال له دايرې نه وتی نشمه

*

په کور مې ګرځي تور کارغه د جانان زيرې راوړي
ښکاري چې بيرته په وطن د امان زيری راوړي
چې ورته ترې ومه زه له ډيره وخته په ژوند
د سباوون راته دزړه د ارمان زيرې راوړي

*

څه دې ياد مخې ته راغې، څه وه لاړه ورانه

څه مې ژبه ټکنې شوه څه مې ولوستې جانانه

ستا به ستوري هم را پريوزي ، ستا به لمر له غيبې ورک شي

که دې غم زما په شاني چيرته يوړلو آسمانه

بس نظر يې هم کافر دی ، مستانه يې ټول وجود دی

زما مينه هم هغه ده، ځکه تا غواړې ايمانه

*

ستا د ژوند کاروان سره چې مله نه شوم

سُر نه شوم، سندره او ټپه نه شوم

ويني ويني ټنده په سجدو مې کړه

خدايه پاکه بيا هم پرښته نه شوم

(( ناسته يم له کور څخه راوزم نه

ځکه پښتنو ته پښتنه نه شوم ))

*

لاس بې رسي ان تر ستوري دنګ ولاړ دی

بیا مې خیال په سندریز ګړنګ ولاړ دی

بوله مه چې به زلمي ور پسې پاڅي

انقلابه، جینکو ته جنګ ولاړ دی

هر غزل مې لکه زیږ پښتون د غرونو

ځکه هوش دی ورته لوتی رنګ ولاړ دی

زما له سل ملالو ډک درانه نظر ته

ستا نظر لکه زخمي پېرنګ ولاړ دی

یا:

کله چې مې سترګې د لومړي ځل لپاره خلاصې کړې
انې مې چیغه وکړه
پلار مې په قار شو
مور مې وژړېده
او نورو
ناڅاپه دا پوښتنه وکړه:
"بیا یې لور وزېږوله؟"

*

اوس زمانه د مینتوب د مینو نه ده پاته
اوس زمانه د مهربانه زړونو نه ده پاته

چناره مه ژاړه غوغا مه کوه
د خپلو څانګو په یاد ویر او واویلا مه کوه

له دې نا ترسه خلکو مه پوښته ګیلې مه کوه
ژوندون ظالم دی تیروه یې اند یښنې مه کوه

دغه بيتونه مې له مخې ته پرتو شعرونو څخه په تصادفي ډول را واخيستل ،په دې کتاب کې به تاسې د ميرمنو د اوسنۍ شاعري ښکلې او ډيرې په زړه پورې بيلګې ولولئ ، قدرمنو خويندو ته دژبې او ادب په برخه کې د لازياتو بريو هيله کوم ، هيله مند يم په نږدې راتلونکې د دوی د نظم او نثر د نورو لا ښو اثارو د خپراوي شاهدان واوسو.

علم ګل سحر

کابل – څارندوی مينه

د ۱۳۸۷ کال د سلواغې ۲۲ نيټه

1. ادیبه ادیب
2. آریا حافظ
3. آریانا حقپال
4. انیسه حسن خیل
5. اوربې امیل
6. بلینده بدرۍ
7. بهشته مینه افغان - غزنی
8. بهادره وردګ
9. پروین فیض زاده ملال
10. پلوشه ځلا - غزنی
11. تورپېکۍ الم
12. جمیله ګران
13. حسیبه شهید
14. حمیده پکتانۍ
15. حمیرا کاوون
16. خاطره اسحاق زۍ
17. خماره قریشی
18. ځلا زرمتۍ
19. درخانۍ هوسا
20. رحیمه پشتونجار
21. روشنا وردګ
22. رڼا مومند
23. زرپاڼه همپا
24. زرلښت حفیظ ملکزۍ
25. زرغونه توخي
26. زرغونه رحمتي
27. زینب مصباح سالک
28. سارا کاوون
29. سپوږمۍ -
30. سوسن نایل
31. سوله نیازۍ
32. شایمه ذهین
33. شریفه نوري
34. شکریه خروټې
35. شکریه مرهونۍ
36. شګوفه مینه

37. ش ، ل
38. ښکلا پکتیاواله
39. عارفه بهارت
40. عارفه نورکلي
41. عالیه وردګ
42. عابده وردګ
43. فرحناز رحماني
44. فرشته امرخیل
45. فریده هوډ سیفي
46. فضیله مروت
47. کامله طاهر
48. لطیفه وردګ
49. لطیفه لالهاند
50. مرغلره بابۍ
51. مژګان
52. مسکان خونابي الفت
53. معصومه مینه
54. ملالۍ همدم
55. مینه منګل
56. مینه صابر وردګ
57. نبیله غزل
58. نظیفه شاه
59. وحیده وردګ
60. نظیفه شاه
61. نفیسه کوچۍ
62. ورښمینه سعادت
63. وږمه سباعامر
64. ولوله تنها
65. ویدا حافظ

## ادیبه ادیب

ادیبه ادیب د ډګروال مړني ساپي لورد عبد الجلیل ساپي لمسۍ په ۱۳۷۰ لمریز کال کې د کابل په ښار کې په یوه درنه روڼ انده اودینداره کورنۍ کې زېږېدلې ده. په اصل کې د کاپیسا ولایت د تګاب ولسوالۍ ده.

ادیبه ادیب دلیکوالۍ ترڅنګ ښه رسامه هم ده. اغلې ادیب وایي شعرونه مې ډېر خوښېږي او په همدې خاطر د ګڼ شمېر شاعرانو ټولګې له ځانه سره لري. اغلې ادیب لاهم په ښوونځي کې زده کوونکې ده او له لومړي ټولګي تراوسه پورې چې نیږدې فارغېږي دخپلې لیسې ممتازه زده کوونکې او تراوسه پورې په لومړې درجه مختته تللې دی.

اغلې ادیب له ادبیاتو او مطبوعاتو سره مینه لري، د پښتوژبې تکړه ویانده ده او کله ناکله ځنې پروګرامونه هم پرمخ بیايي .اغلې ادیب اوس مهال شعر لیکلو ته هم مخه کړې دی.

دا یې هم د شعرنمونه:

غزل

ستا د جدائې نغمه خوره چې شوه

ویسولم اور لمبه لمبه چې شوه

اوښکې ستا وې ستوري مرغلرې وې

هریوه ګریوان ته میلمنه چې شوه

مات زړګې مې مات ټوټې ، ټوټې شولو

ځاځکې اوښکه من ځینې درنه چې شوه

ستا ښه اداء غږتل په ما شوي ؤ

بده راپیدا بیلتون شببه چې شوه

## آریا حافظ

آریا حافظ د اسد الله حافظ لورپه ۱۳۶۲ لمریز کال کې د ننګرهار ولایت کې زېږېدلې دی .

اغلې حافظ د کابل په ښار کې د طبي علومو له انسیتیوت څخه فارغه شوې او اوس په شمشاد ټلویزیون کې د ویاندې او پروډیوسرې په توګه دنده ترسره کوي.

دا هم د اغې حافظ د شعرنمونه:

بې وفا یار

دا ډیر کاته د مینو ب اغازدئ

د زړه درزا دلیونتوب ګذاردئ

اشنا په برګو راته مه راګوره

مینه ګناه نه ده زړه پرواز دئ

زړه مې بایللې ستا په مینه آشنا

ستا په کتوکې مې د مینې رازدئ

چې یې خوبونه په رښتیا بدل کړي

د عاشقانو ترمینځ رازونیازدئ

داستا په مینه باندې پایم یاره

اې کبرجنه د ستا څومره نازدئ

آریا راشه بې وفا سره څه کړې

بې وفادی بې وفا وسره ساې دی

۱۳۸۷/۱۲/۲

دوطن زلمو ته

باخبرکه موتاریخ نه هریو ځوان شي

بیا خبربه د خپل ځانه او جهان شي

لوړ اوچت به مو بیرغ وي په ملکو کې

په جهان کې به اوچت سر د افغان شي

ننگ غیرت که د نیکونورا ژوندي کړو

را په برخه به نیک نوم د قهرمان شي

که پشتون ازبک بلوڅ اوهزاره دئ

هم ترکمن تاجک په یوه لاره روان شي

د وحدت لاسونه ورکړي یو او بل ته

په یووالي د یوه باغبان گلان شي

د اریا ارمان به هلته شي تر سره

چې اباد مو د ا وطن افغانستان شي

# آريانا حقپال

آريانا حقپال د پوهندوي دکتور محمد اجان حقپال لور د الحاج محمد اکرم خان لمسۍ په ۱۳۶۷ لمریز کال د لړم د میاشتي په شلمه نیټه د پنجشنبي په ورځ د پېښور پوهنتون ترځنګ د دانش آباد په کلي کي زیږېدلي اصلي ټاټوبی يې د لغمان مرکز(پشه يي نومی کلی ) دی، په قام حسین خیله اوس په کابل کي د اتمي حوزي ترځنګ رحمان مېنې کې میشته دی. په ۱۳۸۲ لمریز کال کې د پیښور د مهاجرينو له ښوونځي (د حضرت بي بي خديجې الكبرى عالي ليسې ) څخه فارغه او دا باید وویل شي چې د ښوونځي له پیله تر پایه پورې په لومړۍ درجه او ممتازه ذده کوونکې وه.

د دي ترڅنګ يې ديني مدرسه هم تعقيب کړې ده، په کال ۱۳۸۳ لمريزکې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي پښتو څانګي ته شامله او په ۱۳۸۶ لمريزکې ترې په لومړۍ درجه فارغ التحصيله شوه.

د اداري او منجمنت شپږمیاشتنی کورس یې دافغانستان د اداري اصلاحاتو او ملکي خدماتو په انستیتوت کې په کال ۱۳۸۷ لمریزکې ترسره کړی او په نوموړي انستیتوت پورې اړوند د ښووني او روزنې د وزارت په یوه ریاست کې یې د ستاژعلمي زده کړې لپاره دنده ترسره کړه. د زده کړو په دې اوږدو کې يې تحسين نامې هم ترلاسه کړي دي. او د پوهنتون ديپلوم د جمهور رییس ښاغلي حامد کرزي په لاس ورکړل شوی دی .

د زده کړې په ترڅ کې یې بیلابیل مضامین لیکلي او ژباړلي دي چې څه ناڅه يې په جرايدو او مجلاتو کې خپاره شوي او لا خپرېږي . د ژباړلي په برخه کې بايدوو يل شي چې زياتره له دري پښتو ته ، له پښتو ژبې دري ته ،له اوردو ژبې او یو نيم له عربي ژبې څخه دري ته ژباړې کړې او چاپ ته رسيدلي دي.

کله کله يې په ځانګړو سيمنارونو کې ګډون کړی او کله يې هم د انانسرې په توګه دنده ترسره کړېده. له شعر او شاعرۍ سره هم ډیره مینه لري. او دګوتو په شمېرڅه مات او ګوډ شعرونه يې هم ليکلي دي. او د پوهنځي په دويم ټولګي کې يې په شعر ليکلو پيل کړی دی.

دا يې هم د شعر نمونه:

ته زمايې!

ته په هرلوري موجود يې

لټوم دې ولې تل

نه پوهيږم څه راپيښ دي

نااشنا شو اشنا دل

ما ويل چې ته زمايې

د زړه سترګو مې کتل

لرې لرې ېې له مانه

که زه یم په فکر بل

هسې بریښي چې مې مینه

رانه ورکه په کابل

زه یم ستا اې زما ربه

ما نژدې کړه ځان ته خپل

په خپل یاد مې لره بوخته

ځان نه غواړمه غافل

ستاثنا ته تل چمتویم

ژبه ستا په یاد بلبل

چې د کفر په تیارو کې

روڼ سهار شمه فاعل

جذبه راکړه د ایمان ته

( ډیوه ) محوه کړه باطل

دغاړې هار

اشنا مخ راته نه ښايي دا څه چار دی

پټ په غوږ کې راته وايي دامې يار دی

د وصال لاره بې لرې نه پوهيږم

توري دښتې ،غرې وريځې ، اغزن لاردی

دا دخولې خبرې نه دي چې بې اورئ

له زړګيه راوتلی يو انګار دی

بې له ياره مې ښايست په جهان نه شته

اشنا ياد چې مې اميل د غاړې هار دی

ربه ! دغه مې دی سوال له بې قبول کړې

مينه مينه مې بې ټوله دا مې کار دی

څلوريځه

حيا کې لوړ وي تل مقام د ښځې

بې حيايي وي بد انجام د ښځې

خوله د جهان شوه له فساده ډکه

وساته خدايه ننګ او نام د ښځې

# انیسه حسن خیل

انیسه حسن خیل د عبدالباري غیرت لور د  میدان وردګو ولایت د شنیزسیمې د حسن خیلو او سیدونکې په ۱۳۵۲ کال په کابل کې زیږیدلې ده او په ۱۳۵۸ کال یې له کورنۍ سره پیښور ته هجرت کړی.

لومړنۍ او منځنۍ زده کړې یې د پیښور جوګیو اړه لیسه کې او لوړې زده کړې یې په پیښور پوهنتون کې سرته رسولې دي. له پیښور پوهنتون څخه یې بي اې سند ترلاسه کړی دي. انیسه حسن خیل په شعر او نثر دواړو کې ښه لاس لري او سربیره په خپلې مورنۍ ژبې په اردو کې هم روان او خواږه لیکل کوي او وختنا وخته له انګلیسي او اردو ژبې څخه ژباړې هم کوي.

د دې لیکنې د سهار، وحدت، ګندهارا ، ابلاغ خپرونو کې او اردو لیکنې یې په مشرق ورځپاڼه کې خپرې شوې دي همدا ډول یې لیکنې او شعرونه په هیله ، ګندهارا ، ګوربت ، ګودر او ځینو نورو مجلو کې هم چاپ شوي دي .

انیسه حسن دغه اثار لري:

د کلي افسانه ، شعري غونډ چاپ ته تیارز

برخلیک ، د مقالو او نثرونو ټولګه.

دایې هم د شعرونو بېلګه:

غزل

زخمونه نوي نوي او دردونه نوي نوي

په دې دنیا راغلي دي غمونه نوي نوي

ناري مې ډېرې وکړې خو ته پوه نه شوې زړګیه

اوس وو ایه چې زده کړم اوازونه نوي نوي

زما او ستا په منځ کې خو پخوا هم فاصلې وې

خو اوس دي ودریدلي دیوالونه نوي نوي

ژړا او اسویلو ته مې پام نه شو د هیچا هم

نو ځرنګه زه وباسم آهونه نوي نوي

دا عهد مې دی کړی که ته راغلې اې جانانه

نو ستا په خوشالۍ به کړم سازونه نوي نوي

زه وایم انیسې ګوندې د مخه منزل ستا شي

خو هره خوا چې ځي خورې تیندکونه نوي نوي

## اوږۍ امیل

اوږۍ امیل د عبدالظاهر لور په ۱۳۴۲ هـ ش کال دلغمان په ښکلی ولایت کې زیږیدلې لمړنۍ زده کړې یې د کابل د خوشحال خان مینې د سپین کلي په لیسه ، منځنۍ زده کړې یې دافشارو په منځنۍ ښوونځي کې او د مریم د عالي لیسې څخه په کال ۱۳۲۲ کې فارغه او د کانکور له ازموینې وروسته د ځمکې پیژندنې پوهنځي ته بریالۍ او په کال ۱۳۲۲ کې له نوموړي پوهنځي څخه فارغه شوې ده. په کال ۱۳۲۷ کې دانیستیتوت تحقیقاتي کیهاني کې چې د جیودیوزۍ او کارتوګرافۍ ریاست څخه یو ریاست دی په کار پیل وکړ، ورسته د درې کالو د یونسکو په ملي کمیسیون کې یې خپلې دندې ته ادامه ورکړه ورسته د ښوونې او روزنې د ثانوي تدریساتو په ریاست کې د علمي غړې په توګه په دنده وګمارل شوه. بیا یې درې کاله په کلید راډیو کې د پښتو نطاقې او پردیوسرې په توګه یې کار وکړ او تر هغه ورسته دوه کاله مې د اریانا راډیو تلویزیون کې دنده ترسره کوله او اوس په ملي تلویزیون کې د شومه دم انګازې خپرونه پرمخ بیایي.

داهم داغلې اوږۍ امیل د شعر بیلګه:

د اوښکو باران

وخت چې زما هیلونه لاسونه په سر واړول

ماهم له دې غمه ډک جامونه په سر واړول

مانه په ژوندون کې د نجات ساحل چې ورک شولو

ما دغم دریاب کې طوفانونه په سر واړول

دا ماشوم زړګی چې مې زندان ستا دغمونو شو

ما پدې زندان کې ځنځیرونه په سر واړول

خوب ارام چې لاړستا له غمه زما سترګونه

ماپه تورو شپو کې شوګیرونه په سر واړول

تاکه مې دګل غوندې نازک زړګی زخمي کړلو

ماهم دغاټول غوندې داغونه په سر واړول

خیر دی که امیل شوم اودغم غاړې ته ولویدم

ګوره چې مې څنګه فریادونه په سر واړول

راته وخانده

اې زما دمينې مسته ليونيه

ته پوهيږې ؟

چې زما د زړه په کورکې

يوه نوې رنګينه غوندې وږمه په چليدو ده

زما دهيلو مړاوې شوې غوټۍ بيا په غوړيدو ده

راته وخانده په مينه

هسې شانې

چې د درد اود غمونو له ماښامه رابهر شم

دغزلو اوسندرو

په ښايسته غوندې انداز کې

ستا د زړه محل ته درشم

راته وخانده په مينه

هسې شانې

چې زه تانده سده غوټۍ شم

ستا اميل شم ستا اوربۍ شم

يوه مسته ليونۍ شم

# بلینده بدرے

آیتونه حدیثونه

لښکر به څنګه جوړشي؟

زه شوم غلي سر مې ټیټ کړ

نه زارۍ بې کړې قبولې

نه هم داسې کوم ځوابو

نه کوم تورۍ د تسل و

آیتونه ،حدیثو نه

ټول له سره بې په یادوو

دی په تلو وما کړې پورته

ډکې سترګې بې تر سترګو

دا په ژوند کې لومړی ورځ وه

چې مې اوښکې په غمبورو

دامنظر خو مخکې نه و

چې دی مسک اوزه به ژاړم

زما ټول غرورراټول و

په نو عمره شان مسکا بې

لکه څوک یا غې جنګجو چې

پرهرژلی شې بې وسه

تیره توره په اورمیرېږي

څوک یا غي سالارور کیږدې

## غزل

وږمې د سپين سحربس پو کولې بلېنډې
د ژوبل انتظار مې مړکيدلې بلېنډې

تصوير به يې ستا ښکل چې و داسې په مستی وي
په مخ مې نن د اوښکو نڅيدلې بلېنډې

قبول چې مې پرې سوال شو نو له هاغې ورځې تل به
زيارت کې واړو جونو ګرځولې بلېنډې

ډولی وه ، جنازه وه ، که له جنګه مات لښکرؤ ؟
له ورا يې منډ هير کې ښکاريدلې بلېنډې

شهيد ماشوم ته واړه پريښتې په هر کلي وي
د ستورو چې اسمان کې رپيدلې بلېنډې

يا شپه د پينځلسې وه ، يا خو ستا د راتلو غږؤ
په هره لار د چم چې بليدلې بلېنډې

## غزل

راوړی چا په تا ایمان دئ او چا نه دئ

اې مینې ، چا منلی دې قران دئ او چا نه دئ

دعوه د لیونتوب خو ډیرو کړی پدې چم کې

خو ځیرې چا ټټر او بیا ګریوان دئ او چا نه دئ

بس کاشکې چې د ټولو ژړو زور د رباندې بر وای

غربته چا خلاص کړی درنه ځان دئ او چا نه دئ

خوښ کړې نو دنیا به وې د مینې هر پړاوو خو

ژباړلې چا د خپل سر په تاوان دئ او چانه دئ

بیعت خو د سندرو سره ټولو خلکو کړی

خو ځان چا رسولی تر(رحمان) دئ او چا نه دئ

تصویر بې که هر څو دې د غزل سترګو کې اوسې

لیدلې (بلینډې) چا دې ارمان دئ او چا نه دئ

دژوند ملګريه

هئ ، زما دژوند ملګريه!

د ماښيو په ښارو کې

هاغه ورځ به هم ته ورک وې

چې مې جوړه کړې همزولې

لکه ناوې د پريو

راخورې مې چې کړې زلفې

په تندي مې ټيک ځوړند کړي

سور پيزوان کړي را په پوزه

دنريو وروزو مينځ کې

د کاجلو خال راجوړ کړي

را په غاړه کړي هارونه

د نرګسو ، د رامبيل

سور سالو را باندې خور کړې

غبرګ ځوندې د لونګينو

وار په وار باندې شيندي

خوشبويې د ګلابونو

له هر خوا را باندې اوري

زيړې ، سرې د ګلو پاڼې

لوی واړه راپسې ژاړي

سره په وينو دنګو جونو

په وهلو خپل تندی وي

وهم پروت به وي په کلي

ساه به الوتې وي له لارو

ته به نه وې ليونيه

څو ډولۍ به مې د ژوند وي

ستا له روڼې دنیاګۍ به

ما همیش وې سترګې پټې

ته به ورک وې .... بس همداسې

د ماهیو په ښارو کې

د زیږو ځنو دنګو دنګو

جینکیو په ښارو کې

هلته لرې په صحرا کې

د ریګونو په موجو کې

چې یې سر دې له اسمان سره ښښتې

ها چې لارې پکې نیشته

ها چې پلونه پکې تښتي

ها چې سرې لمبې راووري

ها چې مرې پکې له تندې

ځل وهلې سرابونه

ها چې ساه د خاموشۍ ده

پکې وتې له هیبته

ها چې نیشته پکې ننبه

د ژوندون د یو شېبې هم

پکې وچ ککړ ولاړ چې

مات ډنډغر د ریږي ګل و

ورک نری شان بې سیوری

نو......

ستا د تلو نه پس مې ګرانه

ستا د بیا د لیدو هیله

بس هماغلته دفن کړه

بهشته مینه افغان

اندیښنه

په زړه یوه لګه اندیښنه راسره

ان له هغې ورځې ګرځې چې

دمور په شونډو مې موسکا ولیده

او د مور دزړه په در زاوپوهیدم

دې اندیښنه مې زړه اوبه اوبه کړ

لکه چې واوره شي په لمر کې اوبه

که مې دمور سیوری له لاسه ورکړ

مه تښتوه

زما له شونډو خندا مه تښتوه

له اننګو مې ښکلا مه تښتوه

کتاب قلم زما دګوتو زیور

له ما املا او انشا مه تښتوه

دومره پوهېږم دامې حق ده ګوره

حق مې په زور ته له ما مه تښتوه

ته خود علم په لارځې تر جنت

بیا له هم دا وړیا مه تښتوه

ګل که ښایست لري په خپلو پاڼو

خو ترې د پرخې ځلا مه تښتوه

سبا به ته راته اشنا وایې څه

د سر پوړنی مې بیا مه تښتوه

# بهادره وردګ

بهادره وردګ دغلام حسن شيدا لور او د محمد امير لمسۍ ده او په ۱۹۸۷ کال کښې دزابل ولايت دکلات په ښکلې ښار کې زيږېدلې ده او اصل کښې ميدان وردګ ولايت او دهفت اسياب د سيمې ده. او اوس دکلات په ښکلې ښار کښې ژوند کوي او د ډاکترۍ مقدسه دنده ترسره کوي د بهادرې وردګ شعرونه په ښکلا او ګودر مجلو کې چاپ شوې دي:

داهم داغلې بهادرې دشعر نمونه:

غزل

په کورمې ګرځي تورکارغه دجانان زيرې راوړي

ښکاري چې بيرته په وطن د امان زيرې راوړي

چې ورته ترې ومه زه له ډيره وخته په ژوند

دسباوون راته د زړه د ارمان زيرې راوړي

کوم چنارونو دګودر په غاړه اور اخستی

دګلورين سپرلې د پاره اسمان زيرې راوړي

چې د پيړيو پرهرونه مو راوګنډي سم

دقسمت ستورې دسپيڅلې درمان زيرې راوړي

لاسونه مه ښکلوئ خلکو دبې دينو بيرته

بهادرې تاسوته دښکلې قران زيرې راوړي

غزل

زما د پاره يو جهان يې ته به نه يې خبر

له ستورو ډک راته اسمان يې ته به نه يې خبر

د سترګو توره صدقه دې شم د مينې په نوم

د زړه په کور کې مې جانان يې ته به نه يې خبر

پر ما ګواه د ښوارلسم سپوږمۍ پوښتنه وکړه

زخمي زړګی ته مې درمان يې ته به نه يې خبر

په هغه ځای کې د سپرلي ګلونه وغوړيدل

په کومه لاره چې روان يې ته به نه يې خبر

زه بهادرې دی زړه چاودی کړمه کله راځې

د کور څراغ يې زما ارمان يې ته به نه يې خبر

غزل

داسمان ستورو ته لاسونه په دعا ونیسم

زانې راځي په کلي فال ورته اشنا ونیسم

چې اولادنه دي په کور کې راته پرېښودلو

ځکه رنې ، اوښکې په لپو کې زما ونیسم

ته به یې وګڼي چې سم راته دروغ وایي دا

زخمي وجود ته دواړه لاسه په رښتیا ونیسم

چې دلته ګرځي دسپلۍ لیوان په زېږمازدیګر

دکوم طرفه ورته مخه دبلا ونیسم

## غزل

زما دژوند کتاب ته ګوره در معلومه به شم

د روڼ تندي جواب ته ګوره در معلومه به شم

وماته زړه کې ليوني خيالونه مه ويده وی

دا پښتنې حجاب ته ګوره در معلومه به شم

دخپل ناموس حيامې نغښتې په پرونې کې ده

دحقيقت حساب ته ګوره در معلومه به شم

زه دمظلومې په غم کې اوښکې څڅومه مدام

تناکې زړه خوناب ته ګوره در معلومه به شم

يو څوک به وواييې زما دغم سندرې پکې

دژوند نغمې رباب ته ګوره درمعلومه به شم

چې ملا تړ دهر رنځوره سره کړمه په جار

دستومانۍ عذاب ته ګوره در معلومه به شم

دچا په څله لاسونه نه شمه نيوی بهادرې

پټ دجهان حساب ته ګوره در معلومه به شم

## غزل

دژوندون پانه رژېده ور باندې وژړېدم

زندګي غم کې تیریده ورباندی وژړیدم

یوه انجلۍ می لاتراوسه زړه کې اوسي خدایه

دموره لری ودیده ور بندی وژړیدم

بې پامه ما مخ په هنداره کې سهار لیدلی

څهره مې نوره بدلیده ور باندی وژړیدم

دا دوطن زلمي دښمن ته ماتې نه ورکوي

پښتنه پیغله ژړیده ورباندی وژړیدم

دګلاب رنګ راته په وینو باندی سور شو ځکه

دګودر غاړه رنګیده ورباندی وژړیدم

ماښام په کلي کې په توره شپه جابره ګرځي

چورلکه ډیره ګرځیده ورباندی وژړیدم

زه بهادوري ورته دمینې فکر وړی یمه

شمع له غمه ویلیده ور باندی وژړیدم

# پروین فیض زاده ملال

پروین فیض زاده ملال د اروابناد حاجي عبدالشکورخان پوپلزی دراني لور د ۱۳۳۲ لمریز کال سلواغې په یوولسمه په کندهار کې یې خپلې زده کړې پای ته رسولې دي. شپاړس کلنه وه ، چې شعراو شاعرۍ ته یې مخه کړې ، پخپله په دې اړه وایي:

))دومره مې یادېږي ، چې له ډېر وړوکوالي څخه مې له شعرونو سره مینه درلوده. کله کله به مې د سندرغاړو سندرې د درس په کتابچو کې لیکلې((.

دا هغه وخت و ، چې طلوع افغان په کندهار کې خپرېده او ښځو شاعرانو د شعرونو دخپرولو زمینه یې مساعده کړې وه. پروین ملال همدا چې خپل لومړنی شعر ولیکه ،

هغه یې همدې ورځپاڼې ته ورکړ او چاپ شو :زما اول شعر چې اوس مې هم په یاددی ،ډېر نیمګړتیاوې درلودلې هغه ما هغه وخت په کندهار کې دطلوع افغان خپرېدونکې ورځپاڼې ته وروړ او هغوی چاپ کړ. زه اوس دانه شمه ویلی چې هغه شیبه څومره خوشاله وم ، ځکه هغه خوشالي ما په ټول ژوند کې نه احساس کړې وه او نه به یې احساس کړمه .

پروین ملال دغې ورځپاڼې ته دخپلو شعرونو او ادبي لیکنو لېږلو ته دوام ورکړ او دهمدې

همکارۍ او خپل ښه استعداد او پوهې له کبله په ۱۳۵۴ لمریز کال دطلوع افغان دهنري او ادبي پاڼې مسؤله وټاکل شوه او تر۱۳۵۷ پورې یې دادنده ترسره کړه. په ۱۳۵۹ کې افغانستان راډیو ته راغله او پوره لس کاله یې د دغې راډیو په بیلابیلو څانګو کې دپروډیوسرې په توګه دنده ترسره کړه. په ۱۳۶۸ لمریز کال کې پېښور ته او له هغه ځایه کراچۍ ته لاړه او دادی هلته اوسي ، پروین په ۱۳۶۲ لمریز کال کې لیکوال او کره کتونکي اروښاد سید جان ملال سره واده وکړ، خوددغه ژوند سفر ډېر کم و ، ځکه په ۱۳۵۸کې سید جان ملال په ناڅاپي ډول ومړ او دایې د درد سیوري ته یوازې پرېښوده .

پروین فیض زاده ملال هم شاعره ده او هم لیکواله، ګڼ شمېر مقالې او شعرکتابونه یې چاپ شوي دي. په ۱۳۶۲ کې یې د اوښکو تصویر وکېښ ، ورپسې یې د هجرت په شپو کې تبجنې سپوږمۍ ته وژړل او بیا یې سپوږمۍ په ځنګل زارکې انځور کړه. داچې دشعر مینه وال یې ډېر او دا دري کتابونه یې په بازارکې نه پیداکیدل ، نو دخزان طلایي پلونو یې پل کېښود او دري سره ټولګې یې دخزان طلایي پلونو په نامه ټولګه کې سره یو ځای کړې. دا ټولګه دانش خپرندویه ټولنې په ۱۳۷۹ کې چاپ او خپره کړه. پروین ملال ،

کیسه لیکواله هم ده او د سپیني پاڼې په نامه دکیسو یوه ټولکه یې دچاپ په ګاڼه پسولل شوې دی.

داهم داغلې ملال دشعر نمونه:

## دغم کوخه

غم ته مو دغم کيسه لاپاتې ده

شپې ته دتورتم کيسه لاپاتې ده

زما په وچ ګريوان پسرلی رانغی

سترګو ته دنم کيسه لاپاتې ده

دلته دترنک ځپو بندی کړمه

هلته دصنم کيسه لاپاتې ده

يوبېلتون دميني بل د وينې دی

زغمه دستم کيسه لا پاتې ده

نن د هاجرې شونډې بياو چې دي

دشت ته د زمزم کيسه لاپاتې ده

ژوند دی تېروويې داغزو په سر

دم ته مو ددم کيسه لا پاتې ده

بيا دوخت توپان سترګې سرې کړې دي

نوح ته د بل چم کيسه لا پاتې ده

سفر

په الوتکه کې

څنګ ناستې مسافرې

رانه وپوښتله

لکه چرته څوک دې نشته

داسې يوازې

په سفر، چرته درومې ؟

ما ويل نه!

خو يو وخت داسې نه وو

داسې يوازې نه وم

هغه

په داسې په سفرلاړ،

چې بيا راستون نه شولو

کونډه

زما د مړ مېړه له مړينې

څلور مياشتې او لس ورځې تېرې

مور مې بيګاه راته ويل

تېزې جامې مه کوه

په حویلي کې په لوړغږباندې خبرې مه کړه

شونډې دې وچې ساته

وېښته شپوله پرېږده

لاردې راسته وباسه

د باندې چا ته د بهر چې ننداره ونه کړې

پام چېرې سترګې په رانجه چې نه کړې

هغه دې نه دي اوریدلې چانه

کونډه ، چې سترګې توروي

زړه يې مېړه غواړي

پرونمې سر له دیواله اوچت کړ

خوابنې مې وښکنځلم

دخپل ماشوم په لټون

تردروازې ولاړمه

لېورپه غټو کاڼو باندې وویشتمه

خسرمې ټولو ته اخترلپاره

دښارنه ښکلې جامه راوړلې

زه چا پرې نه ښودم ، چې لاس وروړمه

نندرورمې ویل لالامې مړدی ته جامې څه کوې ؟

اوس به اختر ، برات ، روژه

لکه پردې تېرېږي

اوس به ماښام

زما د کوټې لاټين په اوښکو بل وي

خسرمې وايي

چې د کونډې ډيوه مړه شوې

چېرې شيطان يې ننداره ونه کړي

چېرې د مړمېږه په بڼه يې تر خوا ورنه شي

مورمې ويل ، چې سترګې تورې نه کړې

کونډه چې سترګې توروې زړه مېړه غواړي

لونګينه په ځنګ ځنګ راواوړه

د سيند اوبه د وراسندره بولي

د سپوږمې وړانګو د رڼا په ژبه

د ساحلونو د ښکلا قصيده ولوستله

دچنارونو پاڼو

د چا د ګڼ کميس

سپين پالو په شانې

ورسره ښکلي اټنونه سرکړه

ماښامنۍ وږمه په غېږه کې خپل

د سيند د هغې غاړې

د مست اتڼ مستنه سندره راوړې

لونګينه په ځنګ ځنګ راواوړه

په ځنګ راواوړه ، چې دې وشمېرم خالونه

د سيند په هغه غاړه

زما د ورور واده دی

شپې ته خو وينې که نه ؟

څه بې مثاله ستا شببې دي هلته

زما د پلار د کلا هسک برجونه

د اسمان ستوري پخپل څوکو اخلي

زما د ورور د لاس نکريزې په شپه

د مازيګر سره شفقونه راوړي

شمله يې هسکه ده تر هسک ښنتره

د سپين نرګس په شانې

ښکلو جامو کې لکه زيری د سبا

ځلېږي مخ ته يې اس ولاړ دی

پښه په رکاب کې ږدي

بابا پګړۍ کې ورته ګل ټومبي

ښکاري ، چې دروميي او له برکلي نه ناوې راوړي

د سيند په هغه غاړه زما

د پلار کاله کې

ښکلي او رنګينه شپه ده

د سيند په دغه غاړه

په ما بد مرغه شپه ده

سپوږمۍ ته وينې که نه ؟

چې زه د دوو قومونو

د تاریخي بدیو

د نسل نسل ځنځیرونه

په وریښمینو پښو کې

ښنګه وړمه

زه د بدیو بدل

زه دبدی قرباني

زه دمیړه زه د خاوند زه د واکدار نارینه

دامر حکم بندی

د نسل نسل د مینځتوب انځور

د نسل نسل د کړیو زولنو عروج

زما ژوندون دی د واکدار نارینه

دیوه نه په حد کې

دیوه نه په پولو

دیوه نه تر حکمه

د دغه نه او نه باران کې زه

د ورور واده ته نشمه تلی

دوهم واده

که راته وبنیي ټول ستوري د لمرو په شاني

او اوبه راکړي دسپوږمۍ د چینو

جامې مې جوړې د حریر او شبنم

شونډو ته رنګ د مرجان

د سترګو تورمې وي د يو زرو شپو

لاس ته باهو د هالې

شور د کونګرو د جنتې سندرو

مخ ته رڼا د نورو د غره ځينې

د غرې هار مې د بوډۍ له ټاله

دغوږ لښتۍ مې د پروين او د زهرې له څوکو

که راته وښيي ادم ټول له غلمانو سره

تندې د جام د کوثرې پيالو

بستر مې جوړوي دفردوس

د اووه رنګه وريشم

تلتک د خوب او د نرمۍ له ښاره

بالښت د ناز او لطا فته ځينې

پالنګ مې وي د سرو يا قوتو خرمن

دخونې چت مې د سکندر د آيينو تصوير

پردې د وړانګو او څپو که وي

که راته وښيي محل د تاج محل نه جوړ

د فوارو دتن يې سپينې چينې د الماسي ځلونو

ګلان د دمينې طراوت سمبول

د ونو پاڼې زمرودې خوبونه

لارې يې په لار د سرو او سپينو

چمن چمن وابښه يې ښکلې د جانان له خياله

هسک هسک برجونه یې د جنت منارې

اسمان ټټر یې لاجوردي کانونه

زه به دې ټولو باندې څه وکړمه

زه به دې ټولو ته تفسیر څنګه شم

د دغو ټولو دګلو حسن به څوک وستا یې

زما د هستۍ زما دښایست بها به څوک وټاکي

زما خاوند زما میړه زما تفسیر دحسن

بیګاه د بل چا په پالنګ ختلی

او ماته نه راګوري

ځکه هغه

دوهم واده کړی دی

## پلوشه ځلا - غزنی

ټوپک مات شي

خدایه ټوپک مات کړې او ماشه ماته کړې

دا سوله خوره وره هرې خواته کړې

تور دود ونه او لوګی دې دېمونو

امن شه په نصیب خدایه هر چاته کړې

ټول شه نور د غم او درد ټغرله مونږ

سوله دایمي شه او جنګ خبرې پاته کړې

# توریپیکۍ الم

ډاکتره توریپیکۍ الم چې په کنړ ولایت کې زیږیدلې ده خپل ابتدایي او ثانوي تحصیلات يې د کابل په سلطان راضیه لیسه کې پای ته رسولي او په ۱۳۷۲ لمریز کال عالي تحصیلات يې د طب انسیتیوت په معالجوي څانګه کې په ۱۳۷۰ کال کې سرته رسولي .

سربیره پردې چې نوموړې د صحت منجمنت په بیلا بیلو برخو کې د هیواد دننه او په خورا مشهورو روزنیزو مرکزونو او پوهنتونو زده کړې کړې دي. په اړوند يې د نړیوالې ادارې زده کړو د انسیتیوت څخه ډیپلوم ترلاسه کړی.

ډاکتره توریپیکۍ الم خپل ادبي کارونه يې شا او خوا ۱۵ کالو راهیسې پیل کوي او په سلګونه حقوقي ، سیاسي مضامین يې د هیواد په ورځپاڼو کې چاپ شوي دي. نوموړې ډیره تکړه لیکلواله او شاعره ده چې په نوم د( سیل عصیانها ) یوه دري مجموعه لري چې په کال ۱۳۷۱ کې چاپ ته رسیدلې وه خو بدبختانه د کابل دننه جګړو له امله د یادونو چانس يې بیدانه کړ.

رورسته تردې دمه يې دوه پښتو مجموعې چاپ شوې او دریمه مجموعه يې چاپ ته اماده ده چې نوم يې هم ټاکل شویدی(په مزارډیوه څکه بلومه) داسې هیله کیدی شي چې په راتلونکې استقلال ورځ کې د نورو مجموعو پشان تکثیر شي.

داهم داغلې الم د شعرنمونه:

حیراني

په هجران کې مې زخمي زخمي بدن شو

د دوران راسره څرنګه چلن شو

په خزان کې د سپرلي ورمه خپره شوه

چې په سحر يې تازه مړاوې ګلشن شو

اوس بهاردې د خزان په منظر ښکاري

د هجران له لاسه ژیړ د زړه چمن شو

چې نه یار او نه ماسره وفا شو

دا د مینې داغ بیا ولې په لمن شو

پتنګ څومره بختورو عاشقۍ کې

چې د شمعې په پښو کې ځنکندن شو

له تودوخې مې تابه شوم المه

د یلدا چې له تا لرې کوم مسکن شو

## هیله

د تور ژوندون تورو تیارو کې ناسته

زه د رڼا هیله له چانه وکړم

په اوږو وړم ارمانونو تابوت

د ټړمو اوښکو هیله له چانه وکړم

اوس چې غم ماته په خندا را درومي

بیا د موسکا هیله له چانه وکړم

زما له غمه زما سیوری تښتي

زه د جفا ګیله له چانه وکړم

د یلدا زړه له غم غلبیل غلبیل شو

ورته مرحم دوا له چانه وکړم

# جمیله ګران

جمیله ګران دحاجي ګران لور اوپه ۱۳۷۱ د مزارشریف ښار د قرغان په کوڅه کې زیږیدلې ده خپلې منځنۍ زده کړې یې د مزارشریف ښار د فاطمه بلخي په عالي ښوونځي کې تر سره کړې. جملیه ګران له وړکتوب څخه یې د شعر او ادبي کارونو سره مینه درلوده. جملیه ګران د میرمن کلتوري بهیر ته تر تګ وروسته خپل دې لوی ارمان ته ورسیده.

داهم داغلې ګران دشعر نمونه:

کاشکې

کاشکې د صحرا په سر ګلونه غوړیدلی واې

زړونه چې زخمي دي هغه بیرته رغیدلی وای

کاشکې مې د زړه وړه جونګړه نن

ستا په مینه یاره جوړه کړی وای

دا ترخې شیبې مې د ژوندون یاره

بیرته په خندا دا بدلیدلی وای

نور خو مې ارمان جانانه نشته دی

زه لکه نن اوښکه ستا په پښو کې څخیدلی وای

# حسيبه شهيد

حسيبه شهيد دمحمد داد شهيد لور په ۱۳۶۲ لمريز کال د زمري اوه ويشتمه دننګرهار په ولايت کې زېږېدلې ده.

لومړنۍ زده کړې دکابل قلعه فتح الله، منځنۍ زده کړې: جلال اباد تجربوی، ثانوي زده کړې، بي بې مريم لېسه پيښور اولوړې زده کړې کې يې وروسته دژورنالېزم په برخه کې ډيپلوم واخيسته.

لمړۍ يې نيمه ورځ په پيښور کی د بي بي سي له خانګی ريچ پروګرام سره دشااوخوا دوه کاله همکاري درلوده او اوس په کابل کې د ازادۍ راډيو خبرياله ده.

داغلې شهيد شعرونه په ورځپاڼو ،مجلو ،او نورو خپرونو کې خپاره شوي دي خپاره شوې دي. دغه راز يې نثري رپوټونه، تحقيقي رپوټونه ، مستندې ليکنې او ځينې خورې ورې نورې ليکنې کړې دي.

اغلې شهيد واده کړی او ددو ماشومانو مور ده. لکه څرنګه کورنی يې له ډير پخوا د مطبوعاتو دکورنۍ غړي پاتې شوي له ماشومتوبه يې د مطبوعاتو ټولو برخو په تيره بيا ژورناليزم او په ادبياتو کې له شعر او شاعرۍ سره مينه درلوده. دشعرونو يو ناچاپ ټولګه لري. بشري حقوقو ښځو د حقونو ټولنيز، راپورنه مې ډير برا بر کړيدي.

داهم داغلې شهيد دشعرونونمونه:

هيله

زما د غم په ورځ پيدا بچيه

زه مې د ژوند خوښي له تا غواړمه

زما نيمګړې مينه ته پوره کړه

زه ستا په سترګو کې دنيا غواړمه

ته خو زما دژوند بدل يې ځويه

ته د ازل نه يو اتل يې ځويه

په تاکې ننبی شفيق وينم

ته مې د هرې ورځ تکل يې ځويه

دپا کې مينې يو ثمر يې زما

د سږو ورځو یو تود لمر یې زما

ته د تیارو پسی رڼا یې ځویه

ته دی ورک شوي سر یو سریې  زما

ستا په زړګی کی محبت وینمه

ستا په راتلو کی لوی حکمت وینمه

تو خو له پیله شوی یتیم بچیه

ستا په خندا کی به حسرت وینمه

ته خو زما د سترګو تور سمون یې

د کړیدلي زړه ټکور سمون یې

تاته په زړه کی ډیری هیلی لرم

ته می د خیال د بڼ سمسور سمون یې

داسې به نه رژیدم!

که مې له تاسره خندلي نه وي

که مې په تا پسې ژړلي نه وي

که مې ټول واک تاته سپارلي نه وي

که مې له هر څه لوړ ګڼلي نه وي

داسې به نه ځوریدم داسې به نه کړیدم

که ستا د مینې د رنګو نو کتاب

ما د زړګي تاخ کې ساتلي نه وي

او هر شپه مې بیا د اوښکو ځل ته

پاڼه په پاڼه ټول لوستلي نه وي

داسې به ژړېدم ، داسې به نه نړېدم

که مې ستا پل پسې دانګلې نه وي

که مې په اوښکو ته لمانځلې نه وي

که مې سندرو کې ستایلې نه وي

که مې په سترګو کې سا تلې نه وي

داسې به نه سوزېدم ، داسې به نه رژېدم

دژمي لمر

زما دژمي لمره!

ته چې له کلي ولاړې

حجره خالي

مجلس بې رنګ

جرګه بې خونده

ورېځې په کور شوې تاوې

زما دژمي لمره!

ته چې له کوره ولاړې

کوڅې ویجاړ

خونه مې ورانه شوله

مینې مې اور واخیسته

زړه مې

يو وران کنډر شو

زما دژمي لمره!

نه چې له ما نه ولاړې

شونډې مې وچې

زړګی مې مات

ځواني په شا شوه راته

سترګو خپرې کړې تیارې

زما دژمي لمره!

ته رانه ولې ولاړې

ته چې له ما نه ولاړې

ژوندون مې ولاړ

زړه بې درزا

مینه نیمګړې پاتې

خاطر مې پانې پانې

زما دژمي لمره

ته رانه ولې ولاړې

دا بې له تا له کوره

تش د شمال غبرګ راځي

ځوانیمرګ ته!

هدیره ده که ځولۍ ده د ګلابو

ها نازک زړګی زما هم پکې پروت دی

چې به زر ځلې ترې ځار او صدقه شوم

هغه ځوان انګشت نما هم پکې پروت دی

په ژوندیو کې مې مه شمیرې خطا ده

هسې ساده ده چې بس ښکته پورته کیږي

لکه پاڼه د خزان مې هسې رنګ دی

د یار مرګ کې نه څوک مري نا پا تې کیږي

د یار غمه لږ د خدای لپاره راشه

دردیدلي ، مات زړګي ته مې دوا شه

له خیا لونو خودې وخته کړې بار کړې

بس په خوب کې مې د سترګو تسلا شه

بیلتانه ظالم دې سمه لیونی کړم

ښکلي یاد دې زه لاچاره سپیلنۍ کړم

تا خو زه په خپلو سترګو کې ساتلم

اوس دې ولې په میرو کې صحرانۍ کړم

# حمیده پکتیانۍ

حمیده پکتیانۍ دپکتیا لایت دسید کرم ولسوالۍ دچینو دکلي اوسېدونکې چې اوس دپښتونخوا په زړه پېښور حیات آباد کې دژوند شپې ورځې تېروي. پنځلس کاله وړاندې دمهاجرت په دیارکې په پېښور کې زېږېدې دی .

پکتانۍ اوس مهال په حیات آباد کې په درسونو کې بوخته ده او په څنګ کې یې دیني زده کړې هم کوي. له شعر سره یې له کوچینوالي څخه مینه وه. کتابونه به یې لوستل دډېرو شاعرانو کتابونه به ورسره وه.

اغلې پکتانۍ سره په شعرکې خپل دتره زوی کریم هیله من مرسته کوي ،خپله کریم جان ډیرکم شعروایي خو له اغلې پکتیانۍ سره ډیره مرسته کوي.

دپکتانۍ شعرونه ورته سموي .اغلې پکتانۍ وایي چې آزاد شعر ډېر خوورکوي خو ډېر یې آزاد شعر نه دی لیکلی. اغلې پکتانۍ وایي چې یوه ټولګه یې خپرېدو ته چمتوده خو تر اوسه نه ده خپره شوې. چې نوم یې هم لاتر اوسه دې ټولګې لپاره نه دی خوښ کړی.

داهم داغلې پکتانۍ دشعرنمونه

## غزل

اوس چې دې نوم واخلمه سندرې رانه هېرې شي

تاته مې ساتلې وې خبرې رانه هېرې شي

اوس يو ستا يادونه دي چې تاريې مرغلين دی

نور خوچې را يادې کړم ملګرې رانه هېرشي

پام چې مې داستا دشوخ نظرپه کړلېچو نو شي

کيږدم د بڼوو سلې سنګرې رانه هېرشي

غوښې داولادې د توپو نو خولو کې پاترې شوې

څنګه به سر تورې مهاجرې رانه هېر شي

خاورې دهمزولو په يادونو باندې واړوم

ستا په ياد همزولې او ګودرې رانه هېرشي

مونږترې تابوتونه دوی ترې ښکلې ما نۍ جوړې کړې

څنګه دپکتيا دغرونښترې رانه هېر شي ؟

نه ځم ورپسې پکتيانۍ غرونو رغونو ته

سترګې ديار ګورمه ګور ګورې رانه هېرشي

غزل

خیال کې ستا دمخ له تماشې نه وتې نشمه

څرنګه دې رام کړم له او دې وتې نشمه

ته خو ظالمه کله کله حال احوال پوښته

زه خویم مجبوره دروازې نه وتې نشمه

غرونه غرونه خاورې دي دجبرزه ترې لاندې یم

ځکه د ارمان له مقبرې نه وتې نه شمه

زه دیوه داسې مینه ناک انسان په لټه یم

چې زه یې تمام عمرحافظې نه وتې نشمه

خدایه ته مې بلې زمانې ته ترېنه پورې کړې

خپله خوله خپلې زمانې ته وتې نشمه

زه لکه معصوم ماشوم په سرو لمبوکې ګېریمه

خوار افغانستان یم له جګړې نه وتې نشمه

خدایه ته مې داسې دجانان زړکې راشنه کړې چې

ټول عمر له دغې آیینې نه وتې نشمه

او ځمه له ځانه له -----لرې لاړه شم

ګرانه ستادخیا ل له هدیرې نه وتې نه شمه

غزل

اشنا په ما د څه یقین نه کړي

عشق کې څوک فرق د تور او سپین نه کړي

ته نو هغه هم معشوقه ګڼې ؟

چې دې د غاړې لونګین نه کړي

د شوګیرو کیسه کې نه دي اشنا

د سهار لمونځ په ما سپښین نه کړي

مین پر بلې ښا پېرۍ ښکاري

څکه کیسې د چین ماچین نه کړي

که د مېړو بس په خپر توزرن نه دی

شکر کانې خود ګرګین نه کړي

مه لیکه شعر پکتیانی خورکې

چې خیا ل او فکر مې رنګین نه کړي

## غزل

مخ مې د جانان دی که ځلا چرته هېنداره کړي
خدای ورته ونه وایمه ما به ګنهګاره کړي

مخکې دې غم نه و ، ستا په یاد به پرې ویده شومه
اوس چې راته راشي نو ویده مې رابیداره کړي

وژنه خو مې مه بیا به دې هېڅوک هم د غم نه وي
داسې یوه ګناه وکړه چې ما له تا بیزاره کړي

خیر که په هنر د یارانې ښه نه پوهېږم اوس
لویه به شم ، پویه به شم ، خدای به مې هوښیاره کړي

ما ته یې جامونه را معلوم دي ، ښه پرې پویه یم
دا معلومه نه ده چې سجدې د چاله ډاره کړي ؟

هرسړی جنت ګټي ، دوزخ ګټي خپل ځان وته
دلته داسې څوک دي چې ژوندون د بل لپاره کړي ؟

هره شپه که ستا په یاد ویده پکتیانۍ نه یمه
غاړې مې دې بندې وي خدای پاک مې دې مرداره کړي.

غزل

ستا دژوند کاروان سره چې مله نه شوم

سرنه شوم ،سندره او ټپه نه شوم

وېنې وېنې ټنډه په سجدو مې کړه

خدایه پاکه بیا هم پرښته نه شوم

ناسته یم له کور ځخه راوزم نه

ځکه پښتنو ته پښتنه نه شوم

خاورې شوم غوښتل مې د هرچا د پښو

زرنه شوم ، غمی او دُرد انه نه شوم

خوب کې مې لیدل چې دوزخې یمه

نن شپه ستا په خیا ل کې چې ویده نه شوم

ماویل ته مې تور دستر ګو نه ګڼې

ځکه درنجو غوندې مېده نه شوم

نوم مې د ادب تر اسمان لاړونه

لاړم خو (ډېوه )او (بلیندېه ) نه شوم

او ښځېدم د بلبل ستونې نه

داسې یوه پرکېفه ترانه نه شوم

اومې کاره ځا ن په ډېرو زړونو کې

حیف په یوه زړکې هم راشنه نه شوم

وشولې مودې تا پسې وتې یم

اوس پورې ځان ته راستنه نه شوم

ځومره مې په يو وار ورته وکتل

وه خدايه دا څرنګه ړنده نه شوم ؟

تاو مې دخپل حُسن دلمر کم وږ ېر

ستا لپاره ټکنده غرمه نه شوم

وسوم پکتيانۍ دحسرت لمر وسوم

ستا دښکلا سيوري ته دمه نه شوم

غزل

احساس دخپلې جفا تاته نشته

ځکه مې طمع ستا وفا ته نشته

ته مې غوښتلې خدای پاک راکړې راته

حاجت مې بلې يوې دعا ته نشته

زه لا دوير له ټغرنه يم پورته

راسره لږ وخت هم خندا ته نشته

څه دغم بند کې بنديوانه يمه

هيڅ دوتلو لاره ما ته نشته

چې مې لرله پرې بل مو مړکه

دمرګ وسله مو اوس بلا ته نشته

مانې مو دنګې تر اسمانه کړلې

په کومه راشې لار هوا ته نشته

ستا په يادونو باندې ژوند تېروي

دپکتيانۍ طمع بل چا ته نشته

ګلاب ګلاب جانانه

کله نا کله راته دومره خوږشي

چې ستا په یادکې شونډې وچیچمه

مینه دا ستا په یوګلاب وکړمه

مهنې شونډې ترېنه دومره واخلم

چې ټول خولې خولې شي

لکه یتیم په اوښکوولمبیږي

خو کله کله داسې هم وشي

چې ستا ګلاب شونډوته وژاړمه

داستا جفا رایاد شي

اوازغیو جامې واغوندمه

ستا له نازک ګلاب ګلاب بدنه

داسې راتاوه شمه

چې درقیب ګوتې هم وربېمه

# حمیرا کاوون

حمیرا کاوون دبرید جنرال نورالحق کاوون لور چې په ۱۳۵۰ کال کې د کاپیسا ولایت د تګاب ولسوالۍ د نوروز خیلو په کې په یوه شتمنې او روڼ آنده کورنې کې زیږېدلی ده نیکه یې د قوم مشر او ملک او ددغی سیمی ستر سوداګروو .

حمیرا کاوون په قوم ساپۍ ده او په ۱۳۵۷ کال کې د کابل ولایت د بي بي شمسو په ابتدایه ښوونځی کې شا مله شوه. وروسته لدې چې د آمنه فدوی د عالي لیسی د ۱۲ ټولګې څخه فارغه شوه ، نو دهغه ټولنیزو ستونزو او خپل منځی جګړو له امله چې په هیواد کې روانې وی دیې نشو کړای چې خپلو لوړوزده کړو ته دوام ورکړی.

هماغه وچې هغې د لنډ مودې لپاره دځوانانو په سازمان او بیا په ۱۳۷۳ کال کې د نسوان په موسسئه کې د خبریالی په توګه دنده واخیسته ، حمیرا کاوون دشپږم ټولګې نه را پدې خوا دلنډ کیسو او شعرونو په لیکلو پیل کړی خو هغه په ۱۳۷۳ کال کې پدی وتوانیده چې خپل شعرونه دمرحوم استاد محترم اسحاق ننګیال له نظر تیر او بیا په مطبوعاتو کې خپاره کړی. دهیواد په دننه او بهر کې یې ګڼ شمیر مقالی او شعرونه په مجلو او کتابونو کې خپاره شوېدی ، اود شعر او داستان په برخه کې یې دلومړی درجی ، دوهم درجه او دریم درجه جایزی او ستاین لیکونه تر لاسه کړیدی. او همدا رنګه د ژورنالیزم په ډګرکې هم د پام وړبریاوې ترلاسه کړیدی او ستاین لیکونه لري.

حمیرا د میرمن مجلی دخبریالی ، ارشاد النسوان دجریده دخبریالی ، دمیرمن مجلې د مسؤولې مدیري ، دارشادالنسوان دمسؤلی مدیري په توګه او بلاخره بیا هم د ادارئ اصلاحاتو او ملکې خدماتو په ترڅ کې دمیرمن مجلې دمدیری په توګه دنده ترسره کړېده. حمیرا ددې ترڅنګ چې دسید نورمحمد شاه مینی دنجونو په لیسه کې دښونکی په صفت دنده لري د سفما افغانستان دجنوبی آسیا د مطبوعاتو دځانګې په اجرائیو برخه کې دلومړۍ مرستیا په توګه دنده لری ، او لاندنیو ټولنیزو او فرهنګی ټولنو سره د غړیتوب افتخارلري:

-د قلم ټولنه

-دژورنالستو ښځو ټولنه

-دافغانستان دژورنالستانو اوخبریالانو ملی ټولنه

-دمیرمن ټولنیز- کلتوری بهیر

هغه اوس پدی توانیدلی ده چې دوخت نه په استفادی سره خپلی لوړی زده کړي کوي او د ساینس دځانګی دلومړی کال محصله ده. واده یې کړیدی پنځه زامن او یوه لور لري.

داهم داغلې کاوون دشعرنمونه:

گورگوری

زما او ستا دمینی غرونو کې

ښیرې راشنې شوې

اود گورگورو دنیا لگیو لمر یې ونیولو

تابه په هرڅه کې توپیر لیدلو

ما طبیعت کې لوی قدرت تل الله ستایلو

ماویل پرېږده چې گورگورو نه ځنگلونه ډک شي

ستا د گورگورو او نښترونه ښیرې خوښې وې

ما ستا خاطر کولو تل به مې ستا لپاره

ښیرې کروغ غوندې میوه

هغه پرگې خوړلو

تا د گورگورو انگبین غوندې میوې شخه

ناحقه کرکه او نفرت کولو

تاته به ټول هغه څه بدښکاریدل

کوم چې زما خوښیدل

زما دمینی ، غرونه ، غرونه گړنگو نه خوښ و

زما د غرونو په ځنگلونو کې رنگونه خوښ و

نن مې ناڅاپه زړه گواهی کوله

اودابې مې یو خبر را یاد شوه

)که دگودر په غاړه د کبر بوټي شین شي

هغه گودر کې به اوبه وچې شي(

ويره مي زړه کي راپيدا شوه

شنه منګوټې به وچې شونډې لاړشي

مستې پيغلوټې به خواشينې په ژړا کيني

بيا به زموږ دميني غره باندي

لمبې بلي شي

نه به ځيرې پاتې شي

نه به ګورګورې

بتې

مونږ دعفت بتوبه تل

زموږ دکلي دوقار سيندکې لامبووهله

صيا ونومو عجيب شانته

يخ سيورې درلوده

او د بيباکه ژوندون ستړي

مساپر لارويان

ددغوونو د يخ سيورې لاندې

خپله ستړيا نيوله

زموږ داخلاص دستر خوان

ډک له نعمتونونه و

چابه همغه ګړۍ وخوړلو

چابه له ځانه سره

ځنې لږ واخيستل

دد غو بتو د خوړو لپاره

دشپي لتيا غره کي داني پرتې وې

ددغه غره لاره کې

لوړې ژورې پرتې

اوددا ړونکو او خوړونکو

دفرهنګ نومي ياغی شوډلو

ډيرى لبنکرې پرتې

موږد غرورسپر د تکل متې کی

کلک نيولی

که خيروی رسوورته

شپون

زموږدکلي شپانه

زړه شپيلۍ درلوده

هغه له موږپه عمر لوی و

ځکه به موږ ورته کاکا ويلې

نن سبائي کوڅه کې مخ ته راغی

دديوال خواکې غلې و دريدمه

رمه چې تېوله لاړه

زړه اونا زړه مې ورته وويل!

کاکا له تانه يوڅه وغواړمه ؟

شپانه شپيلۍ غاړې ته واچوله

وایه کاکا دي ځارشه

ما ته شپیلۍ جوړوی ؟

ستا د شپیلۍ آوازمې ډیر خوښیږي

کړکې به زه درکړمه

ته ترې شپیلۍ جوړه کړه

شپونکي موسکي غوندې شو

اوبیا یې وویل راته

کړکۍ خو زه هم لرم

خوپکې زړه نشته دي

تاته به ښکلي غړلرونکې

شپیلۍ زه جوړه کړم

زړه ورته ته پیدا کړه

د سمندرپه غاړه

یو وخت د سپینی بتی مورنه

همدا زه سپیته بته وزیږیدم

د سمندر په غاړه

دلمدو سبزو په سر

څوچې را پورته شوم

لړه پیغلوټې شومه

ساحل د ټولو کورو

هیلۍ او زانږوبه هم

دلته زموږ ترخنګ

دډول ، ډول الوتونکو سره

په ګډه ژوند کولو

یو ځل مې پام شو چې کبان

په بیړه دیخوا راځي

ګړی لانه وه تیره

د سیند رنې اوبه

دوینو ډنډ وګرځید

چا ویل په برکلی کې

دانسانانو کورکې

انسان ، انسان وژنی

غرڅه

زه په غرڅه وو پسې تلمه

زه دهغو پسې روانه ومه

زړه مې ویل راته

حال د بچویې واخله

دځالي ځرک یې وکړه

حال دشید و اودخوړلویې واخله

موخه مې داوه

تکل مې داوو

په لوړو پرښو ، کږلیچونو تلمه

لاره لړپاتې وه

نور ورختلي ومه

یو ځل مې پام شو چې لیوان را ټول دي

ماد زاړه لیوه په خوله کې

دغرڅه لاس ولیده

باور

ما په دې خپلو ګناهګارو سترګو

ما په دې خپلو ګناهګارو غوږو

ما د ژوندون په ځان ، ځانې بهیر کې

ما د ژوندون د درغلیو تر څنګ

دخور او ورور

دزوی او پلار

مور او لور ترمنځ

دباور مړینه او سلګی ولیدي

ارامی

زما خوښیږي چې ارامه اوسم

دچا او خوک سره هیڅ کار نلرم

خوداد نورود ژوندون فکرونه

دبدوورځو دبدلون خیالونه

همیشه ما خوروي

ځکه خو هیڅکله ارامه نه یم

دژوند رنګونه

زه په لمدو پولو روانه ومه

او د پټهو مخ مې په سترګو ښاره

دچاماغک او ګندمک

سابه مې ډیر خوښیدل

مګر ما هیڅ کله هم

د نورو نجونو په څیر

خپلې ادکې مورته

یودیک سابه ورنه وړل

ځکه چې...

زه په پټهو کې ترسبونه

ښکلی ګلان خو ښه وم

دکاه کوچک یاسمندي

ګلان مې ډیر خوښیږي

دریدی ګل مې ترهغی هم خوښ دی

ما درشکې او دشفتلی

دګلانو وږمه

د هوش او حال نه باسي

کله چې کورته ځمه

خپلې ادکې مورته

زه د یوی غیږې سبو بدل کې

ژوند رنګونه او

خوندونه ورمه

همزولي

زه د همزولو سره تلم

د غره دها غاړې ځنګله ته

موږ به راټول کړل جنغوزي او غوزان

زما د کتا ن کميس لمن

له پخوا هم زړه وه

داخل مي بيا دې ځنګله په ميوړکه کړله

موږه همزولي هلکان او نجونې ګډ ګرځيدو

کله به ښه سره خواړه شلو

کله به خپړي ، خپړيا زموږ ترمنځ جوړه شوه

نن ترينه ورکه ترې تمه يمه

زه دوئي ليدلى نشم

زه د همزولو سره تلم

سپيرو کو ځوکې لوبيدم

د دوبي ټکنده غرمه

ماښام تياره ، روڼ سهار

موږ ته دا ټول يو شان و

کله به تلو د غره لمن کې به مو کانې کول

کله به تلو د کلي باغ لوي ويالي کې مو لمبلی سره

داچې موږنجونی هلکا ن به سره ګډېيدو

په چا به بدنه لګید ، هیڅ چاپری سوچ نه کاوه

نن ترینه ورکه تری، تمه یمه

زه دوئ لیدلی نشم

موږپه د کلي په کوڅه کې تل چندری کوله

دونو وچو پاڼو او د کوڅې دوړوبه

زړه کښونکي وړمه درلود

یوه ورځ دکلي یو هلک زما همزولي

زما د چندری موڅه راماته کړله

ډيره خواشیني شومه

ما څوڅپېړي ورسره کړي په ښیروشوم ورته

هغه زما چونټکي کش کړی زه غو زاره شومه

لږه شيبه لاتيره نه وه چې پخلا شو سره

په لوبو ، لوبو کې مو هرڅه هير کړل

نه مو کینه ، نه موګیله درلوده

نن ترینه ورکه تری، تمه یمه

زه دوئي ليدلي نشم

پلار راته ګواښونه کړي

دباندي ونه وځي

ادې مې تل راته خبري

دتنور او غوا ولشلو کوي

وروړخومې وايي

که دي چا دپلو تارولیده

له ما نه بدبه نوي

د ژوندون لار رانه ورکه ده حیرانه یمه

نن ترینه ورکه تری تمه یمه

زه دوی لیدلي نشم

پرون خو زه وم او همدا همزولي

همدا کوځي همدغه کلي او لویان و زموږ

نو نن په کومه ګناه

زموږ دهمزولو

هلکانو ، جنکو ترمنځ

دا فاصلی پیدا شوی

چې زه به مخ پټوم

هغوئی به زما خواته کتلی نه شي

زه د دودونو ، رواجونو

په ځنځیر باندي تړلي یمه

تش په ژوندون باندي بسنه کوم

نن ترینه ورکه تری تمه یمه

زه دوی لیدلي نشم

# خاطره اسحاق زی

خاطره اسحاق زۍ دخان محمد خان لور ده په ۱۳۶۲ لمريز کال کې په کابل کې زيږېدلې خو په ختهه د کندهار د پنجوايي ولسوالۍ ده.

منځنۍ زده کړې يې دکابل ښار د خيرخانې مينې يوولسم نمبرعالي ليسې کې تر سره کړي اوثانوي زده کړې يې هم په همدغه ليسې کې کړې دي. د دوونيمو کلنو راپديخوا په يوه خصوصي ټلويزيون او راډيو کې د وياندي او پريدو سرې په توګه دنده تر سره کوي ، د دي ترڅنګ کله نا کله لنډې کيسې ، شعرونه ، دنورو ژبونه پښتو ژبې ته دځينو په زړه پورې توکې ژباړې ، اوداسې نورې خورې ورې ليکنې هم کوي.

داهم داغلې اسحق زۍ د شعر نمونه:

کندهار

په زمرو ډکه ، دکندهار غيرږه

ښکلې ده ځکه ، دکندهار غيرږه

سرتيري خلک ،پکې اوسيږي

مغروره محْکه ،د کندهارغيرږه

کوردې مخو ، ځاله د ښکلو

جنت بيشکه ، دکندهار غيرږه

نظر پر وکه ، ښتنته ستا ده

ورکه يې مه که ، دکندهار غيرږه

افغانستان که زموږجنت دی

دا يې ملکه ، دکندهار غيرږه

اوښکوډک

ژوند هغه وخت ښکلی دی

چې له سرو او ښکو ډک وي

اوښکې وي هله ښکلي

چې وي له مینې ډکې

مینه به هغه وخت ښکلا ښکلا وي

چې وي یوازې بس دا ستا لپاره

اوته به هغه وخت ، ښایسته یې یاره

چې یې زما په څنګ کې

غزل

نوربه داسې څه غواړي ، مینه غواړي زړه غواړي

ستا لیونی ستا په نوم خپل ژوند تیریده غواړي

څومره چې ډاډ ورکم زه ، صبرنه شي یوګړی

زړه مې ستا په سترګو کې سم دم ډوبیده غواړي

جوړ به شي ښایسته شي ، سم ګلاب ګلاب به شي

زما دزړګي وران کلی ، ستا یو ځل کاته غواړي

دار دې وي جلا د دې وي ، اورکې زندګی دې وي

ستا دې پکښې وي دیدن ، نوربه سړی څه غواړي

تا غواړي بس تا غواړي ، بیله تا ژوند خاوري شه

دا خاطره مرګ غواړي ، ژوند جانانه نه غواړي

## خماره قریشی

خماره قریشی د غازمحمد قریشی لور او د محمد صدیق لمسۍ ده چې په ۱۳۶۸ کال کې په یوه روڼ انده او دینداره کورنۍ کې د زابل ولایت د کلات ښار کښې زیږیدلې ده.

او له ۱۳۸۳ کال څخه را په دې خوا شعرونه او طرح لیکي خماره قریشي تل ازاد شعرونه لیکي خو د غزل سره هم مینه شته خماره قریشي اوس مهال د ښوونکې مقدسه دنده هم سرته رسوي.

دا يې هم د شعرونو بېلګه:

غزل

کاغذ کې انځور شوي ارمانونه درلیږمه

د مینې نه منکره تصویرونه درلیږمه

په څه رانه خفه یې ځوابونه درنه غواړم

د سپین کاغذ په مخ یو لړ سوالونه درلیږمه

ته ما په ګناه یوه کړه بیا پاسني هم پالمه

ځیګر مې پر زخمي کړه خنجرونه درلیږمه

طوطي په هوا ګرځي یوه ورځ به دې راګیر کړم

د تورو تورو زلفو تور دامونه درلیږمه

خزان

خزان ظالم خزان دی

بیا یې پسرلي لیلا ته امر وکړ

چې دغه سره ګلان تول ورژوي

ترینه سرونه غوځ کړي

بلبلان وشړي بورا زخمي کړي

بیا په زیږه ژبه د ځان صفت کړي

نن ده زما پادشاهي

جنکې نشي راتلای

لارې یې بندی شولې

اوس به یې په تور اوربل ځوک ګل نه ویني

ځکه ګلان یې مړه کړل

په شنو باغونو مې مور اور پورې کړ

د غرولمنې مې ایرې ، ایرې کړي

شپون مې په کورکې میخ کړ

شپېلۍ مې ترې واخیسته ترې ورکه مې کړه

بیا به یې شونډو ته نږدې کې نږدې

ترڅوچې زه او زما سورۍ وي پرې

بیا به د نجونو میره

په نجونو غړونه کړي

چې غوږ شی بیا شپېلۍ ده

# ځلا زرمتۍ

ځلا زرمتۍ په ۱۳۷۰ کال کې د کتیا ولایت په زرمت ولسوالۍ کې زیږیدلې ده.

له ۱۳۸۲ کال څخه شعرونه لیکي د شعرونو یوه برخه یې د هیواد په مطبوعاتو کې هم خپاره شوي دي.

ځلازرمتۍ اوس د کابل په ښار کې اوسیږي او د ښارندوی مینې د ښوونځي په لسم ټولګي کې زده کړې کوي ، ځلا په خپل ټولګي کې اول نمره ده او د دغو زده کړو تر څنګ د انګلیسي او کمپیوټر زده کړو ته هم دوام ورکوي.

دا یې هم د شعر نمونه:

پښتون

د چا په لمس د چا په خوله قتلیږي

پښتون په لاس د پشتانه قتلیږي

په کومه لار د کوم ارمان لپاره ؟

حیران په دې یم چې په څه قتلیږي

د بل په خوله باندې خپل کور ورانوي

په سیله لاره کې درانه قتلیږي

بې اتفاق کوربه په یوه اشاره

د نا بللي میلمانه قتلیږي

آه دا څه و شول په ښکلي وطن

پکې ارزو د ژوندانه قتلیږي

زرمتۍ هغه غیرتي پښتانه

نن د غفلت په خوب ویده قتلیږي

## تربږمی

توره تربږمی ده رڼا ورکه ده

سترګو کې ژړا ده موسکا ورکه

نن چه د انسان وینه ارزانه شوه

مینه له زړګي د هر چا ورکه ده

دا چي په نفاق مو اتفاق کړي

منځ کې مو خبره رښتیا ورکه ده

نن چې قافله مو بې رهبره ده

شپو کې رانه لار د سبا ورکه ده

ما خپله ځواني درته لوګی کړله

سترګو کې د تا خو وفا ورکه ده

# درخانۍ هوسا

درخانۍ هوسا دغلام صدیق لوردمحمد علي خان لمسۍ چې په ۱۳۶۴ کال په کابل کې زیږیدلې ده. لومړني او منځني زده کړې یې په آریانا افغان ترک لیسه کې سرته رسولي او د کانکور له آزموینې وروسته د کابل پولیتخنیک پوهنتون ته بریالۍ شوې ده. درخانۍ هوسا له ۱۳۸۲ کال راهیسې شعرونه لیکي او ددې تر څنګ نثر هم لیکي.

دا هم داغلې هوسا د شعر بېلګه:

غزل

ولې دې زړګی زما ډوب کړې په غمونو کې

وسومه ، ایره شومه ای یاره په اورونو کې

زه که درنه لرې یم ، زړه مې دی له تا سره

ورځ یمه له تا سره شپه مې په خیالونو کې

خوب مې تښتېدلی ده خوې د لیونۍ کوم

ناسته یم ، لګیا یمه یاره ستا سوچونو کې

ورځ مې نا کراره وي ، ستا غم را په غاړه وی

شپه په شوګیره کړم نه راځي خوبونو کې

تیره چې ځوانۍ شوله ، پرته له اشنا زما

راشه چې ځوانۍ بیرته نه راځي وختونو کې

# رحیمه پښتونجار

رحیمه پښتونجار د مرحوم ملا جان پښتونجار لور د کابل د شاه شهید په سیمه کې په یوه روښان فکره کورنۍ کې زیږیدلې ده ، خو اصلي ټاټوبې یې د کاپیسا ولایت د تګاب ولسوالي ده. لومړنۍ زده کړې په کابل کې د بي بي شمسو په ښوونځي کې سرته رسولې او وروسته د کابل امنه فدوي له لېسې څخه په عالي درجه فاغه شوې ده.

د کابل پوهنتون دوترنري پوهنځي محصله وه ، خو په هیواد کې د جګړو له کبله یې لوړې زده کړې نیمګړې پاتې شوې او پردیسۍ ته یې مخه کړه. کابو شل کاله کیږي ، چې د جرمني د مونشن ګلاد باخ په ښار کې استوګنه ده.

رحیمه پښتونجار لا په ماشومتوب کې د شعرونو د لوستلو او لیکلو لیواله وه. په لومړیو وختونو کې یې دوه بیتۍ او ځلوریزې لیکلې ، خو له لسو کلونو راهیسې یې د غزلونو او ازادو شعرنو د لیکلو لړۍ پیل کړې ده او اوس مهال یې چاپ ته یوه ټولګه چمتو ده.

او دا یې هم د شعرونو څو بیلګې:

داسې یار پسې خپه یم

زه یې دهر لمانځه دعا کړم داسې یار پسې خپه یم

زه یې ایمان په شان ویسا کړم داسې پسې خپه یم

د خوږې مینې دنیا موپا کیزه لکه دعا وه

زه یې د شین ختا سما کړم داسې یار پسې خپه یم

ګلاب ګل وم پاڼې پاڼې ده په لپو کې راټول کړم

زه یې دژوند د بڼ ښکلا کړم داسې یار پسې خپه یم

ده فاني حسینې مینې کړې ډالۍ فاني دنیا ته

زه یې د خپل زړګي دنیا کړم داسې یار پسې خپه یم

چې تقدير راته پيرزو کړ شاجهان زما دمينې

زه يې رڼا دتاج محل کړم داسې يار پسې خپه يم

مخ مې پټ کړو له حيانه ده مې خور په سرپلو کړ

زه يې خوندي په خپل حيا کړم داسې يار پسې خپه يم

رحيمې دې غوړولې دسخا په در خو لې دي

زه به يې ځان د درګدا کړم داسې يار پسې خپه يم

غزل

داغه د زړګي راشه دردونه سره ښکل کړو

زړکې د هجران خوارېه غمونه سره ښکل کړو

اوښکه شه جانانه چې ليمه درنه چاپيره کړم

پټ به په بڼو کې ديدنونه سره ښکل کړو

زه دګلاب ګل يم خو مې ښانګه له ازغوډکه

ته غيېږدغاتول شه چې داغونه سره ښکل کړو

مه وله غمازه ! دوه مين په کاڼو مه وله

پريږده چې دمينې ښو لوظونه سره ښکل کړو

زړه خو مې نا سور شو ته مې اه دفريادونو شوې
راشه يو ځل خو اته چې زخمونه سره ښکل کړو

ستا دمينې ډکې مې دسترګو پيمانې شولې
راشه ساقي راشه چې جامونه سره ښکل کړو

ستا غيږکاينات وه زه سپوږمۍ دخوارلسمې وم
راشه چې شو ستوري تير يادونه سره ښکل کړو

شپو کې دې غزل راته دمينې نغمې اوروي
ته مې شه شاعر چې دې بزمونه سره ښکل کړو

جوړ خو رحيمې ته ستا دمينې پيغورونه شول
اوس مې زمانه شه چې وختونه سره ښکل کړو

## غزل

راځه چې والوځو جوړه داسمانونو غېږته

دستورو پړک ته دسپوږمۍ دمابښامونو غېږته

زه به پوړني نه در جوړه کړم دمينې کيږدۍ

بيا به مو يو سي ښاپيرۍ دجنتونو غېږ ته

دمينې بڼ نه به کړو ستورې په لمن کې راټول

ورنه به جوړ کاندو اميل دګريوانونو غېږ ته

چيرته به والوځي هما داسمانونو په لور

چې په وزرونو کې مو يوسي فردوسونوغېږته

دلمر دوړانګو نه به جوړه کړو دمينې زانګو

مراندې به يې کلکې کړو دستورو دښاخونوغېږته

سپوږمۍ بزنيږي نن دمينې ښاپيريو سره

ستورې دعا کوي ليږي مو ثوبونو غېږ ته

دسبادم کې چې دستورو کاروان کډه کوي

رحيمي پاڅيږه اومه ځه دخوبونو غېږ ته

# رحیمه عزیزی

رحیمه عزیزی د حاجی عزیز لور د محمدګل لمسۍ چې په ۱۳۷۰ کال کښې د پیښورپه لورلائی کې زیږیدلې ده اصلي ټاټوبي د زابل ولایت د کلات ښار ده. رحیمه عزیزي د شعر ویلو تر څنګه مقالې اونثرونه هم لیکي.

اودابې هم د شعربیلګې:

غزل

یو مې تیاره بل تنهائي خوښیږي

تور مې په سپینو کې خدايې خوښیږي

چې یوه زه بل مې جانان وای یو ځاې

هلته مې صرف یو خاموشی خوښیږي

چې د شینکې اسمان لمن کې تنها

یو ځومې ستوري ګلالي خوښیږي

چې دا ماشوم احساس مې هرڅه خوښ کړل

هغه زما هم ( عزیزي ) خوښیږي

غزل

د انتقام شونډې له ورايه خوځيدل غواړي اوس

غمجنې سترګې خوپه مينه کې ژړيدل غواړي اوس

چې د شينکې اسمان پيرزو وشوله دا

همدا باران خو په ورو ورو کې اوريدل غواړي اوس

شپه لکه حال چې له ما خې سره جګړه کړي هسې

احساس په دواړو کې همدا سې ډوبيدل غواړي اوس

د ژوندون پانې د ځلاندو ملغلرو په څير

مينه نفرت په کې همدا سې ځليدل غواړي اوس

څوک د مهراب څوک ميکدې کيسې په زړه کې ساتي

دژوند انجام ورسره صرف اشنا کيدل غواړي اوس

# روشنا وردګ

روشنا وردګ د عبدالهادي خان لور په ۱۳۵۷ هـ ل کال د میدان وردګو ولایت د چک ولسوالۍ د خوات درې په یوه او روڼ فکره کورنۍ کې زیږیدلې ده.

روشنا وردګ پخپله پیرند پاڼه کې لیکي :لیک لوست مې پخپل کور کې زده کړي دي ، پلار مې د زده کړې په برخه کې لوی هڅاند و او په کور کې یې د لیک لوست لپاره هر ډول آسانتیاوې برابرې کړې وې. قرآنکریم او نور دیني کتابونه مې له مرحومې ترینداې نه چې د دیني علومو عالمه وه لوستي دي. د خپل پلرني کتابتون زیات پښتو ادبي اثار مې مطالعه کړي دي ، تر ټاکلي استاد مې له کتابونو ډېره ګټه اخستې ده.

روشنا بیا وروسته پیښور ته لاړه او هلته یې داردو ژبې د زده کړې تر څنګ د کېسې ، طنز ، داستان او ناول دلیکلو په برخه کې نورې زده کړې هم وکړې او بیا بیرته خپل کلي ته راستنه شوه او پخپل کلي کې د خپل ولس په تیره بیا دخویندو چوپړ ته ملا وتړله ( د پښتني خویندو کلتوري ټولنه ) په نامه یې د ښځو د یوې ټولنې بنسټ کیښود چې دهمدې ټولنې له خوا دګودر په نوم یوه درې میاشتنۍ مجله هم چاپیږي ، دغه ټولنه تر اوسه پورې نه یوازې مجله لرې بلکې ښځې او نجونې لیک لوست او مطالعې ته هڅوي هغوی ته یې دګڼو ادبي ، تاریخي ، ساینسي ، ټولنیزو او نورو کتابونو دلوستلو زمینه برابره کړې ده ، لیک لوست ته یې هڅوي او د ژوندانه په ستونزو کې ورته مشورې ورکوي.

روشنا څه وخت د بي بي سي راډیو له پښتو څانګې سره د ښځې او ننې نړۍ په پروګرام کې دنده درلوده.

دروشنا لنډې کیسې ، لیکنې او ځینې شعرونه په ځینو چاپي خپرونو لکه هیله ، ګندهارا ، افغانستان ، محاذ اونیزې ، تعاون ، صدف ، ګوربت او ځینو نورو مجلو کې چاپ شوې دي.

روشنا د ژباړې په فن کې هم مهارت لرې او ګودر او ګوربت مجلو ته یې له اردو ژبو ګڼې ژباړې هم کړې دي .

د روشنا وردګ دلنډو کیسو یوه ټولګه د ( ننبه ) په نامه په ۲۰۰۷ کال د ختیځ بیارغونې اداري کور له خوا چاپ شو .

دروشنا دغه اثار دچاپ لپاره تیار دي:

(ځوریدلې لور ) دلنډو کیسو ټولګه.

(دمیوند ملاله ) د سیمیزو لنډیو غونډ.

دوردګو فولکلور.

واړه ګلونه ناول.

(دهیلو کاروان ) شعري غونډ.

اودایې هم دشعرییلګې:

له کړاوونو ډک ژوند

به پای ته ورسیږي

چې مې دې خوږین زړګي ته

که کوم یو درد پاتې وي

چې هغه هم و ګالي

بیا به په یوه تشه سلګۍ

له دې بې غمه شي

چې نور کړاوونه نه شته

دغه بې واره درزا

او لیوني آهونه

به یې شي غلي غلي

په یو صندوق د خاورو

کې به شي خاورې خاورې

غزل

دهاجرۍ تر قدم لاندې د زم زم چینه شوه

تنده پرې ماته شوه شفا او هم مرهم چینه شوه

وچه بیدیا کې هاجرې تر قدم لاندې چینه

شوله ځرګنده ونړۍ ته هغه دم چینه شوه

ورې الوتکو کې له ځان سره دنړۍ هر ګوټ ته

په ډیره مینه عقیدت خلوص خوشرنګ چینه شوه

دیوې مور بې بې له منډو ترړو جوړه چینه

ټولو وګړو او بچیانو ته درمل چینه شوه

دمور تر پښو لاندې جنت به وي خود

چې هاجرې ترپلونو لاندې د زمزم چینه شوه

روښنا نور مه وایه همدومره یې بس کړه

چې میندو پښو لاندې جنت او هم زمزم چینه شوه

زه لا وړه وم

ډېره وړه چې د ویالې پر غاړه

دادا وړوکی نیالګی کینولو

نیالګی له ما نه ډیر وړوکی

او نری پری و

چې ما زدیګر مهال به

موږ د دې وړوکي نیالګي

پر څنګو لاس راتیر کړ

او په اخر کې به مو

کش کړ له نازکو پاڼو

یوه یوه نیمه پاڼې

به یې زموږ وړو منګولو کې را پاتې شوله

او موږ به منډې

په ټول باغ وکړلې

خو اوس هغه نیالګی

یو غټ چنار دی

او هغه سر یې زموږ له لوړې

درې چتیزه کلا

او دربیم پوړ نه لوړدی

په خواره سیوري کې

ترې لاندې یو لوی کټ ایښی دی

ترې لاندې ناست دي

دنګو شملو څو کسان

چې مجلسونه کوي

او يوه لوري ته يې

د اوبو ډکه وياله

په بهېدو شور کوي

په ډېر نري شمال يې

پلنې پاڼې رپي شرشر کوي

شي لپه لپه د دادا لپاره

رب نه غواړي مغفرت اومينه

رڼا مومند

زړه ستا په یاد ډوبیږي

کله چې لمر زمونږ په کلي باندې

خپلې رنګینې اوزرینې څڼې

کرار کراره را خورې ورې کړي

کله چې شین آسمان خړپړ غوندې شي

او بیا په زوره زوره وژړیږي

کله چې سپینه څوارلسمه سپوږمۍ

دقوڼکۍ په شان

سپینه رنګینه لمنه

زمونږ په کور کلي راوغوړوي

نو ته ،

نو ته ،

زما له څنګه لرې یاره

په هغه دم کې ما په یاد ولړه!

هو !

ځکه هروخت زه په هغه محال کې

له لرو ، لرو

ستا د یادواو خاطروپه

هیله

هر شیبه اوهر ساعت تیروم

ځکه ،

هردم داسې

شیبوکې!!

زړه ستا په یاد ډوبیږي

## زرپانه همپا

زرپانه همپا د اسدالله خان همپا لورد عبدالعزیز خان توخي لمسۍ ده په ۱۳۲۴ لمریز کال کې د قندهار په څلورمه ناحیه کې زیږېدلې ده اغلې همپا له دولسم ټولګي فاغه اود لوړو زده کړو د پیلولو په درشل کې ده . اوسنۍ بوختیایې ښوونکې مقدسه دنده ده.

زرپانه همپا که یوازې د کندهار د ښځینه شاعرانو استازې وبلل شي ، لویه بې انصافي به وي ځکه د نوموړې شعري ځانګړنې په هغه کچه دي چې تر اوسه لا بیخې ډیر نارینه شاعران هم ځنې بې برخې دي. دا به سمه وي چې د دې خور شاعرانه احساسات به د لطیفو ښځینه عواطفو په غیږ کې د دې د هر شعر په بیت – بیت کې په منډو وي ، مګر خبره همدوره سطحې نه ده ، بلکې د احساساتو او خیالاتو د انداز بیان غوره کیفیت هم باید له پامه ونه غورځل شي چې زموږ د دې درنې شاعرۍ په شعرونو کې سر له همدا اوسه لا نبه په پیخر تر سترګو کیږي. افغاني په تیره پښتني ټولنه دومره بختوره نه ده چې ښځینه غړې دې یې هم په تعلیم سمبالې وي ، نو په دغسې معاشره کې د زرپانې همپا په شان پوهه ، ځیرکه او حساسه ښځه د الماسو حیثیت لري چې باید ډیر قدر یې وشي. په هر صورت د دې آن له یوه شعره لا هم هغه ولسي درد او رنځ محسوسیدای شي چې د آغلې همپا شاعرانه احساسات یې متاثیر کړې ، دا چې هر څه وایي ډیر یې په زړه پورې وایي ، هر توري ته د شعري ژوند ورکولو په هڅه کې ده او نامریې جهان ته د عالي خیال په وزرونو الوت کول غواړي چې  تر اوسه لا په خپل دې تلاش کې د بلا کامیا بیو څښتنه ده او زه د یقین تربریده ویلای شم چې دا آغلې به یو مهال د پروین ملال په شان یو ویاړ وي.

داهم داغلې د شعرونو نمونه:

پښتون زړه

زړه مې د سينې څه مرور ولاړی

ولاړی د عمرونو په سفر ولاړی

ما زې زردشتې لمبو ته څيرمه شو

بيا لکه د سترګو څه نظر ولاړی

ستا په يو دريځ لکه پښتون غرور

پورته و آسمان ته لکه سپر ولاړی

غرق شو په نيلاب کې له اوشا س سره

داسې وارشاک ته برابر ولاړی

ژړ مازديګري کې همپا ! ولويدی

بيا نو تر سهاره لکه لمر ولاړی

پته مې ولوله!

طبيعت کې بدلون ښکاري

انقلاب پر کايينا تو

سور انګار مې زړه کې پروت دی

شو مې وران کور د خيالاتو

د حکمت هرې تابلو ته

تللې ډوبه او نشه يم

ګاهې لامبمه هلمند کې

ګاهي ناسته پر سپین غره یم

کله زبیښم د تاک وینې

په ګډا او مستۍ کښیوزم

د ماښوم رنګي سریو سم

پر سینه یې د مور کښېږدم

جام د سرو شرابو نوش کړم

میخانه کې په نڅا شم

د بابا غیږ کې چپه شم

په غیرت کې آریانا شم

چرت مې واخلي خیال مې یوسي

د ارغند شنډو څپو ته

په ورو - ورو مې فکر هسک شي

د پامیر لوړو سرو ته

بې پروا قلم راوا خلم

سوي چیغې پرې انځور کړم

غرنۍ شپیلۍ ته لاس کړم

څو نغمې ور په کې سور کړم !

# زرلښت حفیظ ملکزی

زرلښت حفیظ ملکزی د ملک حفیظ الله لور د ننګرهار د ښیوې ولسوالۍ د قلاتک د کلي د ملکزیانو په کورنۍ کې زیږېدلې ده په کوچنیوالي کې یې خپل پلار د لاسه ورکړی او پینځه کلنۍ کې د ښیوې نه ننګرهار ته د خپلې کورنۍ سره راغلې ده او د ننګرهار د الاېي لېسې دولسم ټولګي نه فارغه شوېده.

عالي تحصیلات یې د کابل د اجتماعي علومو په انستیتوت کې کړیدي دهغې نه ورسته یې د موراو ماشوم په رشته کې د نسایي ولادي څانګه کې خپل تحصیلات بشپړکړي دي د پاکستان د پېښور ښار د ناصرباغ د تاني ځنګ سید جمال الدین افغان په روغتون کې د قابلې په توګه یې دنده تر سره کړې.

زرلښته د ۲۰۰۲ په جنورۍ کې کاناډا ته مهاجره شوې ده او هلته د یوې لنډې وقفې نه ورسته بیا هم خپل تحصیلاتو ته دوام ورکړ دمګړۍ د کاناډا د البرتا په ولایت په یو روغتون کې رسمي دنده لري خو سره له دې چې هغه کارکوي خپلو تحصیلاتو ته د طب په برخه کې دوام ورکوي هغه اوس هم درس وایي د زرلښتې ماشوم توب په همیشه بهار ولایت ننګرهار کې تیر شویدی هغې په ۱۳ کلنۍ کې په شعرویلو پیل کړیدی زرلښته د طبیعت د ښکلاګانو سره زیاته مینه لري د زرلښتې شعرونه او لنډې کیسې د هیواد دننه او بهرپه ورځپاڼو ، مجلو او د نیټ په سایټونو کې نشرېږي چې دا لړۍ دوام لري زرلښته وایي دژوند په هره شیبه ورته ډیر ارزښت لري شاعرۍ او لیکوالۍ شره ډیره مینه لري هغه وایي کله چې ډیره ستومانه شي نو بیا قلم پورته کوي شعر او کیسې لیکي هغه د خپل هیواد سره ډیره مینه لري څلورچاپي اثار لري چې په لاندې توګه دي:

١ – څوانیمرګ ارمان

٢ – شرقي ښکلا د غرب په ماڼو کې شعري ټولګه

٣ – ښځه د ژوند په هنداره کې د لنډو کیسو ټولګه

۴ – د سولې انتظار شعري ټولګه

زرلښته نور ناچاپ اثار هم لري چې چاپ ته تیار دي یو په بل پسې به یې چاپ او مینه والو ته به یې وړاندې شي.

داهم داغلې حفیظ د شعرونو نمونه:

افغانه ښځه

ښځه حيا ده لوپټه د عزت
ښځه ښکلا ده د ژوندون مرحمت

په يوه لاس ښځه جهان زنګوي
په بل زانګو او ماشومان زنګوي

ګردې نړۍ کې قهرمانې ښځې
سل افرين په تا افغانې ښځې

په بسم الله باندې هر کار پيلوي
پاکې ستوره او مسلمانې ښځې

ښځه ښادي او خوشحالي د ژوندون
ښځه ډيوه او رڼايي د ژوندون

ښځه غوټۍ ده دګلونو خانګه
ښځه ښکلا ده نورونو وړانګه

هره يو انسان ته محترمې ښځې
ماته له هر چا معظمې ښځې

په پاکه غیرږکې اتلان وروزه

هر تجاوز ته فاتحان وروزه

له تانه ځارشمه افغاني ښځې

اې په نړۍ کې قهرناني ښځې

د سولې غږ په هر افغان بې ښځې

ته حفیظ د زړه ارمان بې ښځې

ستا دحیا ستا د عفت نه قربان

ستا د ایمان او عقیدت نه قربان

شمله ور

شمله ورو پټکي وتړئ جرګه شئ

د ارين په خاوره ټوله راښکاره شئ

د نازو بچي شتهيږي په سرو وينو

يا ميرويس شئ يا احمد د زرغونه شئ

يا پټکي له سره ښځوته ګذار کړئ

يا يوالی د غيرت جګه شمله شئ

د وختونو د ظلمت دور کړئ ختمه

يويشتم پيړۍ کې بيا يوه ننداره شئ

ماليدلي افغانان کم زوره نه دي

د تاريخ په زرين پاڼو کې ښايسته شئ

د حفيظ د هيلو سپين کوترې ورک دي

بيا د سولې سپين کوترې شئ جرګه شئ

زخمي کابل يم

چاپه ګولو وويشتم چاپه توپو وويشتم

څوک مرور شو رانه په ډيرو خيرو وويشتم

چا کړمه خرڅ په پردو زما غرور يې مات کړ

چا د ښکلا په نامه په لوڅ تنو وويشتم

زما نازولې ميندې نن د پنجاب کوڅو کې

لاس کې کچکول ګرځوي په پيغورو وويشتم

دا خواراو زار ولس مې ټول ترې تم شو رانه

د هر شيطان د لاسه په شره ګلو وويشتم

څوک د غرور په شوق کې زما ټټر نخه کړي

څوک د قدرت ليوني په ډيرناندرو وويشتم

زما يتيمان اهونه پاس تر فلک پورې لاړ

دا زمانه مې وژني په ناکردو وويشتم

لاخوتنکي ځوانان مې د مزدورۍ پسې ورک

لاس کې پولۍ ګرځوي په نا اميدو وويشتم

اې درپه درو خویندو لاسونه پورته کړئ بیا

یو د خیرسوال وکړئ چې نن پردو وویشتم

د غیرتونو ځاله طلایي تاج مې په سر

زه د شاهانو کوروم نن غربتو وویشتم

خوشحالي نه پیژنم زه د ویرونو کور شوم

دغه بې وخت مرګونه په جنازو وویشتم

حفیظ د غم شیبو کې د سولې لعل غواړي

د کوم نباماړ د خولې نه دلعل ارزو وویشتم

زخمي کابل یم ګوره نور د غم تاب نه لرم

خدایه یو سوله غواړم لایق د عذاب نه لرم

# زرغونه توخي

زرغونه توخي د امیرمحمد لور لومړني زده کړې يې د خراسان په ښوونځي کې سرته رسولي د کانکور د ازمويني وروسته د ښووني او روزني پوهنځي ته بريالۍ شوه او د يوولسم ټولګي را پديخوا د شعر ښکلي هنر ته مخه کړې او په لومړي ځل خپل شعر د ميرمن کلتوري بهير کې واوراوه.

دا يې هم د شعر نمونه:

اې زما دې ميني ياره

تا به هير نکړم نګاره

هر ساعت را ته ياديږې

په زړګي مې راوريږې

لکه ګل پشان تازه يې

د ګلاب پشان تازه يې

ته زما ښکلی جانان يې

ته مې ژوند ته مې ارمان يې

# زرغونه رحمتي

زرغونه رحمتي په ۱۳۵۲ کال کې د کابل په ښار کې سترګې دې نړۍ ته وغړولې اصلی تاټوبی یې د لغمان ولایت د عمرزو کلي دي. له ۱۲ کلنۍ څخه یې د شعر سندریزې چینې وخوټېدې او له ۱۳۷۲ کال راهیسې یې خپل وزګار وخت شعر ویلو ته ځانګړی کړی دي.

پلار یې ارواښاد رحمت الله رحمتي د محمد الله ساپي زوی هم د پښتو ژبې ښه شاعرو چې ډېر شعرونه ترې پاتې دي.

زرغونه رحمتي چې د داسې ادیب او شاعرپلار په غیږ کې را لویه شوې ده ، له شعرسره لیونۍ مینه لري دا خپله لیوالتیا د خپلې کورنۍ د احساس زیږنده بولي آغلې زرغونه د کوم ځانګړي سبک پیروي نه کوي بلکې په بیلا بیلو وختونو او ځایونو کې چې کله ورته د شعر ښاپیرۍ الهام راوړي ښکلي شعرونه وایي ، دا چې د مور ژبه یې هم دري ده تراوسه یې په پښتو او دري ژبه ډېر شعرونه ویلي دي.

په پښتو ادبیاتو کې د پلار په هڅونه برسیره د افغاني ادب د تکړه لیکوالو او شاعرانو لکه علم ګل سحر او حکمت الله کاکړ د هڅونې اولارښوونې منندویه ده.

زرغونه رحمتي په ټولنیزو او کلتوري فعالیتونو سربیره د ریاضي او فزیک په برخه کې د سید جمال الدین افغان په انستیتوت کې خپلو زده کړو ته دوام ورکړ او په ۱۳۸۳ کال کې له دغه انستیتوت څخه په لوړه درجه فارغه شوه. او له فراغت وروسته یې د کابل ښار په یو شمیر ښوونځیو کې د ښوونکې په توګه دنده تر سره کړه.

د هغې مینې له کبله چې له کلتوري فعالیتونو سره یې لرله د سنایي په پرمختیایي موسسه کې د( اعمارصلح ) مجلې د مسئولې مدیرې په توګه وګمارل شوه.

نوموړې ۵ کاله وړاندې واده کړي خاوند یې عبدالناصر نیک انجام پخپله له شعري قریحې څخه برخمن دی .

او د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو له پوهنځي څخه فارغه شوې ده ، او په کلتوري برخه کې د دې یو ازینې همکار او هڅوونکی دی . دا د پنځو اولادونو مورهم ده.

میرمن زرغونه د یو شمیر لیکوالو میرمنو په هڅونه د میرمن کلتوري ټولنیز بهیر غړې شوه او س د دغه بهیر فعاله غړې او د اړیکو د کمیټې غړیتوب یې هم لري.

ځنځیرونه

د ژوندون هره شیبه ده لکه اوښکه را روانه
راشه وګوره چې څنګه زه ژوندۍ یم بې له تانه

اوس چې زما د زړه له بڼه پسرلی په تیریدو دی
ګوره زما د زړه داغونه نن د مخ په زیړه پاڼه

د تیارو په تغر ناسته د رڼا په تمه تمه
د ځوانۍ موسم مې تیر شو ، بې خبره له خپل ځانه

لیونۍ غونډۍ یوازې زه په شاړو کوڅو کرځم
ستا یادونه ژوندي کیږي په نظر له هرې خوانه

نه هیریږي زما له یاده د غمونو په تورتم کې
نه د چا په تمه ناسته چې ډیوه کاندې روښانه

څو د اوښکو ځنځیرونه زما پرمخ وهی څپیړې
نور به څه وایم چې څنګه داسې ښکارم پریشانه

که ژوندون را سره مل شي یوه ورځ به درته وایم
اې زما د زړه دښمنه ماته مه وایه جانانه

غزل

که ته رانشې بيا نو لمر شي څنګه

دا توره شپه بيرته سحر شي څنګه

زما له سترګو نه چينه جوړه شي

لوند نو په اوښکو مې ټټر شي څنګه

څوک به زما د زړه پوښتنه وکړي

د زړه له حاله مې خبر شي څنګه

دا ستا نظر چې زما په سترګو نه وي

په تورو سترګو مې نظر شي څنګه

غمونه ډير شي د وصال په تمه

په وينو ډوب زخمي ځګر شي څنګه

يادونه څو ماته انځور جوړوي

هير به زما د زړګي سر شي څنګه

سپينه سپوږمۍ مې څو ختلې نه وي

روژه مې پاتې وي اختر شي څنګه

)زرغون) يوازې د هجران له غمه

دا ستا په مينه دربدر شي څنګه

# غزل

راشه چې وکړم ستا د حسن دیدنونه نن بیا
زما په سترګو باندی کیږده قدمونه نن بیا

د پسرلي په شنه لمن کې زما د هیلو په بڼ
د خیال په ټال کې په نڅا کړه انځورونه نن بیا

که مې نصیب د ستا لیدل وي زه به ووینمه
دا ستا د ګل غوندې پرمخ ښایسته خالونه نن بیا

اوس چې راغلې ستا د حسن پسرلي په چمن
زما په شونډو غوړیدلي دي ګلونه نن بیا

په یو نظر ماته دمینې افسانه ووایه
زما په غاړه کې راواچوه لاسونه نن بیا

دا ستا د سترګو لیونۍ یم خو ویلي نشم
د زړه په ژبه درته وایم غزلونه نن بیا
زرغونه ستا په تمه چې ته یو ځل راشي
په مینه لرې کړه د زړه زاړه غمونه نن بیا

# زینب مصباح سالك

زینب مصباح سالک دعبدالقادر لورپه ۱۳۵۹ لمریز کال دننګرهار ولایت په مومندرې ولسوالۍ کې زیږیدلې ده، اغلې سالک وروسته په پیښور کې د مریم له لیسې نه فارغه شوې ده. په ۲۰۰۰ میلادي کال کې یې واده کړې اوددریوزامنو موره ده.

اثاریې په دې توګه دي:

۱ : سپینې بڼکې شاعري چاپ

۲ : دخوښۍ راز ژباړه چاپ

۳ : دخلیل جبران ناول المصطفی ژباړه چاپ

۴ : دخلیل جبران ادبي ټوټې ژباړه نا چاپ

دایې هم دشعر نمونه:

## غزل

مري دښنا پيرو او دګودر کيسه

ديو تيارو وړي دمازديګر کيسه

څو تنکۍ ګيلۍ وي چې سندرې شي

څو مره ده خوږه زموږ د شر کيسه

خدايه ايمل خان با با به رانه شي؟

هيره شوه له خلکو دخيبر کيسه

ستا دسترګو لمس مې سندريزه کړي

پاتې شي د درد او دپرهر کيسه

ستيج او کردارونه په کې نوي شي

نوره ده زړه دخير او شر کيسه

مونږه رڼې کړې په سندرو شپې

مونږه ژوندۍ کړې د هنر کيسه

سيورۍ دې دڅان کړم درنه تلې نه شم

وايې لاروېه چې دلمر کيسه

يو ستا دښايست توري پرې ليک دي بس

نوره مې خالي ده دنظر کيسه

# سارا کاوون

سارا کاوون د برید جنرال نورالحق کاوون لور په ۱۳۵۲ لمریز کال کې د خوست ولایت د متون بابا په فاملیانو کې نړۍ ته راغلې ده .دهغې پلرنی ټاټوبی د کاپیسا ولایت د تګاب ولسوالۍ د نوروزخیلو کلی دی. په خته صافۍ ده نیکه یې د خپل وخت نومیالی سوداګراو د قوم مشر و. سارا په شپږ کلنۍ کې د کابل ښار د بي بي شمسو په ابتدائیه ښوونځۍ کې شامله شوه د کو چنیوالي څخه یې د لیک لوست سره ډیره مینه وه دخاص استعداد او ذکاوت خاونده وه دڅلورم ټولګي را پدې خوا یې د کیسو او شعرونو په لیکلو لګیا وه.

سارا کاوون ډیره مهربانه ، زړوره ، هوښیاره او د ښه درک څښتنه وه تل یې د نورو دغم او ښادۍ په مراسمو کې ځان شریک باله د وطن او خلکو د مینې لیونۍ وه تل یې د وطن د ودانۍ او خلکو د سوکالې اند یښنه درلوده که څه هم په عمر وړه وه خو په تدبیر کې ډیره پخه وه.

خو دبده مرغه په تنکې ځوان کې د مرګ دخونړیو منګولو قرباني شوه یعنی د ۱۳۶۷ کال د اسد د میاشتې په ۲۰ نیټه له دې فاني نړۍ څخه لاړه روح یې ښاد او فردوس جنت یې په نصیب شه.

داهم داغلې ساراکاوون دشعرنمونه:

کنړه

نن په کونړ کې زلزلې خورې دي
وریځې ګرځیږي او تیارې خورې دي

ښکلي زلمي د ځمکې غیږله ځي
په کونړ د غسې لمبې خورې دي

کنړه ستا یم داورونو شاهد
ستا په کورو کې د ویرونو شاهد

ما د ګولیو داړي ولیدلې
ستا په سینه یم د ټپونو شاهد

کنړه ستا مې شاه زلمیان ولیدل
دغرو لمن کې مې زمریان ولیدل

کنړه ته به په جنت بدل شې
درنه په تیښته چې لیوان ولیدل

ما دې د پیغلو تلوسې ولیدې
ما دې د میندو وسوسې ولیدې

ما د زړې ابۍ د تور ټیکري نه

د سپینو ستورو پلوشې ولیدې

خو زړه مې بل شانته تسل راکوي

جرآت ورتګ ته مورچل راکوي

وایي را پورته شئ باتورو زلمو

دا آوازونه مې ګوګل راکوي

مادې د سین مستي لیدلې

په کتابوکې مې کیسې لیدلې

مادې د سین سرې اوبه ښنلې دي

ستا په اوبو کې مې مزې لیدلې

کنړه ښکلې د میوو وطن یې

شاعر لپاره د شعر ووطن یې

په ما ډیر ګران یې ځکه ستا یمه دې

په وینو رنګ د حماسو وطن یې

## څه کوي

خيال مې په زړه کې د جانان څه کوي
په سپيرو دښتو کې سلطان څه کوي

نن د جانان زلفې خورې دي پر مخ
د سپوږمۍ غاړه کې ماران څه کوي

زما د زړه بېړۍ را ډوبه نکړې
دلبره ستا د عشق توپان څه کوي

چې غم موجود وي ښادي کله راځي
د سپو په کلي کې غرڅان څه کوي

ماویل ټول به کړم حاصل د مینې
خدايه پدې وخت کې باران څه کوي

## وځليدم

بادار چې ځنګه ایشاری کولي
زه هم همغه شانی و نځیدم

دخان د جینګو ، جینګو داړ لاندي
لکه هډوکې غوندي وکړیدم

که به زما په تندی اور شورابل
پټ به د شمع غوندی وژړیدم

آخر به ورانه کړم نړۍ د ظلم
خپرکه د دار په رسۍ وځړیدم

که مې دا توری ورځې تیری کړلي
خونن د ستوری غوندی وځلیدم

## زما زخمونه

مړه شوي نه يمه ژوندی يمه زه

مور جاني ما پسی ژړا ونکړې

الله دې وښه ، داونه وايي

ما ته دمړه په شان دعا ونکړې

که غواړې نوم زما ژوندي پاتي شي

زما به خواه سره وفا ونکړې

زما ددښمن په مخ کې ونه ژاړی

خورجاني پام کړه داخطا ونکړې

روکيه ! شپه ورځ بيداره اوسه

پام دمستۍ ډنډکې شنا ونکړې

مينه کې کلک اووفا داره اوسه

پام چي ليلا سره جفا ونکړي

رقيبه ! عمر په ژړا بدې شي

زما زخمونو ته خندا ونکړې

# سپوږمۍ

مه پلاره

پلاره لاماشومه یم

زه ډیره مظلومه یم

راغلي چې له کومه یم

هغسې معصومه یم

ستا د سترګو توریمه

هم درته رجړومه یم

ستا د پټکي ګل یمه

ښه درته معلومه یم

هم دي یم دزړه ټوټه

په غم کې د مغمومه یم

نومه مي ورکوه پلاره

مه مي خرڅوه پلاره

ته په خو روپو باندی

مه مي ځوره پلاره

ځلوریځه

جرم مې څه ګناه مې څه ده وايه

لکه نينه ما کړوې له خپلو هيلو سره

دا څومره ظلم څومره زور ده اشنا

دعاطفې غر نړوې له خپلو هيلو سره

## سوسن نايل

سوسن نايل د عبدالحليم خان لور چې په ۱۹۸۶ م کال په کندهار کښې زيږيدلې ده لومړنی او منځنی زده کړې د رابعه بلخي په ښوونځي کې تر سره کړي دي. سوسن نايل د يو کال راهيسې شعرونه ، ادبی ټوټې ليکي.

دا يې هم د شعر بيلګه:

مور نه ده پرښته ده

يو جلا غوندې ډيوه ده

د زړګي تازه ميوه ده

مور ستا حقداري ډيره

تر قربانيو ده هم تيره

تا ګاللي زحمتونه

ستا وفا به نکړم هيره

موري ستا مقام اوچت دی

ترپښو لاندې جنت دی

که ودانه ده نړۍ نن

ستا زیارستا شفقت دی

مورې ته یې مهربانه

ډیره ما باندې یې ګرانه

## سوله نیازی

سوله نیازی د ډګروال فضل الرحمن لور د دولسم ټولګي زده کوونکې ده اصلي ټاټوبی یې د لغمان د الینګار ولسوالۍ ده د ۱۹۹۰ زیږیز کال د اکتوبر په دریمه زیږیدلې ده ابتدایې زده کړې یې د پیښور کې ترسره کړي په۱۳۸۴ کال کې خپل هیواد ته راستنه شوه له لیکوالۍ او شاعرۍ سره مینه درلوده په لسم ټولګي کې یې شعر ویلو ته پیل کړی اوتر اوسه لا د شعر الهامي څپې پرې راځي او شعرلیکي.

دا یې هم د شعرونو بېلګه:

غزل

سوز مې د ځيګر څنګه بيان کړمه
څه ډول پرهر مې نمايان کړمه

تا پسې زيړ ګل د بيابان شمه
څه ډول مې اوښکې زه پايان کړمه

ښکلې د ځوانۍ ده د ګلاب په شان
څه ډول توصيف دې په زبان کړمه

ياد دې په زړګي راته داغونه ږدي
څه ډول فرياد د زړه بيان کړمه

ژاړمه زه تا پسې ارمان دې کړم
څه ډول يادونه دې پنهان کړمه

يا ربه فرياد د ( نيازی ) واوره ته
څنګه مې پوره دا خپل ارمان کړمه

غزل

پسرلی راشه خوشحالي راوله

زړونه تازه کړه نیک بختي راوله

ستا په راتلو به هر یو روح تازه شي

د بڼ ګلانو ته مستي راوله

چې خوشبوئی دی هر چمن نه خیژي

غیرۍ ته لیري پردیسي راوله

د ( نیازی ) سترګی انتظار پاتې شوې

غمونه لرې کړه دوستي راوله

# شایمه ذهین

شایمه ذهین د سپین غره د شاعرانه سیمې او ګلبڼ هغه نوې غوړېدلې غوټۍ ده چې له یوه کال راهیسې يې په شعرويلو پيل کړی ،اوترد ې دمه يې تر د ېرشو زيات شعرونه اونظمونه ليکلي

نوموړې دمحصل خان لور د ننګرهارولايت د خوږيانوولسوالۍ دبربيار په سيمه کې ځوارلس کاله وړاندې زېږېدلې ده.

اوس مهال دیادې سیمې دنجونو دمنځنې ښوونځي په نهم ټولګي کې پرزده کړو بوخته ده.

دا چې هغه کوم لامل ؤچې اغلې ذهين يې پر شعر ويلو راوستله ؟

نوموړې وايي: زمونږ په وطن کې جګړې ،جنګونه ، دربدرۍ اوژوند ناساز شرايط ددې لامل شوي ، چې زمونږډېرۍ وطنوال په سرو سترګو وژړوي او ژوند خوږې نغمې يې پر سادو بدلې کړي ، لکه رحمان بابا چې وايي:

داد ستوردی چې له درد زګيروي خيژي

که نه څه ؤد رحمان له شاعرۍ

همدغو دردونو پر ما هم ژور اغيزکړی او زه يې پر دغو زګيروو سر کړې يم دذهين شاعرې روانه او هر ډول تکلف نه خلاصه ده هر څه ته په خپل ماشومانه نظر ګوري او بيا يې د ېرپاخه اوهنري شکل د شعر په ژبه بيا نوي . هغه دوايي چې دشعرونو زياته برخه يې وطن ته ليکلې او يو نيم حماسي شعر هم ليکلي.

لومړی شعر يې دتيرکال په پسرلي کې ليکلي هغه دشعر ليکلوتر څنګ يوه نيمه کيسه هم ليکي خوايي چې ډ ېره پرې نه ده په شعر ليکلو کې ورسره ښاغلی نجيب الله مرسته کوي.

نوموړې غواړي په راتلونکي کې يو ښه شاعره واوسي.

اودايي هم دشعربېلګه:

## غزل

ښکلې ماڼۍ زه لندن څه کوم
ثومره ښایسته ښکلی بوستان لرمه

لعل و مرجان د بل وطن څه کوم
د سرو لالونو بدخشان لرمه

دښمن مې وژنم په خالي لاسونو
لکه د تیرې کلک ایمان لرمه

چې په ټپه یې دښمن ته ماتې ورکړه
زه د ملالې په قربان لرمه

شایمه ذهین پرې فتخارکومه
چې نن ازاد افغانستان لرمه

## شریفه نوري

### ابدي سفر

له دې دنیا نه د نیمګړو آرمانو سره ځم
د نامراده پاتې شویو کاروانو سره ځم
د چاد زړه تړتې به تللې په یو بل مکان وي
زه يې تسل ته دوړو ورو سلګو سره ځم
لکه شبنم چې ته ګلونو د چمن او ریږې
زه هم دداسې پاکو او ښکو له شېبو سره ځم
که خاطرې د ښه عمل مې ستا په زړه پاتې شي
له دې نړۍ نه به د خپلو عملو سره ځم
لکه په ښکلي باغ وبڼ کې د ګلان ښکاریږي
داسې په شنه شا ل کې د ګلونو بدرګو سره ځم
چې مې دژوند د آرمانونو دنیاورانه شوله
لکه د ګل به پاڼې پاڼې خزانو سره ځم
د خپل وطن دیدن مې هسې په زړګي شوپاتې
په بل دیارکې له بې شمېره حسرتو سره ځم
دهغه یار چې یې یادونه تل له ما سره وو
اوس یې له خوانه په نا هیلو فریادو سره ځم

# شکریه خروټې

شکریه خروټې په کال ۱۳۵۲ د کابل ښار په یوه روښنفکره کورنۍ کې زیږیدلې ده. بکلوریا زده کړې یې د عایشې درانۍ په لیسه کې پای ته رسولې او لوړې زده کړې یې په ۱۳۸۲ کال کې په کابل پوهنتون د ژبې او ادبیاتو په پوهنځي کې کړې دي.

له پوهنتون څخه له فارغیدو وروسته یې د نشراتو په ریاست کې د آرټ او ډیزاین د مدیرې په توګه دغه راز د خپرونې ریاست د مرکز خپرونې وو کلنۍ کې یې دنده ترسره کړې او اوس د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د باختر آژانس په ریاست کې د خبریالې په توګه دنده ترسره کوي.

دې په ۱۳۶۹ کال کې یې په شعر ویلو پیل کړی چې زیاتره شعرونه یې غزلې دي چې تصوفي او عشقي اړخ لري. دا وایې تېول یې یوسل و دولس پارچې شعرونه دي چې تراوسه پورې د مجموعې په توګه ندي چاپ شوي.

داهم داغلې خروټې د شعرنمونه:

## بیلتون

هرڅه کومه هیروی دې نه شم
له خپل زړګی دې بیلولی نه شم

تا رانه غواړي دا ماشوم زړګی مې
په خپل خبره بې پوهولی نه شم

ستا جدایي کې لیونۍ غوندې شوم
ددې سزا ګناه موندلی نه شم

تا خو دمینې لاس خطا کړله ما
زه دغه مینه پریښوولی نه شم

له مانه لاړې بیا رانه غلې ولې
تاله خپل زړه نه زه ایستلی نه شم

تا خوزما د مینې کور وران کړی
زه بې بې له تانه جوړولی نه شم

تاچې له ما مرور کړی خپل ځان
عذر او زارۍ درته کولی نه شم

# د جفا غم

اوس مې زړه کې تاته ځای د مینې نشته

اوس مې ستا د جفا غم په زړه کې نشته

که ته دومره د بل چا په عشق مغرور یې

اوس مغرور ګرځه په ما کې وفا نشته

ماویل ته مې د زړه بله ډیوه یې

اوس تیاره ده نور په ژوند کې رڼا نشته

دا نیمګړی ژوند مې ستا په مینه زوړ شو

اوس په دې وجود کې توان د سزا نشته

ستا بیلتون هسې له ځانه بې خبر کړم

چې ژوندون مې په دنیا کې بې تا نشته

شکریه مرهونۍ

ګرانې ګرانې له خپل ګران درته راپیښې شوي
دا ګرانې ، ګرانې به زغمې ترڅو چې ګران دې نشته

د هغه ښار باغ مړاوي ګل بې چې باغبان نلري
دهغې لارې لاروی بې چې کاروان دې نشته

له هغې ورځې چې د عشق په درد اخته شوې بې
مرهونې خوند د هیڅ غزل او داستان دې نشته

غزل

ما درته خلاص کړو کتاب دا پر تا څه شوي دي

خو ته هيڅ نه وايې ځواب دا پر تا څه شوي دي

نور مې د اوښکو بهولو څخه ويره مه کړه

پام کوه وړي دا سيلاب دا پرتا څه شوي دي

له دې نه وروسته بې په خدای په چاويدو ويريږم

زړه مې شو سپک لکه حباب دا پر تا څه شوي دي

غواړم اشنا چې دا سرکس فکر دې وتړمه

د خپلو زلفو په تناب دا پرتا څه شوي دي

په کاڼي زړه کې چرته لږ رحم لرې او که نه ؟

زما دې عمر کړو خراب دا پرتا څه شوي دي

جانه ترڅو به رواج پرلمبو ځان سوزوې

پکار دی ښکلی انقلاب دا پرتا څه شوي دي

مغروره ! ډير د خپل غرور په نيلي وګرځيدې

لږ ياد وه د خدای عذاب دا پرتا څه شوي دي

افسوس په دې چې د خالق په دومره لوی مخلوق کې

مرهونې ته کړې انتخاب دا پرتا څه شوي دي

غزل

پيغله يم افغانه شجاعت کې نوميالۍ يمه

ځکه خو دژوند په پړاوو کې برياليۍ يمه

دومره مې د تورې په ډگرکې نوم روښانه دی

څومره چې ښکلا د انغري او چرکۍ يمه

وينوکې پيدا شوم په باروتو کر رالويه شوم

زه يوه ښه بيلگه د وطن د تراژيدۍ يمه

وخت به راشي بيا به يو څراغ د رڼاگانو وم

اوس که د شعور د لارې تته ډيوه گۍ يمه

نور دې دا انگريزنظرته ووايه چې ټيټ اوسي

زه يم دايوب ورينداراوخور د ملالۍ يمه

داسې به دې خپل حسن کې ټوله ، ټوله گرځمه

ته وا د پکتيا د دنگو ، دنگو غروخيرۍ يمه

وگوره چې شک دې د يقين جامې اوس واغوندي

ستا د محبت په تور روانه تر سولۍ يمه

دا تياره ، تياره مزل د ژوند که مې رڼا نه کړ

نشته ، نشته ، نشته ، نشته

# شګوفه مینه

له نن نه یو ویشت کاله دمخه دوري په میاشت کې په کابل کې دې نړۍ ته راغلې په کال ۱۳۸۴ لمریز کې دکابل ښار دالفتح عالي لیسې نه فارغه او ژورنالیزم پوهنځۍ ته بریالۍ شوه، په ۱۵ کلنۍ کې یې په شعر ویلو پیل کړی دی خو تر اوسه لا په دې نه توانېدلې چې خپله شعري ټولګه خپره کړي خوږې ږې شعرونه یې دنورو خپرونو له لارې خپاره شوي دي.

دا هم داغلې شګوفې مینې د شعرنمونه:

بدمرغه

انۍ مې چیغه وکړه

پلار مې په قار شو

مور مې وژړېده

او نورو

ناڅاپه دا پوښتنه وکړه

بیا یې لور وزېږو له ؟

۱۳۸۷/۲/۳۰

دوه مخي

له آيينې نه هيڅ ګيله نلرم

پرېږده دوه مخې وي دروغ ووايي

دهغه کس دروغ زغملای نشم

چې مې دزړه دنيا کې

دباور خښتونه

هغه ته يوه دنيا جوړه کړه

نازک بدن او خپل پاک روح مې

د زړه له کومې ورته وبښلو

زما وجود نه يې خپل خوند واخيسته

وفا يې زما مخکې په کلکومزوو ترڅله

خو بيا يې نورو ته بې شرمه او ناپاکه ښځه وپېژندم

۱۳۸۷/۹/۲۹

لېونيه !
ځنګه دې پوه کړم

زه دا مينه د خپل زړه تا ته ويلای نه شم

دا دواړې سترګې لټوي ستا سترګې

خو زه له ډېره شرمه

سم در کتلای نه شم

چې دې د زړه په احساس پوهه شمه

د تا زړګي ته لار موندلای نه شم

مه خپه کېږه له ما

که ته خپه شې رانه

زه د از غملای نه شم

ته به خبر يې که نه

زه خو خپلواکه نه يم

زه د يو ګوډ په نوم يم

زه لا ما شومه وم

چې دوی رانه دا حق واخيستو

اوس يې له چا نه زه غوښتلای نه شم

د مينې نوم مې تش په زړه راوړلای نه شم

په دې وطن کې

زه د نورو مخکې

دخپل مین نوم اخیستلای نه شم

زه اوس مجبوره یم ما وبنبه خو

نظر دې زما له سترګو مه اړوه

زه خو خپلواکه نه یم

زه دیو ګوډ په نوم یم

۱۳۸۲/۵/۲۹

نفرت

له لرې لرې مینه ما سره په مینه کوې

او که دې څنګ ته درشم

ما ته نفرت کوې او لرې تښتې

نو ته هغه یې چې خپل یار ته وایي:

هلته لېوه ده لرې مه ځه!

څنګ ته مې مه راځه نفرت در نه کوم

۱۳۸۲/۱۲/۲۳

حق

که ته هغې ته چې د خپل قانوني حق څخه دفاع کوي

بې شرمه وايې

نو پام دې وي چې ته پخپله بې قانونه حق غوښتنه کوې

نو ستا اصلي نوم ، څه درته کيږدو ؟

۱۳۸۲/۱۲/۱۵

ځان غوښتنه

که يوه ښځه د خپل زړه د حال ويلو ته جرأت پيدا کړي

نور نارينه پخپله خوار او مور زور اچوي

او آن ښوونځي ته يې هم نه پريږدي چې درس ووايي

که دوی پخپله خور بنديز لګوي

نو ولې مور ته وايي:

مورې!

زه بېسواده نجلۍ نه کومه

۱۳۸۲/۱۲/۱۵

روژه ماتي

ته خودا وايې چې دنيا کې زه يم

تا خو پرتهولو باندې

کنايي نوم کېښوده

د موروپلار غوښتنه

تا خو په کلکه رد کړ

او ډېر دې وخندل پرهريو انتخاب دهغوی

او تا چې کله زه پربام ولیدم

ډېره دي خوښه شومه

او موروپلار باندې دې

بې حده زور واچاوو

چې هر رقم چې کيږي

په هر قيمت چې کيږي

تاته کوږده وکړي ما

اي کوتاه فکره!

ته خو حاضريې چې زما لپاره ځان قربان کړې

که زه پرباندې روژه ماته کړم

۱۳۸۷/۲/۱۷

# ( ش ، ل )

(ش ، ل ) دعبدالهادي خان لور د میدان وردګو ولایت په چک ولسوالۍ کې په یوه عالمه کورنۍ کې زیږیدلې ده.

زده کړې یې په خصوصي توګه دخپل تره له ښځې ، پلار او تره څخه کړې دي. په ۱۳۵۲ کال یې له کورنۍ سره هجرت کړی چې لا تراوسه هم هلته دمساپرۍ شپې سبا کوي. میرمن ( ش ،ل ) د ۱۳۵۷ کال له غمیزو وروسته دنورو افغانانو په څېر ځوربدلې او دردېلې ده او په شعرونو کې یې هم د ولس او خلکو چیغې او کوکارې دي ، دزړه براس او غم یې په شعرونو کم کړی ځکه خو یې شعرونه نه له ګل سره غږېږي او نه هم له بلبل سره دا وایي دخوښۍ شعرونه به هغه وخت ووایم چې زړه مې خوشاله وي اوزړه به مې هغه وخت خوشاله وي چې په ولس او خلکو کې مې جنګ ، زورزیاتی مرګ او وژنه نه وي. دمیرمن (ش ، ل ) ګڼ شعرونه یې په ګودر ، ګندهارا ، افغانستان ګوربت او ځینو نورو خپرونو کې چاپ شوي دي او شعرونو یوه ټولګه یې چاپ ته تیاره ده

دشعرونو نمونې :

پرېوتو

له سينې زړه زما په خه پرېوتو

ستا د کړو وړو په تماشه پرېوتو

چې قبوله قرباني شوه رب ته

ذبيح الله مخ په قبله پرېوتو

چې په کرکټ کې سنچرې جوړې کړې

محمد يوسف بيا په سجده پرېوتو

چې له سجدې نه يې انکار وکړلو

شيطان ته ګوره شرمنده پرېوتو

چې به حجاجو تبرک ترې راوړ

ښکلی نقاب بيا په کعبه پرېوتو

د حجاب دالوی فضيلت وګوره

چې پس له مرګه په ليمه پرېوتو

په صداقت کې مينه وکړه آشنا

فرهاد ته ګوره په تيشه پرېوتو

دروس ناورين لا ختم شوی نه و

چې بيا ناورين دامريکه پرېوتو

شام او ايران ته خدای خير پيښ کړي

عراق لوخړه او ايره پرېوتو

دفلسطین محشر خونه ختمېږي

عمریې ګوره په لړزه پرېوتو

په لبنان هم څه ناکردي تېرېږي

ناکردو په سلسله پرېوتو

مېرمن ش لام وایي دا لوی مصیبت

اوس په خیبر اوتاتره پرېوتو

خیبرویده دی

ځمکې احتیاط کړه په سینه کې دې خیبرویده دی

یو نازولی دزړه سر دې په بسترویده دی

یادیې له ما سره په زړه کې تیند کونه وهي

هغه زړور ،ښکلی هوښیار دې اوس په درویده دي

ځمکې دمور له غېږې نرمه شه جانان مې ښکل کړه

یونازک ګل ، له باغ درغلی ، بې خبر ویده دی

چې د ژوندون خوږو ترخوته پاتې نه شو لاړو

هغه نازک ، ترګل ښایسته لوږ مازدیګر ویده دی

کله به پاڅي چې دزړه غوښې کباب ورکړمه

ښایسته جانان چې رانه تللی په نهر ویده دی

کاشکي دځمکې خړې خاورې مې دائم خوراک شي

چې مې دسترګو تور ، خفه له کوربهرویده دی

## ښکلا پکتیاواله

ښکلا پکتیاواله په ۱۳۷۰ ل کال کې د پکتیا ولایت د زرمت په ولسوالۍ کې زیږیدلې ده. ښکلا له ۱۳۸۲ کال څخه شعرونه وایي ، او د شعرونو یوه ټولګه یې چاپ ته چمتو ده ښکلا پکتیاوالې رسمي زده کړې نه دي کړې ، پخپل کور کې د موجودو کتابونو او مجلو له مخې یې لیک لوست زده کړی دی ښکلا خاص استعداد لري . ښکلا د میرمن کلتوري ـ ټولنیز بهیر په اوونیزو غونډو کې د ټیلیفون له لارې ګډون کوي او د ټیلیفون پر کرښه خپل خواږه شعرونه په کابل کې د میرمن بهیر ګډونوالو ته اوروي که همداسي خپلو ادبي هلو ځلو ته دوام ورکړي ده هیواد دلومړۍ کتار په شاعرانو کې به خپل ځای ډیر ژروینې.

داهم د اغلې ښکلا د شعر نمونه:

د ژوند هينداري ته تصوير د جانان نه ښکاروم

هسې نه ماته شي

طاقت د دومره ډيرې ښکلا

په دې ناتوان زړين زړګي

ځای پکې نه د ښکاريدو وينمه

اوس مې دا زړه راته تربور ښکاريږي

اوس راته ستا په سر پيغور جوړوي

نوما خو ځان تاته درکړی نه و

زړه مې دا ستا زړګي کې څه لټول

پکې بې ځای د اوسيدنې نه و

نو اوس د دې ما هميشه نه ژړوي

نو ددې دا ستا د نامې توري هير کړي

بيا مې دې ژبه دې ته نه جوړوي

درد

لاس به کړم پړمخې تانه يادوم

هسې نه زړه مې د درد ځړيکه وکړي

درد کې ښيرا په ژبه تل ملګرې

ستا درد زما دی نو ولې ګرانه

دې خپل وجود ته درد لا نور جوړ کړمه !!!

غزل

مینه یمه ژوند یمه او زه یمه

ستا یمه ستا روح یم ستا نامه یمه

ثوبه مې له ژوند امتحان اخلې

وایه جانان چې دې نه یمه

ستا دلیونۍ مینې په دښته کې

زړه یمه نا زړه یمه په څه یمه

مه راځه وجود ته مې د روح غوندې

جوړه لا د ژوند نوم یې ته

جوړه لا د ژوند غیږې ته نه یمه

لمریې ته رڼایې دژوند نوم یې ته

ستوری یم سپوږمۍ یم توره شپه یمه

داوښکو تار

ما د اوښکو تار جوړ کړی د جانان د نظر ستن ته
ما سجدو کې هم یاد کړی د ایمان د نظر ستن ته

موږ ړانده به وو ، په سترګو د جانان نظر که نه وای
خدای هر څه دي را لیږلي لمر آسمان د نظر ستن ته

سپوږمۍ غلي غلي د رومي تندریز آواز پرې شوی
بیا لاسونه لپه کړي مسلمان د نظر ستن ته

لیونۍ درخانۍ بیا د چا ټپوته یا قربان کړي
بیا رباب ګوتو ته جوړ کړ آدم خان د نظر ستن ته

جوړامیل د غزلو کړي په وربښمین تال د خیالونو
توري ټول سره راټول کړی شاعران د نظر ستن ته

غزل

هر وخت مې توبو ته په توبو کې توبې ما تې کړې
سترګو کې جانانه د شرابو پیالې ماتې کړې

راشي انتظار وم یو ه شپه مې غیرټکې پریوزي
بیا مې ارمان را ټولې شوې ګیلې ماتې شوې

کیږدي په قسم لاس د سبا نیته معلومه کړي
بس لکه بنګړ پرونی شوې وعدې ماتې کړې

چا ته پکې ځای داوسیدنې بلا ګران کارو
ستاد مخ تصویر مې د زړګي آئین ماتې کړې

ستا لکه کافر نظر د سترګو بې ستره کړې
ما ته یې پښتون نظر ته واړه پردې ماتې کړې

خیردی که تیاروپې پلوشې غیرټکې راونغښتې
بیا هم د سپوږمۍ رڼا دژوند توري شپې ماتې کړې

# غزل

خیال راته راوړی دیوچا دغمو توري دی

بیا د تیارو غیږکې دیادونو رڼه ستورې دی

حسن ته لیکل خدایه ګناه نده غزل مه لیکه

یارمې که ستایلی دی ستایلی مې ستا هورې دی

نن دزړګي هینداره کې ځان ولیده

بیا د نظرستنی ولاړې ستا په لورې دی

دلته راته پاتې بې عیزته عیزتی نشته

دلته په عیزت ولاړې واړه میندې بورې دی

واک رانه اخستی دي کمزورو په لاسونو کی

خدایه زورور راوستلي ټول کمزوري دي

شته د هر مرض دوا مینو ته خدای دا ثواب

وکړه که سپوږمی رڼا خوشته د دیوال سیورې دی

## غزل

ژوند مې لکه ځګ په سر اوبه راوړي
داسې مې نظر ته څوک ليمه  راوړي

بيا مې نن دخيال کوترې  والوتې
بيا به سوله ايز له چا نه څه راوړي

اوس مې هم د زړه اسمان کې ستورى دي
اوس جانان له کومې خوا تياره راوړي

ما هم د نظر ستنه ورکړې ده
څوک راته په تار تورې تپه  راوړي

څوک چې چاته راز د زړګي سپين وايې
بيا د دې زبانه ائينه راوړي

ستوري يې آخواکې و نارې يې کړې
دا سپوږمۍ دا يوار سپينه خوله راوړي

# يادونه

ستا يادونه لكه سيورى را سره وي
شپه تياره وي خو ټول ستورى را سره وي

دغه ځل الهام مې دو مره اوچت نه وي
خو دچا دمينې توري را سره وي

چې د چا دسترګو جنګ کې ماتې وخورم
زړه ور وم خو کمزورى را سره وي

زه چې ستا يم په غزلو د چا مينه
ښاپيرۍ د اشنا هورې را سره وي

ستا د خيال رمې دشنو ورشو په تمه
د نظر غره کې مې ښورې را سره وي

# عارفه بهارت

عارفه بهارت په کابل ښار کی په یوې درنې او روښان اندی کورنۍ کې دنیا ته راغلې او د. دژورنالیزم په برخه کې یې تحصیل کړی دی. او په رادیو تلویزیون او مطبوعاتو کې دکارتجربه لري

۱۳ کاله د کابل تایمز په ورځپانه کې دفرهنګ د برخې مسؤله وه. دهجرت سختې شپې او ورځې یې پاکستان کې تیرې کړې او په دې ترڅ کې یې د بي بي سي له رادیو سره کار پیل کړاو ډیره موده ددې رادیو په تعلیمي برخې کې دلیکوالې او جوړونکې په توګه په کار بوخته وه او لاهم دهمدې رادیو په خبري برخې کې دژورنالیستې په توګه دنده تر سره کوي هغې په دري او پښتو ژبو کې شعرونه ویلي دي او دوه شعرې ټولګې یې چاپ شوي هم دي.

داهم داغلې بهارت دشعر نمونه

خاطره

ما ته هغه شپه راپه یاده شوه اوس

ته زما کورکې یو میلمه شانتې وې

زما په زړه کې دغنچو نخادې ولیدله

زما داوښکو په دریاب لمبا دې ولیدله

ما درته وغوړاوه خپل دصداقت دسترخوان

تا ډوډۍ وخکله

کله د سترې او ستومانه شپانه

سردې پر ځمکه کېښود او بیا ويده نشولې ته

خو چه سهار راپا څیدم بیارانه تللی وې ته

او د توشک لاندې دې ډیرې روپۍ ایښې راته

زه درنه ښه خپه شوم

تا دا زما د صداقت او بې ریا دسترخوان

او د اخلاص کټورانه په بیه وکړه

ته مې بیاونه لیدې

خوله هغې ورځې تر اړسه پورې

زه درنه ډیره ځوریدلې یمه

# ته به جانان شې زما ؟

زما په روح کې یو ګداز پروت دی

زما په زړه کې سوی ساز پروت دی

زما په سترګو کې دریاب دغمو

زما اوښکو کې یو راز پروت دی

ته به جانان شې زما ؟

ستا دغه مینه به دنیا شي ماته

ستا دغه غیرة به پناه شي ماته

داستا ددوو سترګو دریاب کې یاره

ددنیا ټول غم به فنا شي ماته

ته به جانان شې زما ؟

زما په روح کې دا ګداز ګوره

زما په زړه کې سوی ساز ګوره

زما په سترګو کې غنچې دغمو

زما په اوښکو کې دا راز ګوره

ته به جانان شې زما ؟

راځینې مه پوښته دنیا مې څه ده

ویښه مې څه ده خوب رویا مې څه ده

بس دا ستم ګنه د مينې ياره

نور مې نو مه پوښته ژړا مې څه ده

ته به جانان شې زما ؟

تا مې د زړه ولولې وليدلې

تا مې د اوښکو چينې وليدلې

په کې دا ستا مينه موسيږې راته

تا په بهار کې غنچې وليدلې

ته به جانان شې زما ؟

زه د دنيا او د غمونه درد يدلې يمه

په مينه مينه کې له خلکو ځوريدلې يمه

تا به را واخلمه دنيا نه او وحشی به دې کړم

جانانه نور نو سړيتوب نه ځوريدلې يمه

ته به جانان شې زما ؟

خطبه دا ستا د خوږې مينې وايم

زه د دردونو پر منبر ولاړه

د غرونو ګل يې خو په غيږ کې زما

زه دې پر سر لکه د لمر ولاړه

ته به جانان شې زما ؟

راځه چه ولاړ شو د سپوږمۍ تر کلي

ترلري لري به مزل ووهو

دژوند په تارکي به نغمې راولو

دواړه به ګوتې پر غزل ووهو

وايه سفر کې په دې لاره به ته مل شې زما

اغزنه لاره ده جانانه پل په پل شې زما

زما دنيا وحشی ويرانه ددردونه ډکه

په دې زخمي دنيا به وايه ياره مل شې زما ؟

ته به جانان شې زما ؟

ته به جانان شې زما ؟

# عابده وردګ

عابده وردګ دعبدالباقي لور پر ۱۳۵۷ لمريز کال دميدان وردګو ولايت دچک په والسوالۍ کې په يوې
علم پالې کورنۍ کې زيږېدلې ده. عابده وردګ پخپله بيوګرافي کې ليکي :زموږ له ماشومتوب سره سم
په هيواد کې جګړې پيل شوې او په کليو کې په تېره دنجونو لپاره دښوونې او روزنې دروازې هم بندې
شوې ليک لوست يې په کور کې زده کړی دی او دکورنۍ له مشرانو يې ديني او نور پښتو کتابونه
لوستي. له ښه مرغه نيکه يې په کورکې د ښونځي په څېر چاپېريال ورته برابر کړی و اوپه ښوونه او
روزنه کې يې ډېر کوښښونه کړي دي. درحمان بابا ، کاظم خان شيدا ، عبدالقادرخان ختک ، حمزه
شينواري ، خوشال بابا اوځيني نور کتابونه يې ولوستي . دکابل اوپيښوردليکوالو لکه قيام الدين
خادم ، استاد رشاد ، اجمل ختک ، شهرت ننګيالی اوحبيب الله رفيع اثار يې لوستي ، په تيره بيا د
استاد الفت ليکنې او شعرونه پخپله لاره کې جوته بيلګه ګڼي .

عابدې وردګ همدارنګه په دوه زره دريم ميلادي کال له خپل کلي او کور څخه د ګودر مجلې چلول پيل
کړل ، چې ډېر ګټورخو په ليرې پرتو سيمو کې ډېر دروند او ګران کار دئ ددغې مجلې له منځپانګې
ښکاري چې نه خوېې دډيوکراسۍ د تقليدي شعارونو تر اغيزې لاندې راغلې او نه يې هغه څه پټ
پريښي چې زمونږ د ټولنې ښځنې ورسره مخ دي .

دعابدې وردګ شعرونه اونورې ډېرې ليکنې په وحدت ورځپانه ، مجاهدولس جريدې ، هيله او ګوربت
مجله کې چاپ شوې دي.

دعابدې وردګ نثر هم خوږ،ثليث اوله زياتېکړو خبروپاک دی. خوشاعري يې بيا حميدبابا نازک خيالې
شاعرۍ ته ځان رسوي خودشعرونو نازک خيالې او خوندورتشبهات يې بيا دومره رڼه اوښکاره دي چې
هرنالوستی ورباندې په اسانه پوهېږي. خوند ترې اخلې او ډېر ژربې د خيالونود دنيا ځولۍ ته وروړي.

تردې دمه دعابدې وردګ دښکلو شعرونو دوه ټولګې چاپ ته تيار دي چې يوه يې دآزادۍ بلهاريان اوبله
يې دخوات ګوربت شعري غونډونه دي چې زربه چاپه راووزي.

دا هم داغلې عابدې وردګ دشعرونو نمونه:

غزل

بیا د توبو بېړۍ رهي ده د توپان په لاره
له ګناهونو ګوندي واوري د ایمان په لاره

تسبې د ستوریو اړومه هرماښام په لاس کې
د مینې کلي ته رسېږم د آسمان په لاره

بې وسه هیلې مې رانغاړي په ظالمو ګوتو
ورته به کېږدمه خونبې مې د ارمان په لاره

غواړم د خیال نیلی مې ستا په بڼ کې وځغلوم
د خوشالۍ سپرلي به دروم د خزان په لاره

په سر به واړومه دا د میو ډک جامونه
چې راته سپک مې کړي غمونه د هجران په لاره

دزړه له وینو مې دژوند لارې ته بل کړ څراغ
خیر تنها ځم خپل منزل ته د کاروان په لاره

د خیال هوس او د وفا په بدرګه به ورشم
که مې قدم وربرابر شي د جانان په لاره

غزل

خيال په سمندر کې چې ارام وزما مخکې

داخپل ژوند راته خدايږوچې غلام وزما مخکې

حالاتو يم راوستې دغمونو قافلو کې

گناه يې زما مه بولئ ډک جام وزما مخکې

نظر مې نښلوي مراندې ربړې په خړماښام کې

دتورې کبږدۍ منځ کې مې تول قام وزما مخکې

زړې مې شوې پڼې دهيلو ستا ترکلي پورې

اميد مې تر منزله گام په گام وزما مخکې

توپان دارمانونو نړوي راته برجونه

دوخت تيره خنجرته مې هم پام وزما مخکې

دننگ ترخلي لوړ اودپښتو کلي اخوا

هوس به مې پروازکړي خولوی دام مخکې

# عارفه نورکلي

عارفه نورکلي د مرحوم ډګروال انور الحق لور په ۱۳۴۰ لمریز کال کې د کنړونو ولایت د نورګل په ولسوالۍ کې په یوه روښان فکره کورنۍ کې زیږیدلې ده لومړنۍ زده کړې یې د بي بي مهرو په منځنۍ ښوونځي کې سرته رسولي دي او پاتې زده کړې یې د کورنیو ستونزو له امله نه دي ترسره کړې.

داهم داغلې د شعرونو نمونه:

غزل

زه که د جانان سره پخلا شمه

بیا به ټول جهان سره پخلا شمه

زړه مې مرور جانان خوړلې دی

کوم څپې ګریوان سره پخلا شمه

څکه یې نخرې نن د ځوانۍ منم

ستا نوي ارمان سره پخلا شمه

جوړې د دردنو قافلې شولې

دې روان کاروان سره پخلا شمه

ستا به د ښایست ګلونه چیرته وي

نوي ګلستان سره پخلا شمه

څو به نورګلۍ ورته جدا ګرځي ؟

تا جنت نشان سره پخلا شمه

غونچه پښتنه

زه چې ناسته شپه او ورځ سیمه په کورکې

د څلورو دیوالونو په بند کور کې

نه څه وینم نه څه اورم نه څه وایم

یم ړنده ، کڼه ، ګونګې سوځم په اور کې

پرما باندي تش چوپړ وهي دا خلک

نورمې هیڅ نه ږغوي په کرو کورکې

دوی اخستې دي زما تقدیر په لاس کې

ما دوښمن ته ورکوي د مړه په پورکې

زه بیا هم په پټه خوله یم د غم ځلی

رنګ مې نه شو د درنښت او د زغم ځلی

زه له تا سره وهم تیاره مزلونه

ته ګڼې ډک به پیغوره زما سیوری

وله زه د دغه خدای بندګۍ ته یم

زه چې مور شم درکوم د دعا سیوری

زه دي خور یم شفقت را باندي وکړه

پرما ولي لوروې د بلا سیوري

مونږ بچې یو د ادم او حوا دواړه

ستا وجود دي یې له ما د خلا سیوري

ټيټ ګڼې وروره ! د برم څلی

رنګ مې نشو د درنښت او د غم څلي

ښځه

هره ښځه يوه مور ده

د اولاد د سترګو تور ده

ده دنيا په دې ودانه

د چا خور ده د چا مور ده

راز د مينې په کې پروت دي

منل شوې په هر لور ده

هر څه ګوري عاطفه کې

ډېره بله د هر کور ده

سختو تنګو ته ولاړه

با همته په خپل زور ده

دا د مينې ژوندون غواړي

انساني ژوند ته ټکور ده

هر څه ګوري په تړون کې

له نفاقه سوې سکور ده

د حيا سره تړلي

په رېښتيا د سپوږمۍ خور ده

نور ګلې ورته سلام کړي

ټوله مينه د ژوند شور ده

# عاليه وردګ

عاليه وردګ دعبدالباقي لور په ۱۳۶۵ کال ميدان وردګ ولايت چک ولسوالۍ په يوه فرهنګي او روڼ اندې کورنۍ کې زيږېدلې ده. که څه هم ددې دزوکړې په سيمه کې د نجونو ښوونځي نه و خو دخپلو مشرانو په مرسته اولارښونه يې بيا هم خپله لارموندلې او په خپل کور کې له خپلې نيا اونيکه څخه مذهبي ، ادبي ، تاريخي اوځينې نور کتابونه لوستلي ،اوسهم دبيلابيلو کتابونو ژوره مطالعه لرم اوخپلو همزلو کليوالو نجونو ته دې پښتو کتابونو له تدريس سره سره لومړنيو مرستو درسولو لارې چارې هم ښودلې.

عاليه وردګ له ماشومتوب څخه له شعر ويلو سره مينه لري ، ګڼ چاپ اونا چاپ شعرونه يې شته دګوربت اوګودر مجلو په بيلابيلو ګڼو کې يې ګڼ شعرونه راغلي دي ، عاليه وردګ لنډې کيسې هم ليکي چې هغه هم ګوربت او ګودرمجلو کې چاپ شوي دي شعريې خوږاورسا دی خو ترشعر يې بيانثر اوکيسې ډېرې ښې او ښايسته انځورونه پکې نغښتي اودشعرونوغونډ يې چاپ ته تياري دي.

داهم داغلې عاليې دشعرنمونه:

غزل

وطن زما ټول وران دی هر سهر وهم سلګی

شپه او ورځ سلګی او ماز دیګر وهم سلګی

خوشاله دي ټول خلک رنګارنګ جامې اغوندي

زه ګرځم سرګردانه په هر در وهم سلګی

چې بیا دې په ځولی کې موږ ته څه راوړل اختره

دې خپل صیب ته ژاړم سر په سر وهم سلګی

چې ټول کلي ته ګورمه خاموشه یې فضا ده

داځه په موږ تېرېږي لر او بر وهم سلګی

دلته خو په غمونه او دردونه په دلو دي

خوښی پسې لالهانده در په در وهم سلګی

# فرحناز رحماني

فرحناز رحماني د غلام فاروق لور په ۱۹۹۱ م کال په کابل ولايت کې دې نړۍ ته سترګې پرانستي دي او په ۱۹۹۷ م کال خپلې زده کړې د کونړ ولايت د بي بي عايشې (رض) په لومړني ښوونځي کې پيل کړې. او د طالبانو د رژيم د ړنګيدو وروسته په ۲۰۰۱ م کال کې بيرته کابل ته راستنه او خپلو پاتو زده کړو په خاطر د کابل د نسوان وحدت په عالي ليسه کې شامله شوه او شعر ويل يې د لسم ټولګي څخه پيل کړي دي.

دا يې د شعر بيلګه:

پښتنه

لوريم د افغان لوړ غيرت د زماني لرم

تللو راته پريښي دي عزت د زرغوني لرم

غرونو کې جنګيږم ملالۍ پشان بيرق لاس کې

وايم نړيوالو ته همت د رابعې لرم

لاس کې مې ده توره خپل عزت او ننګ پرې ساتمه

دلته ځوانان نشته خو د پيغلو ارادې لرم

زه د خپل پښتون د افتخار يوه ټوټه يمه

ځکه پر زړه زه سلطنت د راضيې لرم

# فرشته امرخیل

اوښکې

اوښکې وبهيږه خاموشۍ کې

ګوره غږ چې پورته نه کړې

له ښهو مې رخصتيږه

زماله مخې نه تيريږه

په ګريوان کې مې ښخيږه

که د زړه له تل مې الهام اخلې

که رنګ د هم څه سور وي

ګوره سترګې مې سرې نه کړې

دا ديو چا امانت دی

امانت کې محبت دی

محبت کې سلامت دی

محبت کې سلامت دی

## غزل

چې مې له مخه رنې اوښکې تیریدلې ګله
نرمې نرمې په ګریوان مې څڅیدلې ګله

هرې دانې بې ترنم راته د مینې کاوه
ته ورته څنګه غونډ منډ نڅیدلې ګله

زه په حیرت ستا د خیال او اداګانو کې وم
ته توره شپه کې سپین الماس وې ځلیدلې ګله

هغه راز پټ راته غوړوکې وکړه
ته چې د سترو له شاوخوانه تاویدلې ګله

سپوږمۍ تر خوا چې راته راغله راته څه ووئیل
ته رنګ الوتې له که پاڼه ریږدیدلې ګله

ما د لړګیو له پالنګ نه غلې ، غلې کتل
ته لکه شمع په سرو اوښکو ژړیدلې ګله

لکه چې پام د دامرخیلې په نظرباندې شو
ته په ژړاکې به مسکۍ شوې خندیدلې ګله

## غزل

زما د ژوند هرو شیبو کې ته یې

زما د زړه هرو نغمو کې ته یې

کله چې ولاړه شمه رباب بیا د رباب تارونه

د ده رباب هرو تارو کې ته یې

په لاس راوا خلمه شپیلۍ مایل د خولې په کنج کې

په انعکاس د ده شپیلۍ په آوازو کې ته یې

کله چې ولاړه شم د ګلو په بازار ګډه شم

د ده ګلو په پاڼو خوشبو عطرو کې ته یې

هر ماز دیګر بلبله ناسته وي کې وایې

ګرانه آشنا زما د مینې غزلو کې ته یې

غزل

نن د ژوند بيړۍ کې يو هجران دی بل هم زه يم
رهې يم پدې لارکې يو فغان دی بل هم زه يم

رواني رنې اوښکې مې د ژوند بيړۍ کړي ډوبه
را ځاځې په ګريوان کې يو باران دی بل هم زه يم

رنګونه مو چې زېړ دي دا موسم دی بدل شوی
فلک په دروازه کې يو خزان بل هم زه يم

د بې ستري تخمونه راغلل پخواني تخمونه چيرې
هک پک پدې چرتو کې يو دهقان دی بل هم زه يم

امرخيلې څه شول د کلې دود ، دستور چې ماشومتوب کې د ليدله
اوس مې په ځوانۍ کې يو داستان دی بل هم زه يم

# فريده هوډ سيفي

فريده هوډ سيفي د ۱۳۴۸ لمريز کال په ميي کې په کابل کې زيږيدلې ده خپلې لومړنۍ او لوړې زده کړې يې په کابل کې بشپړې کړې دي . هغه لا د ښوونځي په اتم ټولګي کې وه چې د کابل د ملي راډيو په ادبي خپرونو کې يې په نطاقۍ پيل وکړ. فريده په ۱۳۷۰ لمريز کال کې د کابل د طب له پوهنتون څخه فارغه شوه او په همدې کال پاکستان ته لاړه او هلته يې په بيلا بيلو بهرنيو موسسو پورې مربوط روغتيايي کلينکونو او روغتونونو کې کار وکړ دې سره يې د بي بي سي په تعليمي پروژو کې څه وخت د روغتيايي پروګرامونو د پرود يوسرې په توګه کار کړي. د ۲۰۰۳ ميلادي کال په دسمبر کې پراګ ته لاړه او هلته تر ننه د ازادۍ راډيو د روغتيايي پروګرامونو د جوړلو تر څنګ خبرونه او راپورونه وړاندي کوي.

فريده يوه د شعرونو چاپي ټولګه د شګو مزل او يوه بله شعري ټولګه يې چاپ ته تياره ده فريدې د روغيتايي مرستو په برخه کې يو کتاب چاپ کړی. د ښځو په اړوند خورې ورې ژباړې او خاطرې لري چې هيله منده ده د لويديځ مصروف ژوند ورته په دې ليکلو د کار موقع په لاس ورکړي.دا هم دا غلې هوډ سيفي د شعرنمونه:

غزل

ته چې پاڼه شوې له ځانګې نه نسکور سوې

اوس لکه نګهت زما د زړه پر دنیا خور شوې

زړه مې سمندر غوندې عادت د خاموشۍ و

ته په کې څپې څپې راوختلې شور شوې

بس چې په حواسو کې مې حل شوې نوزما شوې

ته مې د زخمي جذبو زخمي تکور شوې

ستا سترګو کې وینم خپل نیمګړې ارمانونه

اوس مې پریشانه ژوندانه ښکلې انځور شوې

پټ چې وې یورازې وې له مودونه

بس ایله مې خپل شوې چې هر ځای راته پیغور شوې

ستاد ارمانونو لارې سپینې وې ته سپین وې

زه هم په ښکاره وایم زما د سترګو تور شوې

# فضیله مروت

فضیله مروت د کونړ ولایت د اسعد اباد  او سېدونکي ده چې په ۱۳۸۵ لمریز کال جې د بي بي فاطمې له ښوونځي څخه په لومړۍ درجه فارغ شوې ده او بیا په شپږ اتیایم کال په همدغه ښوونځي کې د ریاضیاتو د ښوونکې په توګه ګومارل شوې ده ، نوموړې په همدې کال د کانکور آزموینه ورکړه چې د ننګرهار د ښوونې  او روزنې پوهنتون ته بریالۍ شوه ، چې اوس په کې په درس بوخته ده ، نوموړې وایي چې یو ځل ورته د کوریا او بیا ورته د استرلیا دوه تحصیلي بورسونه هم راغلي دي چې د پښتنې دودونو له وجې ترې پاتې شوې ده.

له شعر لیکلو سره یې له وړکوالي مینه درلوده ، چې په ۱۳۸۳ کال یې د آزادۍ تر سرلیک لاندې یو شعر ولیکه چې د خپل مور پلار  او د ښوونځي له استادانو او ټولګیوالو له خوا ډېر وهڅول شوه ، چې اوس یې نېږدې دوه  سوه شعرونه لیکلي دي ، خو اغلې مروت وایي چې لا یې هم شعر خام دی ، او نه غواړم چې د ټولکي بڼه ورکړي.

اغلې مروت وايي چې په شاعرانو کې د خوشحال بابا ،حمزه بابا ، رحمان بابا ، درویش دراني او رحمت شاه سایل شعرونه ډیر لولم او  خوښیږي مې ،او په سندرغاړو کې مې د هارون پاچا  ، رفیق شینواري غږونه ځکه خوښ دي چې د نوموړو شاعرانو شعرونه ویلي دي.

اغلې مروت د شعرلیکلو ترڅنګ ځینې لاسي کارونه لکه ، خیاطي او قالینبافۍ هم پوره لاس لري. دا هم د اغلې مروت د شعرنمونه:

غزل

زموږ په سر به وي ترڅو لاسونه
دا دوحشت د تورو شپو لاسونه

غواړي چې پاک يې کړي زموږ په لمن
په وينو سره دي د هغو لاسونه

مړاوی ګلشن را ځڅه وينه غواړي
زړه کې مې ښخ دي اغزو لاسونه

په مظلومانو مې جګ کړي نه دي
نه مو ښکل کړي د پردو لاسونه

لا خولوګې خېژي له سوو زړونو
څه به ښايسته کړم په بنګړو لاسونه

د خيال ګلونه راته راوړه مروت
رانه چاپېر کړه دوږمو لاسونه

# کامله طاهر

کامله طاهرزرلښته په کال ۱۳۵۷ لمریزکال د ننګرهار ولایت په سره رود ولسوالۍ کې د مسته خیلو په یوه روڼ انده او متمدنه کورنۍ کې زیږېدلې. خپلې لومړنۍ زده کړې یې د کابل د زلیخا په ښوونځي او بیا د مریم له لیسې فارغه شوې ده. د هیواد د کړکیچنو حالاتو له اغلې کاملې څخه د زده کړو تږکیدونکو ګل وریژاوه او هجرت ته اړه کړه.

اغلې کامله طاهر زرلښته له یولس کلونو راهیسې په هالنډ کې اوسیږي ، د ژوند د نورو مصرفیتونو سره فرهنګي چارې هم پر مخ بیایي.اغلې کامله طاهر زرلښته ښه شعر د لیکلو سربیره د شعر د کلیمه هم ډیره ښه کوي، چې د ځینو تلویزیونو سره د شعر د کلمې په برخه کې همکاري هم لري. او همدارنګه د تمثیل په برخه کې یې تاند قدمونه ایښې چې په راتلونکې کې به افغان فلم د نړۍ یوه ځلانده ممثله هم شي.

دا هم د اغلې طاهر د شعر نمونه:

غزل

لکه چې مانه څه خطا شویده

ځکه دې بل لوري ته خوا شویده

په پخوانۍ سترګو اوس نه راګورې

دادې په ستوګو څه بلا شویده

ماکړو قربان ځان د وفا لاره کې

ما سره ټول عمر جفا شویده

ته هم اوس زړه د خپل جانان ځوروې

خدایږو رقیب سره دې سلا شویده

بیا دې مخ پټ کړو په حجاب کې ځکه

ګرانه ګراني چې نن سبا شویده

ناداني کینه چرګ بانګی خو نه دئ

نه خو چغه د ملا شویده

زه لکه سیوری د رپسې چې ګرځم

زما کوګل نه د زړه غلا شویده

چې دې پرهیز د خپل دیدن نه کړمه

کومه ګیله دې زړه کې بیا شویده

لاخو ماشوم یم ستا په مینه کې زه

په ما روژه کله روا شویده

ستا د ښایست بلې ډیوې دې ځکه

دې توره شپه کې چې رڼا شویده

لیکم شعرونه په خوږه ژبه کې

پښتو سره مینه چې زما شویده

ستا د هجران طاقت خو زه نه لرم

د وصال تمه مې اشنا شویده

غزل

په مینه کې اشنا د سترګو جنګ مزه کوي
د مینې یار په خواکې ځنګ په ځنګ مزه کوي

بې ننګه بې پښتو ژوند نه مرګ ښه وي
ژوندون سره خو ګوره نام و ننګ مزه کوي

کله هم رقیب ته موسکی نه شي
دښمن ته خو اشنا خوی د پلنګ مزه کوي

زاهده نصیحت بې هوده مکړه خبر نه یې
میکده کې خو بس غړدنی او چنګ مزه کوي

واوره ای رقیبه ترکاڼي د بیزو کار نه دئ
کچکول خو بس په غاړه د ملنګ مزه کوي

میړانه دې ښو دلې غلیمانو ته په توره ده
میدان کې د پښتون د تورې شرنګ مزه کوي

## غزل

په مینه دې چې ما ته راکتلي دي

کله مې زړګي څخه وتلي دي

یاره ولې بیا دې شونډې کښلي دي

تا چې څه ویلي ما منلي دي

چا لیدلي چیرته په هجران کې دي

ستا چې په دښمن به دې پیرزونه شي

ما چې ستا په مینه کې زغملي دي

لوند ګریوان مې ګورې وایې دا ولې ؟

زړه مې چې په تاپسې ژړلي دي

مینه دې امبار د ستمونو ده

ما ورته خیمې د غم ترلي دي

ورکه مې خندا شوه د قسمت څخه

کله نه چې تا راته خندلي دي

اوس خوشه پخلا د کاملې سره

اوښکې مې جرګې درته راغلي دي

# لطيفه وردګ

لطيفه وردګ دعبدالوهاب لوردعبدالروف لمسۍ په ۱۳۵۲کال د بغلان ولايت د جرخشک په کلي کې يوه روښانه کورني کې سترګې وغړولې. خپلې ابتدايي زده کړې مې تر دولسم ټولګي پورې د بګرام هوايي ډګرپه ليسه کې په کال ۱۳۶۹ سرته ورسولې .

په کال ۱۳۷۳ د مزارشريف په فردوسي ليسه کې د ښوونکې په توګه دنده درلوده. او بيا په ۱۳۸۱کال کې دسيد نور محمد شاه مينه د نجونو په ليسه کې دښوونکې دنده واخستله او په ۱۳۸۲ کال کې دسيد جمال الدين افغان د پښتو ځانګه نه فارغه او اوس هم سيد نورمحمد شاه مينه د نجونو په ليسه کې د ښوونکې دنده سرته رسوم او د ميرمن کلتوري ټولنيزبهيرغړيتوب لرم له پخوا مې د شعرونو سره مينه لرله تر هغو چې بريالۍ شوم. اوددې بهير له خوانه ډيره بې وهڅولم ترڅومې شعر ويلو ته مخه وکړه .

دا هم داغلې د شعربېلګه:

اوښکې

دسترګونه مې اوښکې د باران په شان تويږي

ما شوم زړه مې په دې خبره ولې نه پوهيږي

جانان راځيني بيل شو زه يوازې پاتې شومه

نادان جانان مې هيڅ په نې خبره نه پوهيږي

يارمې چې نه پوهيږي ما تا سپارلی خدايه

کله چې پوهيږي زما زړګی ورنه توريږي

رندې مې شولې اوښکې دې ګريوان ته مې تويږي

زما جانان د اوښکو په ارزښت کله پوهيږي

# لطیفه لالهاند

لطیفه لالهاند بهیر د محمد علم لالهاند لور په ختهه مومنده ده په ۱۳۵۴ کال د ننګرهارولایت دروداتوولسوالۍ دحصارشاهي په کلي کې زیږیدلې او په ۱۳۶۱ کال کې د خیرخانې مینې د پنځه سوه فامیلۍ په ۱۱ نمبر عالي لیسه کې شامله اوله همدې لیسې څخه په ۱۳۷۴ کال په عالي درجه فارغه شوې اوپه همدې کال د کابل پوهنتون دژبو او ادبیاتو پوهنځي پښتو څانګې ته کامیابه شوې په ۱۳۷۳ کال په هیواد ورځپانه کې د ژباړنې په توګه دنده ترسره کړېده خود ښځواونجونو پرمخ دښونځیو او پوهنتونو او رسمي ادارو د تړلو له کبله په نوموړي څانګه کې بې لوړې زده کړې نیمګړې پاتې شوی لطیفه لالهانده په ۲۰۰۱ کې د هیواد د ورځپاڼې تر څنګ دآزادۍ په راډیوکې د ځوانانو اوپښتو ادبي خپرونې په شګو کې چینه دخپرونې د ویاندې په توګه کارکړیدئ دغه راز په ۲۰۰۲ کال کې د بي بي سي راډیو په تعلیمي برخه کې د روغتیا او ژوند د خپرونې چمتوکونکې او ویاندې په توګه دنده ترسره کړې له دوو کلو څخه ورسته یعنې په کال ۲۰۰۴ کې دآینې مطبوعاتي مرکز د راډیو په برخه کې د ښځه دژوندډیوې د خپرونې چمتوکونکې او وړاندې کونکې په توګه کار کړی د شپږو میاشتو ورسته د دوو کلونو لپاره د آریانا تلویزیون ترپیله دکورنې انځور دتلویزیوني خیرونې چمتوکونکې ډآیرکترې او ویاندې په توګه اوهمدا شان دبلې ډیوې په نوم د ادبي او دریچه روانشناسي تلویزیوني خپرونو یوې راډیویي خپرونې ویانده پاتې شوې او همدا شان د ۲۰۰۷ کال څخه را په دیخوا په اذادۍ غږ راډیو کې د خبري رپوټونو چمتو کونکې همدا شان ویانده او ژباړونکې په توګه دنده ترسره کوي خوله ډیرو بوختیاوو له کبله نده توانیدلې چې کومه شعري ټولګه چاپ کړي .

دایې هم دشعرونو بیلګه :

اي ځلانده لکه ستورې تل ځلیږه په اسمان کې

چې زه هم ستا د مخ رڼا ته

خپلې ورکې ودانې پوه کړم

ګڼې بیا به هر څه نوروي

نه به ته یې نه به زه یم

بیا به سپین سباوون راشي خو به یې څوک  د وړانګو ولته

هغه غبرګ لاس په دعا کړي

د ادم د اولاد خیر ته

تقاضا پدي دنیا کړي

دا مي واوره بیا به هله افسوس وکړي

چي یې اور زما او ستا وي

بس له دي دنیا نه تیر شه

د عقبا تو ښه کړه پیړه

چي ایمان مو هم کامل شي

ګني بیا به داسي وایې

ارمان ارمان تیره ساعته

پښیمانۍ کې څه سود نشته

## د نرګس خندا

د مستي ښکلې فضا ده هم خوښي هم مشغولا ده
هم په دنګو دنګو غرونو ښایسته شانې رڼا ده
خفه زړونه خوشحالیږي چې کنډولې آ بادیږي
بیا ناله ګلبڼ جوړیږي واري تیر اوس د تالاره
غاټول خومره بختوریږي چې د ژوند خزان دییلور
اوس یې وار په غلیم راغې که نن نده نو سبا ده
ګل په ډکو سترګو وویل چې په څه یم بختور
څما د ژوند پانګه ده ټوله دیوې خولګۍ خندا ده
بیا د ځمکې زړه پخیږي چې ګلان په غوړیدو دي
هم نوروز دی هم بهاردی هم اختر په واویلا ده
د نرګس په وچو ژوندو د موسکا ناوې نخیږي
غوټۍ ټوله سیامو دي په رنګو کې بې دعوا ده
بیا سپرلي شنې ختې راوړې د وږمو په اوږوبار
تنکې څانګې مرې تخنیږي شورماشور پرې دیورا ده
خدایه شاړې مو زرغون کړې چې د افغان وي ټپې کور
لالهانده ! لویه خدایه تاته نن په دې دعا ده

شپانه غزل

سپرلیه چې راځي له خوشحالو سره راځه

غمونه لرې پرېږده له ورېمو سره راځه

چې ښکلي شان مخونه له نظره نه شي چیرې

نذرانې لپاره ګوره سپیلنو سره راځه

سپرلیه ته خو راغلې خو هغه مالیار دې نشته

د سولې زیرې راوړه قافلو سره راځه

داخل به دې مالیار شم چې ته نه شې ناامیده

شهیدان په وینو سره دي کاناموسره راځه

ارغوان په غوړیدو کړه خزان دې ډیر خپلي

د سره غاټول د پاره سرو رنګوسره راځه

د رامبیل چامبیل ریحان ګلاب لپاره

د ګل مخ چې پریمنځل کا شبنمو سره راځه

د غره لمن کې ګوره انتظار کې درته ناسته

کوچیانو کډو لپاره د خیمو سره راځه

چې د غره لمن شي پلنه هره خوا وته ګلزار کړه

د شپانه غزل ته ګوره د شپیلوسره راځه

# مرغلره بابۍ

مرغلره بابۍ دعبدالرحمن بابی لور او د حاجي غلام حيدر بابي لمسۍ ده په ۱۳۶۳ لمريز کال دقندهار ښار په څلورمه ناحيه په يوه درنه روڼ انده او ديندار ه کورنۍ کې زېږېدلې ده

له دولسم ټولګې پورې يې زده کړې يې د زرغونې انا عالي لېسې کې کړې دي.

مرغلره بابۍ ديوه داسې منورخاندان دکاله څراغ ده چې ستر څښتن تعالی يې د هر چا نه په برخه کوي ، له نيکه رانيولې ، تر پلار ، کاکا ګانو ، ورونو او خويندو پورې يې د کورنۍ ټول غړي د پوهې په ګاڼه پسوللي دي . نوموړې خپله هم د ښه استعداد او وړتيا څښتنه او هڅانده ميرمن ده ، خو خدای (ج) بيا خپلې کورنۍ تر اکثره برخې پر دې زياته لورينه کړې دا څکه چې دشعر ليکلو روانه او ځپانده طبعه يې ورډالۍ کړې ده.

د اغلې بابۍ شعرد دې دهغه دروني سوځند او خوږمن احساس تر ټولو ښه هنداره او نماينده دی ، کوم چې ددې هيواد د هر رښتيني زوی په سينه کې د يوې ځړيکې په دود غځونې کوي.

زموږ ددې تاندې اغلې شاعرې شعرلکه څنګه چې ښايي دلطيفو او سپيڅلو ښځينه جذباتو دځلولو يو غوره مظهردی ، دا لږ ليکي خوبديې نه ليکي، لږ سوچ وهي خو پرځای يې وهي ، لږ الهام مني مګر ښه يې مني او لنډ بيان کوي ليکن عجيب يې کوي.

دا چې ډېر ځله خار دګل تر څنګ لټول کيږي همداسې د دې اغلې شاعرې هم ځای ځای داسې لوړې ژورې لري چې بايد صيقل شي او زه هيله من يم چې دا به په راتلونکي کې دخپل استعداد او شعري لورې ته د ځانګړې پاملرنې په مټ وتوانيږي چې زموږ دغريبې پښتنې ټولنې يوه نمونه ښځينه شاعره شي او دمونږ پښتو شاعرۍ کړۍ نوره هم پراخه کړي.

## څلوریځه

بلبلان په مسیدو دي

ګلان ټول په غوړېدو دي

لاله فرش سپیره بیدیا کړه

وریځې هم په اوریدو دي

## ټپي زړګی

ټپي زړګی مې د کتلو نه دی

پوښتئ یې مه د جوړیدلو نه دی

د ارزو ډکه دا دهیلو دنیا

نوریې و زغم ته دي نو پاته څه بیا

نه یې کتلي نه لیدلي دي څه

نه یې وګوتو ته لویدلي دي څه

نو ځکه دا زړه د کتلو نه دی

بابې ! هغه د رغیدلو نه دی

غزل

ښومره مزه چې په کارونوکې ده
کړي يې وجودوس په لاسونوکې ده

دژوند داستان مې بې مزه شوراته
چې کله هېر، کله يادونوکې ده

زه چې دژوند ترخه کيسه ليکه مه
داهسک همت په قلمونوکې ده

زه خودا وايمه خپل ځان سره تل
دغم ټاټوبی خوپه زړونوکې ده

چې راته يادشي دژوند توري تياري
بيا مې تصل په دې بيتونوکې ده

څه له ليمو مې رابهيږي اوښکې
لکه باران په آسمانونوکې ده

له ډيرغمو مې اوس ټپي شو زړګی
ځکه مې درد په پرهارو نو کې ده

که موپکار وي د مژګان غزلې
په پاڼې، پاڼې کتابونو کې ده

# مسکان خونابي الفت

مسکان خونابي الفت د محمد ایوب لور د محمد یوسف لمسۍ ده په ۱۳۶۲ لمریز کال هلمند ولایت د ګرشک په ولسوالۍ کې زېږېدلې ده اصلي ځای یې د قندهار ولایت دی.

لومړنۍ زده کړې یې تر پنځم ټولګي پورې د کوټې ښار کې ترسره کړي، منځنۍ زده کړې یې د هلمند ولایت په لوی آدې ښوونځي کې کړې او دولسم ټولګی یې د کندهار ولایت په عالي دارالمعلمین کې لوستی او د همدې علمي موسسې د فزیک څانګې په دیارلسم ټولګي کې پرزده کړه بوخته ده.

ځینې مفاهیم داسې دي چې که انسان هرڅومره پرې وغږېږي بیا هم د معنا سمندر نه پای کېږي په هره ټولنه کې شاعره پوړۍ ) طبقه ( ډېره وېښه پیېږندل شوې ده ، دا ځکه چې دوی ته د خپلې اجتماع نبض معلوم وي ، ترښه د ښه پیغام وړاندې کولو په هڅه کې وي او تل زیار باسي چې د انسانیت پر ګټه وینا وکړي دوی مدام ژور او ستر مفاهیم په خپلو شعرونو کې رانغاړي ، په دوی کې تر ټولو ډېرې نمرې هغه کس وړي چې عاطفه یې د ډېرلوړ خیال په وزرونو الوت کوي او مینې ته سر ټیټ کړي وي اغلې مسکان داسې یوه شاعره ده چې په کلام کې یې د مینې خوږ نسیم نږدې تر چا ډېر لګېږي.

ځینې شعر د پیغام لېږدونې جوګه ګڼي او ځینې بیا دې عقیدې ته د شعر د توهین په سترګه ګوري ، د لومړۍ ډلې په اند زموږ د دغې تنکۍ شاعرې شعر د انسانیت لپاره دی ، د بشریت لپاره دیاو د یوه داسې انسان د احساس ژبه ده چې په ډېر کړېدلي قوم کې اوسېږي ، نو ځکه یې پیغام هم خورا ستر او اوچت دی له لاندنې آزاد کلام څخه مالومېږي چې نوموړې خپل عاطفي غږ په څومره غوره انداز بیانولای شي ، نوموړې په پابنده شاعرۍ کې هم تر چا پاتې نه ده او یوه نیمه ادبي ټوټه هم لیکي ، لنډه دا چې د اغلې مسکان هنر د دې تر تنکي ژوند ډېر مشر او پوخ دی چې په لا پاملرنه او ریاضت یې د نور ښه کېدو هیله هم شته.

دا یې هم د شعرونو نمونه:

د سوال ځواب

د ژوندون له احساس پرته

دلته زورو واکداري ده

چې دنيا وه تيره شوې

انصافونه تښتيدلي

تيردم پرهغه لاره

نو غمونه و شرونه

بې پروا وه تيره شوې

هره ورځ په ورځ رازيږي

يو تياره وه غالمغال و

قافلې د بې احساسو

زه هم هيڅ نه پوهيدمه

د محشر ولورته ليږدي

هروګړي به ژړله

هرچا ځان جلا جلا کړ

د هرچانه خندا هيره

د هر چا غوښتنې نوري

بس ښکاره راته رڼا شوه

پوهان هم دي سر بداله

دهغې رڼا پر لوري

ځینې ورکې لارې نورې

په قدم قدم ورتلمه

دا دی ستا د سوال ځواب

په کراره ورنږدې شوم

ښکلې لار ښه د کتاب

یو خاموش سلام مې وکړ

خو زه دومره درته وایم

ځنې ومې پوښتل ولې ؟

مینه ژوند مینه بقا ده

دغه څه شور و غوغا ده

د دغې مینې لپاره

هغه وویل: ته راشه

پیدا شوې دا دنیا ده

نن نژدې کښینه و ما ته

پاکه مینه په دنیا ده

هغه وویل ته ولې

تر دنیا هم ګرانبها ده

نن پوښتې دغه سوالونه

دا دمينې په لفظو يې

ولې نن سپړې ته ښکلي

احساسونه را ژوندي کړل

په تيره تيغ ځيګرونه

خونابي الفت اوس پوه شوم

دغه شور و غوغاګانې

چې د سوال ځواب مې دا و:

دا شرونه و قتلونه

مينه مينه همدردي ده

د دنيا دا زنده ګي ده

# معصومه مینه

معصومه مینه منګل د محمد ګلاب لور په ۱۳۶۳ لمریز کال کې د پکتیا ولایت د ځمکنیو په ولسوالۍ کې زیږېدلې، لومړنۍ زده کړې یې په سیمه کې کړې دي او وروسته بیا په ۱۳۸۲ لمریز کال کې د کابل ښار د احمد شاه بابا په مینه کې له دولسم ټولګي څخه فارغه او د کانکور په ازموینه کې یې ګډون ونه شو کړای او اوس د برتانیې هېواد د لندن په ښار کې د خپل د ژوند له ملګري اجمل منګل سره ژوند کوي.
معصومه مینه یو څوې لري چې ایمل نومېږي.

دا هم دا غلې معصومې مینې د شعر نمونه:

غزل

ګلابي سترګې هارنګین ښکلي زلفان اوس نښته
هر څه بدل دي زمونږ بڼ کې هم ګلان اوس نښته

د بېلتانه څپېړه تل زمونږ په مخ راپورې
له بد بد تردی دا سې درد لره درمان اوس نښته

ډېرې وواورېدې هر څه کنډوالې شوه پاتې
چې موساحل ته کړي روان داسې انسان اوس نښته

سپېره مخونه وچې شونډې وچکالې ښکاري اوس
چې شینکې باغ موبیاودان نښته باران اوس نښته

زمونږ کلي مينه نه پيژني دا رلري او تارکوي پرې

چې سرکړي ښکته وکړي سوچ دا سې ګړېوان اوس نشته

نشته خوا خوږې ددې خاورې چې سمسورېې ويني

ښه وايم نشته دا سې هيله يې ارمان اوس نشته

د کنډوالو هېوادکې (مينه) آبادي غواړي تل

نشته چې خوښ درومي دوران نشته کاروان اوس نشته

غزل

له بېلتانه ډېره ببربړم هېڅ دې زنګ نه راځي

له دينه نه چې څوک دې مړګړي خيال د جنګ نه راځي

همېش خماره يم ،نشه يم ، په ځان نه پوهېږم

مينه کې تاباندې ډاډه يم بوي د بنګ نه راځي

چې رانه تاورانه لوګی اورانه ګردوګرځي

حالات بد ل ځمالالی ځماپتنګ نه راځي

زمونږه کلی کور قانون لري دستور نومېږي

چې په دارنه شي موکوځې ته لالی د ننګ نه راځي

سندرې بل ډول غږېږي نوم د غم غږوي

ډېرشوه ناخوالې اودردونه ،خوږآهنګ نه راځي

خلک ولس هم ټول پرې خوښ دي زه خوبدنه وايم

ټول ورته غوږدي هېڅ باتورموورته تنګ نه راځي

پښتنو کلتوربډای ، دوداود ستوربډای دی

ځکه اوس (مينه) مينه نه کوي په ننګ نه راځي

## ملالۍ همدم

ملالۍ همدم دارواښاد اخترمحمد محمدزايي لوراودعبدالودود لمسۍ ده. په ۱۳۶۹ لمريزکال دقندهار ولايت په شپږمه ناحيه کې زېږېدلې ده. اغلې همدم دقندهار ښار دزرغونې انا عالي لېسې فارغه څخه فارغه ده او نېږدې اوه کاله کېږي چې شعر ليکي. د ملالۍ همدم احساسات او عواطف د ښځينه قشر د يوې نماينده شاعرې په توګه د خپل ولس قام او وطن زخمي- زخمي کرېږو پر آرامه نه دي پرې ايښي ، بلکې لاترډېرو يې زياته دا ځوروليې او کړولې ده.

د خپلې پورتنۍ يادونې زيات مې دا وړاندې کولای شم چې تر ډېرو هلو ځلو وروسته چې مې کله له دې خور څخه ژوند ليک تر لاسه کړ بيا چې مې هر څه وکړل له لاندنې دردمن او فريادي شعر پرته بل څه راونه سپارل دا چې له دې کار څخه به يې موخه څه وه ، دا پوهيږې مګر تر کومه ځايه چې زما له برداشت سره تړلې ده زه فکر کوم چې زموږ نو موړې تنکۍ شاعرې به غوښتل د خپل دغه يوازيني له درده ډکه کلام په واسطه ستر ګور دخپل ملت او ولس هغه حساس او د ژړا وړ موقعيت ته متوجه کړي ، کوم چې نن پکې قرار لري.

دا هم دا غلې د شعرونو نمونه:

افسانه

زه له غمه زيږنده يم

زه د شمعې پروانه يم

زه فرياد ديتيم زړونو

زه د اوښکو سلسله يم

زه دسترې ژوندون خوا کې

يو لاروركې قافله يم

تورو شپو سره ملګرې

د خیالاتو ننداره یم

زه همدمه ځکه ژاړم

د زخمي زړه افسانه یم

مینه منګل

ماشومتوب

ماشومتوب وو لېونتوب وو

څه ښایسته دمینې ژوند وو

مور به مونږ ته افسانې ویلې

ځه ښا یسته ښایسته کېسې ویلې

هیڅ خبر له دنیا نه وو

دخوبونو پشان خوب وو

چې هروخت راته یادیږي

زړه زما بس ډیر خوږیږي

هغه ژوند نه پیدا کیږي

د خوندونو یو ژوندون وو

۲۴/۱/۲۰۰۹

گلاب

ته خوگل دگل گلاب يې

ته گلاب د گلستا ن يې

ته ښکلا ته مې ارمان يې

ته ښايسته د گل پشان يې

ژوندون گران دی د بېلتانه

بس دوزخ دی بېلتا نه

تا کې څومره چې وفاده

بس همدومره هم ښکلا ده

ته سپوږمۍ دڅوارلسمې

ته ښايسته دټول جهان يې

ته بس وخانده يو ځلې

ته مې ځان ته مې جانان يې

ته زما دژوند ارمان يې

ته مې مينه ته الفت يې

ته ټپه يې ته سندره

بس زه تانه مروره

مينه تاغواړي جانانه

ستا وفا غواړي جانانه

زړګي زما خوګيګي

بيا هيڅ نه قراريګي

زخمي مې ټول وجود شو

دوانه پيدا کيګي

احساس مې مړاوې کيګي

د ګل پشان تازه وم

خزان پر ما وريګي

ګنامي څه وه خداى

د غم باران وريګي

زه تل دا رينبتيا وايم

چې تل نه پيانيګي

# مینه صابر وردګ

مینه صابر وردګ د استاذ ګل جان صابر لور د میدان وردګو ولایت د سید آباد ولسوالۍ کې په یوه درنه روڼ انده او درنه کورنۍ کې زیږیدلې ده. مینه صابر اوس مهال د کابل په ښار کې او سیږي او د ښوونځي زده کونکې ده.

دا هم داغلې صابر وردګ د شعر نمونه:

ملي یوالی غواړو مینه غواړو

خوښي موسکا مو ښه حسینه غواړو

جنګه نامراده نور دې نه شو زغمي

دنیا د سولې ګلورینه غواړو

خالقه خدایه دعا مو ته و منه

ورورولي غواړو بهارونه غواړو

د ژوند خزان موچې پرې پای ته رسي

اغزنو لارو کې ګلونه غواړو

چې هر قدم مو وي د سولې په لور

له هر افغان داسې قولونه غواړو

چې بې شعاروي د ورورولی او یوالي

له هره خوا داسې غږونه غواړو

سپین او خیبرمې نن ناري وهي بیا

وایي جنګ نه غواړو خیرونه غواړو

(مینې) ژوندون موتور له غمه ستړی

نور له تقدیر نه خوښ وختونه غواړو

غزل

دلته د ګلو ښایست هم په بدرنګیو ستایې

دلته سپرلو ته هم همیش د بیرته تللو وایې

دلته هیڅوک دیوه اوبل په قدر نه پوهیږي

دلته غمونه هم په ډول دول سندرو وایې

دلته انسان د انسانیت په کړلو نه پوهیږي

دلته ډیر ښه په ډیرو بدو بدو خبرو وایې

دلته په زړه کې صرف کینه ده مینه نه ښکاریږي

دلته په ورایه یو اوبل په بدو کړلو ستایې

دلته کښتونه د نفرت دي چې ریښې وباسی

دلته د مینې او انسانیت د بندولو وایې

دلته انسان نه ولاهی چې ځناور جوړشوی

دلته بد فکر بد وجدان تل د وژلو وایې

دلته دروا غ دي هیڅ ارزښت ریښتیا ته نه ورکوي

دلته ریښتینو ته د خولو د پټولو وایې

(مینی) دوزخ دي دا محل او پکي سوزو همیش

دلته تیاري دي د رڼا و ګولیدلو وایې

## غزل

زړه مې د ښکلې بڼ ګلان غواړي

خيال مې بيا مينه او جانان غواړي

ژوبل احساس مې بيا چغارې وهي

د خپل رويبار له خولې پيغام غواړي

ناسوري زخم مې بيا څړيکې کوي

دغه خپل درد ته يو درمان غواړي

د ژوند سپوږمۍ ده په پټ مخ ناسته

ځان ته يو شين ښکلی آسمان غواړي

د ژوند سپرلی مې ګيلمند غوندې دی

له مانه ښکلی ګلستان غواړي

د خلوت شمعه مې رڼا وې نه کړي

شاو خوا ته ښکلي پتنګان غواړي

خپل پيغلتوب مې هم خپه رانه

له ما بنګړي او يو پيزوان غواړي

پښتون ښايست مې ګنهګاره بولي

په رنجو تور رانه چشمان غواړي

(ميني ) د ژوند لارې اغزو نيولې

رانه د ګلو يو کاروان غواړي

## مسکه شو مه

ته مې د خيال په انديښنه کې راغلې

زه درته مسکه شو مه و مې خندل

خو ته يې واکه رانه تير شولې

زه خوله دې نه خبره نه وم ګرانه

چې ته به زما د خيال نړۍ نړوې

زما د هيلو هغه ښکلې نړۍ

چې ما خوبونه پکې ډير ليدلي

ستا ښکلي حسن ته مې

پکې ښايسته ښايسته غزل ليکلي

او ستا د مينې په ښايسته باغ کې مې

ښکلي ګلونه په هر رنګ کرلي

ستا د راتلو لپاره

ټولو کوڅو کې مې ګلان شيندلي

که زه خبره وی چې

ته به زما دغه نړۍ نړوې

ماته به يو نظر رېښتيا نه کوې

نو ما به دا خوبونه ولې کوې

دا ستا لپاره به مې دا فکرونه ولې کول

او خپل زړګي کې به مې ستا یادونه ولې ساتل

زه خوله دې خبره نه وم ګرانه

ځکه نو نن د دې افسوز کومه

چې به مې ولې تا سره مینه کوه

غزل

راشه دې زخمي زړه ته درمان مې شه

وکړه لږ نظر ښکلی جانان مې شه

بیا نن را لویدلی په تیارو کې یم

ومې ځلوه ښکل آسمان مې شه

مه ځه رانه ما یوازې مه پریږده

کښینه ځنګ ته ګله او روغ ځان مې شه

ډیره موده وروسته مې موندلی یې

رامې شه لاسو ته ښکلی جام مې شه

مړاوې غوټۍ باد راغورځولې یم

پورته مې کړه ګل مې کړه باغبان مې شه

ځان او جهان دواړه مې ورک کړي دي

مخې ته مې کښینه او جهان مې شه

(مینه) دې چې تل په لوستلو خوښه شي

داسې د ښه ژوند داستان مې شه

اې زما ښکلې ځانګې

اې د ښايست پرښتې

اې د ګلونو شازادګۍ

اې زما د هيلو ځانګې

ته رانه چيرته لاړې

زه دې يوازې پريښودم

سترګې دې پټې کړلې

ما ويل په خوب ويده يې

ګوندې راويښه به شې

خو دا زړه نه منله

او نه مې فکر کړای شوای

چې ته تنکۍ لښته به

د هيلو ډک زړه سره

او په دې ځوانه ځوانۍ

خاورو ته غيږ ورکوې

زما له غيږې نه به

د هميشه لپاره

په اوږده مزل لاړه شې

نه دې اواز اورمه

اې ! د شمشاد بلبلې

پوهېږم بيا نه وايې!

ما ته په خپله ژبه

چې دې مابنام په خير

درپسې وژړېدم

خو راستنه نه شولې

اې زما ځواني مرګې ځانګې

اې زما شهيدې ځانګې

اې زما ګرانې ځانګې

الله دې درکړي جنت

هيڅ به دې هيره نه کړم

تل مې په ياد کې اوسې

اې ! زما ښکلې ځانګې

زما نازنينې ځانګې !!!

غزل

چې په سوله د چا جنګ دی بدل شوی

ګوره وخت یې هم په څنګ دی بدل شوی

د باروتو د لوګو له تنفسه

د کابل د حورو رنګ دی بدل شوی

در پسې به د زیړي په رنځ اخته شم

داغ د زړه مې نور په زنګ دی بدل شوی

د شپیلۍ غږ د شپې نه اورم په خوب کې

له زیارت نه جوړ ملنګ دی بدل شوی

زورور شوي چې په زوره دیدن غواړې ؟

که انداز دې د قلنګ دی بدل شوی ؟

ته به څه کوې د تورو په خرپا کې ؟

چې زما مخ کې دې رنګ دی بدل شوی

د غزل په سمندر مې طوفان ګډ دی

هر یو موج یې په غور ځنګ دی بدل شوی

# نظیفه شاه

نظیفه شاه د میرآغا لور د اکرم شاه لمسۍ چې په ۱۳۶۸ کال د پاکستان د کراچۍ په ښارکې زیږیدلې او پلرنی ځای یې د کندهار نوی ښار دی ، تر ۱۵ کلنۍ ورسته کندهار ته راستنه شوله او د ۱۳۸۴ مال راپدې خوا یې په کندهار کې له یوه سیمیزتلویزیون او رادیو سره په کار پیل وکړ پدغه اداره کې یې د ښځو د خپروني د پرودیوسرې په توګه دنده سرته رسولې ، او دهغه تر څنګ یې له نړیوالې راډیو بي بي سي سره په کار پیل وکړ د ۱۳۸۳ راهیسې یې دلنډو کیسو او شعر لیکلو ته مخه کړیده چې ځینې لنډې کیسې او شعرونه یې په ځینو مجلو او ورځپاڼو کې چاپ شویدي.

لومړی شعر یې داوو:

خدایه چیرې به پیدا هغه جانان کړم

چې د سوي زړه حالت ورته بیان کړم

لابه څو د نفرتو دنیا کښې اوسم

چې مې یار رانه جدا دئ څوک د ځان کړم

تر وروستۍ سلګۍ به ستا مینه پالمه

زما ګرانه درسره دغه پیمان کړم

ما تاکلی ورته خپل ژوند نذرانه دی

ګل ځواني به تر ګلرنګه یار قربان کړم

چې زخمونه او دردونه یې راکړي

بس هغه زما طبیب دئ پرې درمان کړم

که څپو راوړي ښایسته د ساحل غیږ ته

په وصلت بې تنده ماته د هجران کړم

جانانه تاته وایم

تانه به هیروي هغه تیر وختونه

تانه به هیروي هغه تیر یادونه

ځکه خو تاته در لیږمه دغه ښوبیتونه

یو څو دغم لفظونه

ګوره په یاد دې ښه دي

خوراته نه یې وایي

احساس دویرې کوي

یا خو دبل چا سره مینه کوې

یا خو دې مینه بازاري غونده ده

جانانه تاته وایم

درنه یوه هیله کوم

درته زارۍ کوم ژړا کومه

زه ستا دمینې اورسوځلې کړولې یمه

ګناه مې څه ده څه سزا را کوې

د جیلخانې په کتابونو کې دې نوم لیکم

ګوندي پیدا دې هغه ورک اسم کړم

اوس رانه هیرې دې ستا ښکلې سترګې

ستا هغه تورې مرمرینې سترګې

د سر خیرات د پښو دې خاورې شمه

له تانه جاراو چې لوګې لوګې سم

وایم دا روح مې ته ژوندون مې ته یې

خو کاش چې تا هم ګرانه زما په شانې

له مینې ډک زړګی لرلای اشنا

بیا به مې ولې ژوند غمونو کې وای

بیا به مې ولې ژوند غمونو کې وای

## وحیده وردګ

وحیده وردګ دعبدالباقي لور پر ۱۳۵۹ لمریز کال دمیدان وردګو ولایت دچک ولسوالۍ په یوه پوهه پالونکي کورنۍ کې زیږېدلې ده . په قام کرلانۍ وردګه ده. زده کړې یې په خصوصي ډول په کور کې له خپلې نیا ، نیکه او کورنۍ له مشرانو کړې دي. دپښتو ژبې دمشهورو لیکوالانو کیسې ، ناولونه ، ډرامې ، داستانونه او شعرونه یې لوستي، له هغویې الهام اخستی او خپل قلم یې هم پدې ډګر کې کارولی او په شعر او نثر کې یې دخپل ولس دردونه ، غوښتنې ، دودونه او ....

منعکس کړي دي لنډ ې کیسې او شعرونه یې په ګوربت ، هیله او ګودر مجلو کې راغلي. په شعر کې یې له پښتون ولس سره مینه ښکاري.

همدا ډول له دوه زره دریم کال راهیسې دګودر په مجله کې استازې پاتې شوې ده.

دا هم داغلې وحیدې وردګ دشعربیلګه:

پښتني مينه

رڼا به کله سپين سحرشي زموږ

پرخواره برخه مو تياري خورې دي

خوشالي نشته ده زمونږپه برخه

څه توپاني ورځې او شپې خورې دي

دچا په برخه کې خيمې نشته دي

دچا په برخه ښې بنګلې خورې دي

له چا نه چاته به ژړيږمه زه

دا پښتنې مينې ويدې خورې دي

زموږ په وينو هر څوک لوبې کوي

په هر طرف مو دښتې سرې خورې دي

موږه چې لاړو درڼا په لوري

دهغه ځای دبوي هم مرې خورې دي

پښتونه پاڅه سر را پورته کړه لږ

په قام مو سختې ورځې شپې خورې دي

# نفیسه کوچۍ

نفیسه کوچۍ دلغمان ولایت دعمرزیو ولسوالي دشکراباد کلي. په ۱۳۳۵ ل کال په کابل کې په یوه منوره کورنۍ کې زیږیدلي ده . دښونځي له وختونو د شعر سره مینه لري د اوسني شعرونو انګیزه یې له هیواد څخه هجرت او د افغانستان د مظلومو خلکو او په تیره بیا د ښځو او ماشومانو ناوړه حالت دی.

زده کړې یې دننګرهارالایي لیسه ، دکابل زرغوني لیسه ، دادبیاتو او بشري علومو پوهنځی.

دنده یې دافغانستان رادیو تلویزیون،دښووني او روزنې وزارت، اوځه لنډه موده یې د یونیسف سره دښځو دسواد زده کړې په برخه کې او بیا د لوړو او مسلکي تحصیلاتو په وزارت کې کار کړی. د ۱۳۶۰ نه تر۱۳۷۲ کال پورې د جمهوریت په مسلکي لیسه کې ښوونکې وه.

له ۱۹۹۴ کال راهیسې د اتریش په هیواد کې اوسیږي. دغه راز یې ځینې خپرونو ته لیکنې هم لیکې او د انټرنیټ په ځینو پاڼو کې یې شعرونه هم خپاره شوي دي.

ډیرغزلونه او سپین شعرونه یې لیکلي دي.

داهم داغلې کوچۍ دشعرونو بېلګه:

اسیر زړه

یو زړه دی غمجن شوی په ګوګل ایسار شوی

د تیښتې لاره یې نشته په مورچل کې ایسار شوی

دسرو شونډو خوناب نه یې پیاله کړه خپله ډکه

رندانو سره مست شو په محفل کې ایسار شوی

د غم کاروان نه بېل شو اوس یې لاره نا معلومه

سینې قفس نه والوت خو ځنګل کې ایسار شوی

بې تاب شو په تړپو شو د ( کوچۍ ) یوې مسکا ته

د زلفو کړۍ تاو شوې په اوربل کې ایسار شوی

غزل

چيرته رانه درومي راشه زما د سينې هار شه
لاس په لاس کې راکړه د ستي زړګي قرار شه

نن چې مو د بخت ستوري اسمان کې ځليدلي دي
زه به د تا شمه ، ته پتنګ د دې مزار شه

مه ځه ما د غم غولي ته بيا يو ځې مه پريږده
ستر ګو ته دې وايه چې مړې په دې ديدار شه

زه که درنه لاړم بيا به ورکه ( کوچۍ ) ورکه شي
بيا مې جنازې پسې روان غمجن سو ګوار شه

ارمان

غوږ شی ورته واوري دغه ده د پردیسو کیسه

شوه د خاورو لاندې پخوانۍ د معشوقو کیسه

خلک بدل ، کور بدل ، مینه هم بدله شوه

زخم ناسور شو ، شوه اوږده دا دغمو کیسه

چا به په خلوت کې خپل معبود سره خبرې کړې

نه هغه زاهد شته ، نه تقوي نه د سجدو کیسه

څوک مست په سرو مېیو چا د زهرو کنډولې څښلې

دواړه دې بې خوده هیروي خپلو دردو کیسه

کله د جونګړې او مات کټ راته ارمان راشي

بس ده !( کوچۍ ) هیره کړه د خپلو ارمانو کیسه

تیره

زه د دریاب منځ کې پرته تیږه یم

د زمانې د بد لولونو حال له ما وپوښتئ

ماته معلوم دې کوم چې تا لیدلي نه دي یاره

د دریابو د طوفانو کیسې زما زړه کې دي

د زمانې د بدختیو داستانونه غواړې

که د سکوت که د لذت د شیبو؟

راشه زما ترخنګ دیره شه یاره

دتورې شپې د ظالمانه تورتم

د شین سهار د ترنم غزلې

د لمرزرینو پلوشې او وړانګو

دنیکمرغۍ د سباوون افسانې

یوه یوه به درته زه ووایم

زه بې پخپله لمسوم ، هم بې په سترګو وینم

دا طوفانونه ، سیلابونه

لکه زما په خیر تا هم ورکولې نه شي

زه نه له شپې ویریږم

نه له تورتمه څینې

ډیرې پیرې مې د دریاب څپو کې

د سیلاوو موجو کې

د یوسکوت او ارامتیا سره

د سیند په غېږکې تیرکړل

یاره بې صبره نه شې

پام کړه بې واره نه شې

سینه زما په شان پراخه ساته

د طوفانو عمرډیرلنډ تیرېږي

ستا ارامتیا او درنښت

ددې څپو په منځ کې ستا د پاینښت نخښه ده

پام وکړه له تیارو مه ویرېږه

صبر وکړه

هرې تیارې پسې رڼا راځي

د تا د هیلو دنیاګۍ به هم روښانه شي

د ارمانو ګل به دې وغوړېږي

ما هیره نه کړې یاره

زه د دریاب منځ کې پرته تیره یم

یو نصیحت مې له غوږ مه وباسه

ستا متانت او درنښت ددې څپو په منځ کې

ستا د پاینښت نخښه ده

د نارنج ګل ته

اې د نارنج ګله ستا د کومې ورځې ووايم
ستا د ګل غوټۍ ، که سپېړيدو که ښکلا وستايم
تا سپيره ډاګونه ننګرهارکې معطرکړي دي
تا په خپل ښايست شينکي باغونه بهترکړي دي
ستا هره غوټۍ له ملغلرې ارزښتناکه ده
مسته شي خندا کوي خندا کې خپله بې باکه ده
شنې ونې ښايسته شي چې اميل يې سپين په غاړه شي
وخوځي نسيم د ښې ولوري ته په لاره شي
بيا په پستو ګوتو نازورکې د ونو څانګوته
ورو ورو يې را سپړي خندوي يې د ګل پاڼو ته
ستا کوچۍ لوګۍ شه ، د جنت د خيالو دنيا
سارى دې بل نشته خداى راکړې د عطرو دنيا
ژوند دې ابدي شه نيکنامي د ننګرهار يې ته

# ورښمينه سعادت

ورښمينه سعادت د خوازک احمدزي لور په ۱۳۶۷ لمريز کال د پکتيا ولايت کې په يوه درنه او روڼ انده کورنۍ کې زېږېدلې لومړنۍ زده کړې يې په سيمه کې کړې او وروسته بيا د کابل ښار د عبدالقاسم فردوسي له عالي لېسې څخه فارغه شوې ده.

اغلې سعادت اوس مهال د کاردان په نامه په يوه خصوصي پوهنتون کې زده کړې کوي او ورسره په خواکې د شمشاد ټلوېزيون سره همکاره ده .سعادت له کوچنوالي څخه د شعر له د کليمه کولو سره مينه لرله او څه موده کېږي چې له شعرليکلو او ليکوالۍ سره يې هم مينه پيدا شوې ده.

دا هم د اغلې سعادت د شعر نمونه:

د پلار ننبه

کله چې مې ياديږي زړه مې ورپسې درد کوي

کله چې مې تصوير ته هغه شيبې راځي

پام يوې اوبلې خواته اړوم نه مې هيريږئ

باربار مې هغه تصويرهغه شيبې ځوروي

زړه مې غواړي په چغو چغو وژاړم

خو چاته وژاړم

چاته مې د زړه داغونه وښيم

دلته هيڅوک زما ژړانه اوري

څوک مې ګيلو ته غوږ نږدي

خدايه څه وکړم

رانه د پلار ننبه مه اخلي

خدايه څه وکړم

چاته ووايم چې زړه مې وپسې دردکوي

زړه مې تنګ دی

خدايه څه وکړم زړه مې تنګ دی

دا دنيا راته تنګه ښکاري

زړه مې غواړي د خاورپه تل کې ارام وکړم

دا فاني دنيا بقانه لري

زړه مې غواړي سترګې پنا کړم

چې په ژوند مې نګري پوښتنه

پس له مرګه مې په ډيران واچوئ

خدايه څه وکړم زړه مې تنګ دی

# وږمه سباعامر

## غزل

تورو تورو شپو سره مې وژړل
سپینو اننګو سره مې وژړل

ماته مې د ځان په ځیرښکاره شو دوي
ټولولیونو سره مې وژړل

شابسې !پرواهم په ما نه کاندې
مېنې په شیبو سره مې وژړل

هلته یو شپونکی په بم الوتی و
دنګو دنګو غرو سره مې وژړل

بل به د (سبا ) په درشل خنګه وي
خپلو اندېښنو سره مې وژړل

ستا د پاره

شپه مې ورځ او ورځ مې شپه کړه ستا د پاره
ما دنیا ټوله خفه کړه ستا د پاره

چې تیاره وه ته رڼا ته وې محتاجه
په ځان پورې لمبه کړه ستا د پاره

د بتانو عبادت نه مې توبه ده
خنګه ما ته مې توبه کړه ستا د پاره

په دې هیله چې ته راشې زه به ګل شم
دا زغو سره مې شپه کړه ستا د پاره

کوچۍ نه پرېږدي کېږدۍ د چا له پاره
ما هغه هم په ځان وکړه ستا د پاره

ته ګل چین وې په ګلانو باندې موړ وې
ځان نه جوړه وږمه کړه ستا د پاره

# ولوله تنها

ولوله تنها د میرآغا لور داکرم شاه لمسی چې په ۱۳۶۹ کال کې د پاکستان د کوټې په ښار کې زیږیدلې او پلارنی ځای یې د کندهار نوی ښار دی ، تر ۸ کلن مهاجرت وروسته کندهار ته را ستنه شوله او د ۱۳۸۴ کال را پدې خوایې په کندهار کې له یوه سیمیز تلویزیون او راډیو سره په کار پیل وکړ پدغه اداره کې یې بیلا بیلې دندې سرته ورسولې ، او له هغه وروسته یې په کندهار کې د پکتړاډیو په نامه چې دافغانستان او پاکستان د پولې پورې سیمې پورې خپروني لري دخبریالۍ کار پیل وکړ ، او د ۱۳۸۴ کال راهیسې یې شعرونه ته مخه کړیده چې ډیر شعرونه یې په مجلو او ورځپاڼو کې چاپ شویدي .

په پیل کې یې ازاد شعرونه لیکل خو له هغه وروسته یې د غزل لیکلو ته هم مخه کړه چې دا یې هم د شعرونو نمونه:

اې یاره بختوره

سحرګاه وه ښکلې ګله

زینتي ښکلي ګلان به هرې خوا ډالۍ کیدله

اوس هغه بهار خزان شو چې ژوندون د مینې نشته

هغه مینه نور هیریږي چې په زړو کې اوسیدله

اې تنها دا درته وایم د ګلونو مینه مه کړه

دا ګلونه بې وفا دي تیروتلې یې ته خله ؟

غزل

د ژوند هره شیبه کې له ارمان سره میلمه یم

په توره شپه کې ګوره له ارمان سره میلمه یم

شپه تېوله د غمیو یو روښانه شپه کې جوړه

هروخت نه وي هنداره له خفګان سره میلمه یم

بې صبره یو ماشومه غوندې خپلې اوښکې توی کړم

د ستړي ژوندون خوا کې له خزان سره میلمه یم

اغزو لاره نیولې چې په کومه لار به ځمه

جانان مې قهرجن دی له زندان سره میلمه یم

همدلته اوښکې ، اوښکې خیرې خیرې ګریوانونه

د ښکلو سترګو خوا کې له زمان سره میلمه یم

سپیره ، سپیره کورونه تل مې زړه را سوځوینه

د ګړوبو خونو منځ کې له توپان سره میلمه یم

په زړه مې نورې نورې ولولې را پاروینه

په سیمه د نغمو کې له داستان سره میلمه یم

# ويدا حافظ

ويدا حافظ د اسدالله حافظ لور چې په ۱۳۷۴ کال کې په کابل کې زیږیدلې په اصل کې د ننګرهار ولایت دچپرهاردولسولۍ ده . ویدا حافظ له ماشومتوب څخه یې شعر او شاعري سره مینه درلوده.

داهم داغلې ویدا حافظ د شعر نمونه:

دې ژوند بهیر

ما ویل ژوند به وي خوږه هره شیبه

په ژوندون کې به غم نوي هیڅ لحظه

ژوند به تیر شي په خوښئ په خوشالئ

پوهه نه وم چې به داوي یو دوکه

ژوند مې تیر شو په غمونو په دردونو

نه مې دادنیا ګټلې نه هغه

نن سبا روان رحلت کړم له له دنیا

نه پوهیږم څه حشرته کړم توښه

اې زما سپیڅلی خدایه لویه ربه

تاته څنګه په څه شان کړمه توبه

مینه څه ده

نن په غوږمې څه اوازدي

داد میني څه اندازدي

پرې دنیا ده ښکلې ښکلي

داد عشق څه اغاز دی

چې ژوند ون ته خوندوربښي

پاکه مینه یو هرازدی

نن په زړه مې چې وریږي

دچا مینه دچاناز دی

مینه ژوند ته که دعاوي

نور پر ټولو سر فرازدی

خدایه دټولو چاره ساز دی

ویدا نوي شاعري کړي

دایې اول نوئ پرواز دی